
ناول
ابلیس
لیکوال
خواجه‌زی
Ketabton.com
https://t.me/pashtoonovels0

(c) ketabton.com: The Digital Library



#شهاب🌙 :
بِسمِ أَاللَّهِ أَاْلَّـرحـمَّنْ أَاْلَّـرحِيَم..

ابلیس عجمي کلمه ده ، د جن نوم دی او د شیطانانو د سر لښکر او د سر کښ په معنا ده ، ابالیس يې د جمع حالت دی ځیني وایي د عربي کلمې (الابلاس) څخه مشتق او د ناهیلۍ په معناده ، اصطلاحا دا د یوه پیري (جن) نوم دی ، چې د الله تعالی له حکم څخه یې سر غړونه کړې ، او د آدم نه د انکار او له خدای (ج) څخه یې تر قیامته د مهلت غوښتنه وکړه ، او هغه ته د انساني نسل د بې لارې

کولو او ناوړه لارو ته د هڅولو توان ورکړل شو . د ابو البشر جسد ته د روح د نفخې نه وروسته ابلیس آدم ته له سجدې څخه د سر غړوني په وجه ورټل شو ، او هغه به تر قیامته ژوندی وي ، له مخلصینو بنده ګانو پرته د نورو د بې لارې کولو د توان لرونکی به وي هغه ته شیطان ، عزاین ، خناس ، بوخلاف ، بومره او نور هم وایي .

***

د کوټې په مینځ کې پروت وم او د پوهنتون چیترونه او نوټونو ته مې په یو مایوسه او نامیده نظر کتل. څه بنه وختونه وه د مکتب او د کوچنیوالی، د معلم د یو تشناب اجازه ورکولو به داسې خوشحاله کولو لکه تا به چې ویل د امریکا د تلو ټیکټ یې راکړی! خو دا پوهنتون د خدای غذب دی، او بیا دا د اقتصاد پوهنځي درس بیا غذب، عندل غذب، عندل غذب دی. دولس کاله مکتب مې پدی امید ووایي چې ژوند به مې سم شي، یو کاروبار به پیدا کړم! لاس به مې خپل په جیب کې شي او د بابا د منت څخه به خلاص شم. خو بدبختی ته ګوره دا څلورم کال دی چې ناست یم پوهنتون وایم! په همدی فکرونو کې وم، چې د کور دروازه وټکیدل ژر ولاړ شوم او دروازه مې خلاصه کړه.

- سلام څنګه یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذوالفقار- عیلک سلام بنه یم.
- ولی دی دومره ناوخته کړل؟
ذوالفقار په تروش تندی پداسی حال کی چی سر یی ښکته و او خپل د بوټو د باسلو کوشش یی کوی ویی ویل: نن یوځه نوی دواګانی یي شرکت ته راوړل، ترځو چی ځای پر ځای کول مو ناوخته شول.
- غرمه دی ډوډی وخوړل؟
ذوالفقار- هو ما په شرکت کی ډوډی وخوړل.تا خوړلی؟
- ما د ماښام وریجی ګرم کړل او ومی خوړل. متاسفانه تاته پاتی نشول.
ذوالفقار- ښه دی وکړل.امتحان لری؟

د ذوالفقار د مخ ځخه می خپل نوټونو او چپټرونو پورته کړل.
- اصلی امتحانونه د اختر ځخه وروسته شروع کیږی! خو استاذ ویل یو تمرینی امتحان اخلم ترځو اصلی امتحانو ته تیاری ونیسو د هغه لپاره می درس ویل.
ذوالفقار- اهوم.
(د ذوالفقار تندی د ډیر ستړیا ځخه تروش و، سترګی یي تکې سری وه، بالښت ته یی تکیه سمه کړه او سترګی یی پټی کړل.)

- چای ځکی؟ چی درته راوړم؟
ذوالفقار هغسی پروت په پټو سترګو وویل: نه یو پیاله اوبه راوړه. په تمه یم چی د ماښام آذان وشی او مونځ وکم، بیا تر ماسخوتن پوری یو ځو ساعته ویدیږم.

( آشپزخانی ته ولاړم ترځو اوبه راوړم.)

- که کار دی ډیر و زنګ به دی وهلی وایی زه درتلم کمک ته.
ذوالفقار- یو موټر دواګانی وه. بیچاره احمد په یواځې ځان نشو ځای پر ځای کولی! مجبور زه ورسره کمک شوم.
- ولی دا نور چیرته وه؟
( زما په خبری لکه چې د ذوالفقار هیر شوی جنګ په یاد شو! چې په قهرجنه لهجه یي وویل: بل هیس ځوک نه وو. کله چی د کار وخت شی شرکت یواځې ماته را پریږدی، خو د فایدی په وخت کی بیا ځل دانی حقداران را پیدا شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- شراکت کی بیا دا خبری ډیر مخ ته راځی.
ذوالفقار- زړه یی راته ددي شراکت څخه تور کړی!.
- ستا دا ملګری یو څه بیکاره دی، زما خبره ومنه نور شریکان ځانته پیدا که.
ذوالفقار داوبو څکلو وروسته بیرته سر کیخودو او په همغه بی حوصله لهجه یې وویل: بیحده بیکاره، تنبلان، مفت خوران، دی خو زما زړه په آرامه دی چی زما برخه او حق نخوری. پر نورو کسانو باور نشم کولی.
- هوم دا خبره خو ده. اوس وقت اعتمادی خلک پیدا کول سخت مشکل دی..

ذوالفقار د ماښام د مونځ کولو وروسته ویده شو. ما هم ځانته چیپس پخه کړل، یو څه می په کړايي کی ذوالفقار ته پاتی کړل، که ماښام راویښ شو وږی پاتی نشی.او خپله لاړم کوټی ته ترڅو یوڅه درس ووایم. د یو ساعت نوټو اړولو را اړولو وروسته چی پر الف یی هم پوی نشوم د ویده کیدلو اراده می وکړل، ترڅو سهار یوڅه وختی پوهنتون ته لاړشم. د ویده کیدلو څخه مخکی می غوښتل د کور ګروپونه خاموش کړم.

د کوټی څخه چی ووتلم ذوالفقار می په د هلیز کی ویده ولیدی! جای نماز یی هم سر ته آوار پروت وو، ادی به همیشه راته ویل جای نماز آوار مه پرېږده کنه شیطانان ورباندی مونځ کوی؟! ماشوم وم او بیعقل فکر می کوی چی رښتیا خبره ده! خو اوس چی فکر کوم وایم عجب خر وم! شیطانان او مونځ؟! جای نماز می قات کو او یو کمپل می هم په ذوالفقار واچوی. د ډیر ستړیا د لاسه بی هوښه شوی وو. حتا خپل کوټی ته لا نه وو تللی. او په دهلیز کی ویده شوی وو، هوا یخه وه زړه می ونښو همداسی یی پرېږدم. ذوالفقار زما کاکا دی خو عمر یي ډیر زیات ندی یو څو کاله زما څخه مشر دی.

دا یو عامه مثله ده په پښتنو کی چی زیاتره اوقات کاکا او وراره یو عمر ویی.

خو کله ناکله داسی هم کیږی چی وراره په عمر کی د کاکا څخه مشر وی! خدای دی زما انا او نیکه دواړه جنتیان کړی! چی دتلو مخکي ذوالفقار ماته پریخودی. ذوالفقار څو کاله مخکی په ښهر کی کاروبار شروع کو او ماته یو د نجات لاره شوه چی د بابا او د هغه د تیکتاتوری نظام څخه وتښتم. تقریبا څو میاشتی کیږی چی بابا مي ندی لیدلی! زما په خیال تقریبا د کوم وخت څخه چی د لیلي څخه یی را وشړلم او راغلم د ذوالفقار کورته! د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راهیسی می ندی لیدلی؟ پداسی حال کی چی دا نور ټول قوم او خویش په هفته کی شپږ ورځی د ذوالفقار په کور دی او یوه ورځ خپل په کور! خو دا څو میاشتو کې ما نه بابا لیدلی او نه هم طاهر؟

سهار د موبایل د زنګ په آواز راویخ شوم. ژر می آواز وربند کړو، ددی زنګ د آواز څخه کرکه لرم.ساعت می وکتو اوه نیمی بجی وه. زما پوهنتون په اته بجو شروع کیدی، غوبنتل می د مخ مینځو لپاره تشناب ته لاړشم چی ذوالفقار می همغه د شپی په حال په کوم اندی چی پروت و ویده ولیدی، ماهم راویښ نکو او په آرامی باندی حمام ته داخل شوم. دلاس او مخ د مینځو وروسته هینداره کی می ځانته وکتل، خدایه زه ولی دومره معمولی او نرمال یم؟

یعنی څه کیدل که ددی بادامی سترګو له ځایه دی یو شنی یا تکی توری سترګی راکړی وایی؟ او یو څه دی جذابه زړه راښکونکی چهره راکړی وایی؟ واقعا ستا د دربار څخه څه کمیدل؟ ویښتیان می یوڅه د اوبو په واسطه پورته کړل چی هغه هم بیرته ښکته شول! خو وقت نه و نور ډیر فرمایشی می جوړ نکړل.پنځه دقو کی پوهنتون ته ورسیدم. زبیر می ولیدی چی د اول سمسټر محصلین یې په عذابه کول. دلته د خارج پشان "سینیار جونیار" خبری ډیری نشته،

خو بیا هم د اول سمسټر محصلین اخری سیمسټر محصلینو ته ډیر احترام ورکوی،ځکه همدا سینیار محصلین دی چی ورته نوټونه، چیټرونه، د استادنو خاصیتونه ،او مهمی تجربی ور زده کوی. زه په لیست کی سینیار محصل وم! خو د اول سمسټر د محصل څخه ډیر تنبل وم. البته که تکړه هم وایی بیا هم خپل نوټونه او چیټرونه می نه ورکول؟ ځکه ددی منحوسانو د راتلو سره پوهنتون زه د لیلي څخه شړلی وم. ځکه زما ثبت نام خپل د ولایت مقام څخه وو، خو دا نوی سمسټر محصلین زیاتره د نورو لرو ولایتونو څخه راغلی وه. او په لیلي که د اوسیدلو زیات حقداران همدوی وه، او زه مجبور د ذوالفقار کورته مسافر شوم. زبیر چی زه ولیدم خپل پعذابه ول یی پریښودل او زما طرف ته راغی.

زبیر۔ سلام سنګه یی؟
۔ علیک سلام ښه یم. خپله سنګه یی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبیر په خندا وویل- خوشحال...
- خوشحالی به دی یو ساعت وروسته د امتحان څخه ووینم جناب؟!
زبیر په بیغمی وویل: اول خو څه د ربښتیا امتحان ندی بلکې تمریني دی، دویم دا چې که ناکام هم شم راته مهم نده..!
- کاش زه هم یوڅه ستا پشان بی فکره وایې..؟!

زبیر- بخیلی کوی زما سره؟
- بخیلی نه غبطه کرانه. بخیلی دیته وایي چې مثلاً ستا سره یو موټر ویی او زه ووایم کاش دا موټر زما وایی؟ یعنی ستا سره نه وایی زما سره وایی! خو غبطه دیته وایي چې زه ووایم کاش داسی موټر زما سره هم وایی، او ستا سره هم! یعنی د دواړو سره!؟ دیته وایي غبطه.
زبیر په ریشخند وویل: ستا د یو خبری په معنا هم پوی نشوم! دا اپلاتی د کوم ځای زده کوی؟

په همدی خبرو د پوهنتون تعمیر ته داخل شو زموږ دواړو د ننه وتلو سره سم د طب پوهنځی محصلین چې زیاتره یې جنکیانی وه زموږ د اندی څخه تیر شول، او موږ دواړو ته یې سلام وکوو. ما په آرامی جواب ورکړو خو زبیر ښه په شوق او په لوړ غږ سترمشی وکړل او هغوی لاړه.

- زه نه پوهیږم ولی باید د اقتصاد د پوهنځی سره کوم چې څلو کی 99%99 محصلین یی هلکان دی، د طب پوهنځې چې د 60% څخه زیات محصلین یې جنکیانې دی دیوال په دیوال ویی؟
زبیر- ځکه د پوهنتون مسئولینو زموږ د شوق او امید لپاره دا شاپیریانی زموږ همسایه ګان کړی، که درس نه ویی د دوی د لیدو په امید راشو.
-مرګ
زبیر په خندا وویل: باور وکه همدا دلیل دی.
- هغه دلیل دی ستا سر وخوری درځه.

دواړه یوځای صنف ته داخل شو. ما د بیځایه اجتماعی کیدلو حوصله نه درلود. یو غټ سلام می وکوو او د ځای پسی په ګرځیدو شوم، د امتحان له ویری ټول شاګردانو حتا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



صنف نماینده لا اخیری چوکیانی صاییې کړه وه. ترڅو د استاذ د قهرجن نظر او کنځلو څخه په امان کی و اوسیږی بدبختان، په مینځنی چوکیانو کی می ځانته او زبیر ته ځای پیدا کوو. زبیر تراوسه د هلکانو سره سترې مشی کول. خلاصه چی دا بشر د ۶۵ هلکانو سره سترې مشی ونکړی او ځان معرفی نکړی نه راځی. همیشه وایی ملګری پیدا که چی په سخته ورځ دی پکار راځی. د زبیر د سترې مشی د خلاصیدو سره سم استاذ صنف ته داخل شو.

زبیر- د استاذ تندی داسی تروش دی لکه چی موږ یی د پلار میراث خوړلی!
- هوم..
زبیر- زه خو د همداوس څخه اعلان کوم چی "اینجانب زبیر احمدی" صفرررر
- ما هم خپل په جمله کی حساب کړه.
زبیر په پسخند وویل: داسی مه وایه زما ټول امید تاته دی.

موږ لا خبری کول چی استاذ د امتحان ورقی په شاګردانو وویشل، او د هیچا بهاني او زاریو ته یی توجه ونکړل ظالم! امتحان می په بترینه طریقه باندی تیر کړو، استاذ داسی سوالونه راوړی وه. چی ماته آشنا غوندی معلومیده!؟ خو په جواب ورکولو یي ډاډمن نه وم؟ د پوښتنو پرلیدو د ټول صنف رنګونه پریدلی وه او ژړا ته نږدی وه، خو د استاذ له ویری هیچا خبری نکول. کله چی می ټول هیران او پریشان ولیدل توکل مي په خدای کی هرڅه چی ذهن ته می راتلل ومی لیکل. زبیرم لکه کمپیوټر زما لیکلی شوی شیان کاپي او خپل ورقی کي پاسټ کړل، یعني د یو الف د لیکلو زحمت یي لا ځانته ورنکړی او ټول یي زما جوابونه خپل ورقي کې ولیکل..!

کله چی ما لیکل بند کړل هغه هم په خوشحالی خپل ورقی ته وکتل لکه چی یو لوی شهکار یي کړی ویی؟ د استاذ تاکل شوی وقت 45 دقی چی پوره شول لګیا شو او د ټول محصلینو ورقی یي په زوره ورڅخه واخیستل. او د هیچا زاریو ته چی ویل یي "خیر دی استاذ یو دقه نور وقت راکړه" یا خیر دی استاذ اخیری سوال دی، توجه ونکړل کله چی ټول ورقی یي خپل په لاسی بکس کی کیخودل، په یو شیطانی خندا یي وویل:

استاذ- دا امتحان شاید ستاسو په نظر تمريني وو؟ خو ماته دومره با ارزش دی لکه اصلی امتحان. ددی امتحان نمري په رینتیا امتحان کی حسابه وم.اوس نو بنه وقت خدای پامان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(د صنف څخه دوتلو په حال ټول شاګردانو استاذ ته کنځلی کول.)
زبیر- انشاالله تر کوره ونه رسیږی ګنجیه!
په خندا می وویل- مه کوه ښیرا ګناه لری.
زبیر- انشاالله چی په لاره کی موټر یي ووهی جنازه یي ورته کورته ویسی.

- تا خو ویل چی راته مهم نده چی کامیاب شم که ناکام؟ بیا ولی بیچاره ته دومره ښیراوی کوی؟
زبیر- ماته خپل ناکامی او کامیابی مهم نده. خبره دا ده چی دا استاذ زموږ سره دوه مخي وکړل! د شالخوا یي په خنجر ووهلو. پرون یي ویل تمرینی امتحان! دی او نن یی ویل د رښتیا دی؟ موږ د داسی استاذ څخه څه زده کړو؟
- سیاست!
زبیر- هو سیاست هغه هم پاکستانی دال خور سیاست.

د دواړو عصاب د امتحان څخه خراب وه. نو پریکړه مو وکړل یوځه پیاده وګرځو یو بولانی مولانی هم وخورو ترڅو فکر مو بدل شی. ما سهار لا ډوډی نه وخوړلی پنځه بولانی مو واخیستل او په لاره، لاره په خبرو، خبرو مو سره وخوړل. د غرمی آذانونه یي وکړل چی موږ لاره خپل د کور طرف ته بدله کړه. د کوم کوڅي د مخ څخه چی تیریدلو په هغه کوڅه کی واده وو. ټوله کوڅه د موټرانو څخه ډکه وه. د سندری غږ دومره زیات و چی موږ چی د لاری څخه تیریدلو په آسانی مو آوریدی د سیا نغمه نغمه سیاه توبه توبه غزل یي لګولی وو!

زبیر- ای سیا ګنجی، ګنجی ای زموږ استاذ ګنجی، ګنجی.
( زبیر د سندری سره یوځای د بیچاره استاذ نوم هم یوځای کی ښه چی زړه یي یخ شو ویی ویل: طاها څومره وقت کیږی چی واده ته نه یي تللی؟
- کم و زیات څلور کاله کیږی زما په خیال!
زبیر- افسوس نن دغه استاذ زما عصاب مصاب راخراب کړل کنه واده ته می وړی.
- ښه شو چی عصاب دی خراب دی، ځکه زه اصلا ددی ودونو حوصله نلرم.

موږ خبری کول چی ګل پوښه موټر د کوڅي په سر کی ودریدی. ددی لپاره چی لاره ورته پریږدو د کوڅي د مخ څخه مو غوښتل اندی ته شو، د ویالی (جوی.نلي) څخه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوریدو په وخت یو عجیبه شرنګها می تر غوږ شوه لکه د پای زیب شرنګ؟ د هغه شرنګها غږ فکر را خراب کوو او پښه می په ویالی کی ولاړه، غوښتل می د غورزیدو ځخه ځان بچ کړم چی مستقیم سر مي په دیوال ولګیدی، زما د اخ سره زبیر په تلوار زما خواته راوکتل.

زبیر- څه وشو؟
- اخ سر می!
زبیر زما د تندی په کتلو په قهرجنه لهجه وویل: ړوند يي؟

غوښتل می د زبیر جواب ورکړم چی به کل پوښنه موټر کی ناستو هلکانو په خندا وویل: بیچاره کل پوښنه موټر ولیدو بیخوده شو.(او هر هر خپل په خبرو په خندا شول. زبیر په تروش تندی د لاس ځخه کش کړم او د هغه ځای ځخه يي لری کړم هی لګیا و د ژبی لاندی هغه هلکانو ته کنځلی کول. د یو بمبی(نلکي) سره و دریدو او ما خپل خیرنه پښه پریمینځل.

زبیر- ښه شو چی په زوره ونه لګیدی کنه سر دی مات کیدی.
- اوسم داسی درد کوی لکه چی مات شوی؟
زبیر- څه ووایم درته تا هغه دومره غته واله ونه لیدل چی مخامخ پکی وغورځیدی؟
- باور وکه ما ورنه پښه واړول خو نه پوهیږم ولی داسی وشو؟

زبیر بد بد راوکتل خو نور يي څه ونه ویل د لاری په نیمایی کی هغه راسره خدای پامانی وکړه او خپل د کور په طرف روان شو. د زبیر د تلو وروسته هر ګام چی کورته نزدی کیدلم د زړه درزا می پورته کیدل، ترڅو چی د کور دروازی ته ورسیږم، ځل واره می شاته وکتل.

فکر مي کوی چی یو سوک راپسي دی؟ خو هیس سوک او هیس شي نه وو؟ خو بیا هم ما داسی احساس دلورد نه پوهیږم ولی؟ همدا چی دروازه می خلاص کړه یو دم فشار می صفر شو لاس او پښی مي بی حرکته شوی،د زړه ضربان می یوځلو اتیا ته پورته شوو. خپله پوی شوم چی د مخ رنګ می وپریدی" خدایه نن زما څخه څه ګناه شوی چی ته د عذاب پسی عذاب نازل کوی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه شرم بس نه وو چی اوس بل؟ خدایه که زه خبر وایی زما خبره دومره ژر ته قبول کوی! ماښام می بل شئ درنه غوښتی" د دروازی په آواز بابا را وکتل،په زړه نازړه ګامو باندی ورنږدی شوم! په بیحده آرام غږ چی کوشش مي کوی ونه لړزیږی سلام واچوی. بابا یو دقه لپاره اودس پریخود، او په ځیر ، ځیر یي را وکتل، اخیر کي په تروش تندی او قهرجنه لهجه د ژبی لاندی زما ځخه لا په آرامه لهجه د سلام جواب راکوو. ما هم نور خبری او ستړی مشی ونکړل او د کور په طرف روان شوم. که بابا راغلی حتما یو بل سوک هم ورسره راغلی؟ ځکه بابا یواځی نه راځی.او شک می صحیح ووتی ځکه په دهلیز کی ذوالقرنین کاکا او د هغه منحوس زوی فرید هم وو.

زما د سلام په آواز اولی نفر ذوالفقار وو چی په خوشحاله یي جواب راکوو.د لری ځخه مي د ټولو سره ستړی مشی وکړل خو نږدی ورنغلم ترڅو خدای نکرده بغل کشی ونکړی؟ همدا د لری ستړی مشی زه دومره په عذاب کړم چی مه وایه.د ستړی مشی د خلاصیدو وروسته د د ذوالفقار اندی ته کینستم. زما د کیناستلو سره سم فرید" زما د بدبختی هیندار" په یو طعنه لرونکی لهجه وویل:

فرید- د کاکا زو د انځر ګل درنه جوړ شوی! فکر می نکوی ستا زیارت به مو نن شپه نصیب شی؟
په یو دروغی خندا می وویل: کم نصیبی زما وه چی ژر حاضر نشوم.
فرید په طعنه وویل: هغه خبره خو ده. دا ځو وخته زه راځم ته په کور نه یي! ما ویل نن به دی هم ونه وینم؟
زما د څه ویلو مخکی ذوالفقار جواب ورکړو: ستا پشان بیکاره ندی چی هره ورځ د خلکو پر کورو وګرځی، درس لری درس وایی.

د ذوالفقار په ځواب فرید د غوسی ځخه تک سور شو، خو ذوالفقار ته د جواب راکړځه ولو جرعت یی نه درلود. ای چی زړه می یخ شو. دا منحوس انسان زما د کاکا زوی او بدبختانه اوښی دی. شین ږر بی سواد دی خو دومره کبر او تکبر لری چی حد نلری، خو ما ددی خاصیتو ځخه یی دومره بد نه راځی سومره چی دده په بیځایه شکو او زړه تور والي می بد راځی. او د ټولو ځخه بد دا چی زما پر تول کورنی ګران دی. یعنی خدایه کاش هغه ورځ زه مړ وایی کوم ورځ چی دا منحوس انسان زما اوښی کیدی، اخ چی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سومره خوند کوی ذوالفقار د ټولو بدله ورنه اخلی او همیشه یي په هر مجلس کی شرمه ویی..

البته ذوالفقار هرسوک چی ووینی بیځایه اپلاتی وایی خوله یي وربنده ویي. بابا د هلیز ته په تروش تندی را داخل شو، بغیر لدی چي چا ته وګوری یا کومه خبره وکړی خپل پټو یي د دهلیز کونج کی هوار کړو او په مانځه و دریدی. حیران شوم چی بابا ولی میلمه خانی ته د لمانځه لپاره ولانړی؟ چی د کاکا د ښځی او د لور په لیدو یی چی د میلمه خانی څخه را ووتل، خپل د سوال جواب می واخیستی. د کاکا د ښځی سره می په ډیر شرم او حیا سترې مشی وکړه. او د فرشتی په سترې مشی می یواځی سر وښوره ویی، او خپل نظر می ورنه واخیستی.ذوالقرنین کاکا د ځایه ولاړشو ترڅو مونځ وکړی، د هغوی د ولاړیدو سره ذوالفقار ماته اشاره وکړه ترڅو کوټی ته لاړشم، بیحده خوشحاله شوم ځکه هیس می زړه نغوښتی د فرید د شک څخه د ډک نظر لاندی د فرشتی سره د یو چت لاندی کینم. د کوټی دروازه لا بنده شوی نه وه چی ذوالفقار را ننوتی.

ذوالفقار زما تندی ته اشاره وکړل او ویی ویل:په تندی دی څه شوی؟ جنګ دی کړی؟
- نه جنګ چیرته و، وغورځیدم.
ذوالفقار په یو افسوس ناک نظر راوکتل او ویی ویل:ړوند هم ویی خبر نه وم؟ ته باید همدا نن چی پلار دی راتلی ډب وخوری؟ او تندی دی مات شی؟
- زه څه خبر وم چی نن دوی راځی؟

ذوالفقار په افسوس باندی خپل سر وښوره ویي،او بیا بغیر لدی چي کوم بله خبره وکړی خپل پټو یي د کوټي کونج کي آوار کی او په لمانځه ودریدی. زه هم په نالی پریوتم زړه می غوښتی چی کاش ګروپ مړ کړم او بیده شم. خو د باندی آوازونو او خبرو دا اجازه نه را کول چی په آرامه خیال خوب وکړم. فکر می خپل امتحان ته شو، نن می امتحان کی داسی ګلونه کرلی وه! چی ځل فیصده مطمئن یم دی کتاب کی ناکامه یم! که ناکامه شوم بیا هغه شرم چیرته یوسم؟

مجبور یم بیرته کورته لاړشم او بیا همغه آش همغه کاسه؟ د بابا د هغه یو نظر څخه نن داسی راته معلومیدل چی په لمانځه کی هم لاس دعا ته پورته کوی چی زه ناکام شم، ترڅو بیرته شرمنده هغه کور او د هغه لاس ته محتاج شم. خو ما هم قسم خوړلی که بیخی ناکام

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم شم او هیس کار هم پدی لوی شهر کی پیدا نکړم، بیا هم کورته نه ځم که بیخی چاره نه وه قاچاقی ځم خارج ته. ذوالفقار مونځ خلاص کړی وو او دعا یی کول. چی ماته یی فکر شو همغه حالت باندی وویل:

ذوالفقار- کوم خبری ته دیسی فکر وړی یی؟
- دوی د څه کار لپاره راغلی؟
ذوالفقار د دعا خلاصیدو وروسته پاسیدو او ماته مخامخ دیوال ته تکیه ورکړل او ویی وویل:لکه چی ذوالقرنین غواړی کور واخلی؟
-شهر کی؟
ذوالفقار- هوم.
- نو ولی خپل ښځه او لور یی راویستی؟ او بابا د څه لپاره راغلی؟
ذوالفقار- خپل ښځه یی راویستی ځکه مریضه ده.او فرشته یی د هغی د کار کولو لپاره ورسره راویستی. او پاتی شو ستا بابا!؟هغه هم لکه چی غواړی د ذوالقرنین سره یوځای ځمکه واخلی..؟
- لکه چی زه باید ددي ځای څخه هم هجرت وکم؟
ذوالفقار په خندا وویل: ولی..؟

- چیرته چی ستا د قوم پینه خلاصه شی؛ زه باید ورنه زر متره لری شم.
ذوالفقار- اوس دوي سبا ندی را روان، یواځی یو خالی ځمکه نمره ګوری خدای خبر چی شاید خوښ یی شی کنه؟
- په هر حال ما خو وویل درته چی زما او ددوی نه کیږی.کاش خبر دی راکړی وایی نن شپه د زبیر کور کی پاتی کیدلم.
ذوالفقار- بیځایه خبری مه کوه.
- زه ځان په خوب اچوم ته هم تولو ته ووایه چی هغه ویده شوی!
ذوالفقار- د شپی په آذان ته ویدیږی؟
- ورته ووایه ستړی وو.

ذوالفقار- ځان څخه ماشوم مه جوړه وه طاها! زه ځم ته هم ځو دقی وروسته راشه، ډوډی زموږ سره وخوره او یو ساعت کینه که مجلس نکوی مشکل نسته خو حتما به راځی.
- باور وکه ذوالفقار تول بدن می درد کوی ستړی یم، او ددوی بلخصوص فرید سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيځايه عصاب خراب کولو حوصله نلرم.
ذوالفقار- درته مې وويل چې مجلس او خبرې مه کوه يواځې راشه يو کونج کې آرام کينه.
- ستا دا بنې اسرائيل قوم مګه سړی په آرامه پرېږدی؟ هې طعنې ورکوی او ريشخند وهي په سړی.
ذوالفقار- بد به وکړی هر سوک چې تاته داسې خبرې کوی، زه خپله د تولو جواب ورکوم.

ذوالفقار د کوټې څخه د وتلو مخکې وويل غږ کوم د ډوډې لپاره ضرور راشې. ښه و مات تندی مې فايده وکړل کنه مجبور بايد همدا اوس تللی وايی خو ذوالفقار ويل پدې حالت دومره ددوی مخ ته مه ګرځه! نه پوهيږم نن څه راباندی وشول؟ تراوسه مې بدن يوڅه بې حسه غوندی و او ښه احساس مې نه درلود د تندی درد راباندی تبه راويستی وه، سترګې مې پټې کړی وه چې دروازه بغير له کوم اجازه اخيستلو خلاصه شوه، او فرشته پداسی حال کی چې خپل تکری خپل په مخ راکشوی په آرامه لهجه يې وويل:

فرشته- ذوالفقار اکا ويل ډوډی تياره ده راشه.
- سمده اوس درځم.
بغير لدی چې ورته وګورم سترګی مې بيرته پټې کړل فکر مې وکوو چې فرشته تللی، خو کله چې سترګی مې خلاصی کړی ګورم هغسی ولاړه ده او ماته ګوری! په کراره او مشکوکه لهجه مې وويل: کوم شئ غواړی؟
فرشته- نه..

او بيا په ډير تلوار باندی د کوټې څخه ووتل! عجب ليونی خلک دی پخدای! په ځل دعاګانو د هغه کوټې طرف ته چې دوی ناست وه ننوتم د سترخوان آوار و او ټول لکه چې ماته منتظر وه؟ يو آرام غږ باندی مې وويل "ښننه غواړم" او د ذوالفقار اندی ته کيناستم. د کاکا ښځه د فرشتې سره د کوټې په کونج کی ناسته وه داسې چې بيخی نه معلوميدل دومره هغه کونج کې ننوتلې وه، ذوالقرنين کاکا او بابا مخامخ څنګ په څنګ ناست وه فريد هم د هغوی اندې کی وو، او بد بد يی ماته راکتل، د کوټې فضا زما د راتلو سره په درنه سکوت کی تللی وه، ښه و ذوالفقار هغه حال او احوال مات کی او ويی ويل:

ذوالفقار- ست غواړی؟ بسم الله کی خپل کور مو دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ذوالفقار په خبری ټولو ډوډی خوړل شروع کړل. ذوالفقار زما د وریجو څخه یي اوڅکی (کشمش) لری کړل. زه یو داسی بیځایه خاصیتونه لرم چی کله کله خپله می ورنه کرکه کیږی. یو یی هم دا چی په وریجو کی که اوڅکی واوسیږی وریجی نخورم!؟ خو زما برعکس ذوالفقار په وریجو کی د اوڅکو شوقی و. ذوالفقار زما د کاسي د وریجو څخه ټول اوڅکی ځانته واخیستل او ډوډی خوړل یي دواړو ته آسانه کړل. ډوډی لکه چی د کاکاښځی تیاره کړی وه؟ ځکه ډیره خونده وره وه. منم چی د ذوالفقار آشپزی ښه ده خو بیا هم تر دی حده نه.

فرید- بعضی خلک دومره تکبر او غرور لری چی په ډوډی کی هم کبر کوی.پیامبر(ص) وایی هر شئ چی مخی ته درته کیخودل شو ویخوره او کبر مه کوه.

فرید پدی خبری په اصل کی زه پر غوږ وهلم، ځکه سترګی زموږ په کاسه کی وه او ویلیدل چی ذوالفقار زما د مخ څخه اوڅکی لری کړل. ور ومی کتل خو هیس جواب می ورنکوو، هیس می زړه نغواړی د داسی جاهل انسان سره خوله پر خوله شم او خپل شخصیت د ده تر اندازه ښکته کړم. خو ذوالفقار یی جواب ورکوو.

ذوالفقار- زما په نظر یو حدیث کی ویلی وه د ډوډی خوړلو په وخت بسم الله ووایست او بیځایه اپلاتی هم مه وایست، او د بل چا کاسی ته هم مه ګوری؟

د ذوالفقار په خبری ما وخندل چی ټولو داسی راته په بد نظر راوکتل چی ژر می خپل خندا سره ټوله کړه.د ذوالفقار په خبری د فرید څهره د قهر څخه تکه سره شوه. او د ډوډی تر اخره یي نور یوه خبره هم ونکړل. داسی ځان یي مولا مولا کوی. خپله په یو حدیث باندی عمل نکوی اوس راغلی ما ته نصیحت کوی بیعقل.

د ډوډی خوړلو وروسته کومک شوم ترڅو لوښی آشپزخانی ته ویسم، زه د کار کولو سره عادت وم مسافری او مجردی خبره وه، نو ځکه د کور کارونو کې تکړه وم او ځانته مي نوم درلود په پاک کاری او صفا کاری کي، تر دی حده چی زبیر به په خندا کله نالکه ویل خدای ته جنی پیدا کولی خو ستا د قواری په لیدو منصرف شو ویل هسی میره به درته پیدا نشی ګناه لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه درې لوښي مې د دسترخوان له سره پورته کړي وه که نه؟ چې فرید په یو طعنه لرونکي لهجه چې زه یې مخاطب وم ویې ویل: د ښځو او د نرانو کارونه خدای معلومداره پیدا کړي بیا زه نه پوهیږم ولې دا ځینې کسان د ځانو ښځه نرښځیان( ایجړا) جوړه ویي؟

پخدای قسم هر څونه چې زه صبر کوم دی زما په سر پورته کیږی. غوښتل می یو غاښ ماتونکی جواب ورکړم چې خوله یې بنده شي چې ذوالفقار زما نه مخکی جواب ورکړو او ویې ویل: تر همدا اوسه دی حدیثونه ویل اوس څه وشو؟ مګه ندی دی آوریدلی چې پیامبر (ص) خپل په کور کی همیشه خپل د بیبیانو سره کومک او کار کوی؟ حتا خپل کالی یي لا خپله ګنډل! اوس تاته د کور کار د نرښځیانو معلومیږی؟

د ذوالفقار په خبرې فرید خوله بنده شوه. زړه می په ده باندی نن مابنام یخ شو، ای قربان د ذوالفقار د خبرو شځه. فرید یواځې د اسلام هغه خبری زده کول چې دده په ګټه ویی نور ورته بیځایه خبری معلومیدل. ما یوڅه لوښی تر آشپزخانې ویوړل خو نور لوښی د بابا د مخ خوا کې وه او ما هیس زړه نغوښتی د هغه مخ ته ښکته پورته شم. ښه و د کاکا ښځې فرشتې ته په تلوار وویل: ولاړشه لوری شیان سره ټول که.

د کاکا د ښځې په خبره فرشته هم ژر پاسیده. او یو دقیقه کې هم د سترخوان ټول کړو او هم په کوټه یی یو جارو را کش کوو او د لوښو مینځلو لپاره آشپزخانی ته لاړه! فرشته میلمنه وه بده خبره وه چې هغي کار کړی وایی؟ خو ذوالفقار ماته ونه ویل چې لاړشم کومک ته؟ ځان سره مې وویل زه دومره لوښي ندی چې کومک وغواړی! هسی اوس هلته په تلو او د هغي سره په کمک کولو د فرید یا هم د کاکا زړه کې یوشي راځرخي او دا خیرن فرید بیا زما د کارونو او خبرو غچ زما د خور ښځه اخلی ..! هسی بی عقل دی او دا کار یي خو ځله کړی، چې زمونږ د کورنی بی احترامی او خبری یي زما په خور خالی کړی.

ذوالفقار- دا ځمکه اوس چیرته ده؟ شهر کی دننه ده که د باندی؟

د ذوالفقار په خبره د ذوالقرنین کاکا د خولی کشک خلاص شو، اوس نو خدای دی خپل پر خدای دی چوب کی. نیم ساعت کی چی ذوالقرنین کاکا خبری کولی ما د کړکی ښځه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیولی فرش، غالی،نالی، بالښتونه، ټول مې د نظر څخه تیر کړل. نور مې د صبر کاسه ډکه شوه، ذوالفقار ماته یوائې یو ساعت یاد کړی و! او زه تقریبا دوه ساعت کیدل چې هلته ناست وم. ذوالفقار په مجلس کې ګرم راغلی و بغیر لدی چې څه ووایم خپل د ځایه پاسیدم، ذوالفقار را وکتل خو څه يي ونه ویل. خپل کوټې ته لاړم.

هوا یخه وه خو زما ګرمی کیدل داسې احساس مې کوی لکه چې تبه مې ويې. خپل د کوټې کړکې مې خلاصه کړه ترڅو یخه هوا راشي کومه خاصه منظره د کړکې د خلاصیدو سره نه معلومیدل، چې وغواړم تماشا ته يي ودریږم نه کوم باغ و نه دریا او نه هم کوم کور، یوائې یو پوخ دیوال و په شین رنګ. چې د هغه رنګ هم د ډیر باران د لاسه تللی و. موبایل مې چارج کې کیخودو او خپل په ځای پریوتم تراوسه د ماښام نهه بجې لا نه و شوی خو زما بیحده خوب راتلی. یو ساعت همداسې په ځای کې پروت وم او بیځایه فکرونه مې کول چې دروازه خلاصه شوه، ذوالفقار د چایو ترموز په لاس را ننوتی.

ذوالفقار- چای مې درته راوړل.
- مننه په زحمت شوی خو ما چای نه څکل.
ذوالفقار- دا کړکی تا خلاصه کړی؟
- هو.
ذوالفقار- ولی؟
- ګرمی مې کیدل.
ذوالفقار په حیرانتیا وویل- پدی یخ کی ستا ګرمی کیدل؟
- اهوم.
( ذوالفقار نور څه ونه ویل او د ماښام پشان ماته مخامخ دیوال ته يي تکیه ورکړل او کیناستی. د چای پیالو د ډک کولو په حال یی ناساپه وویل)

ذوالفقار- یو پوښتنه درنه کوم رښتیا جواب راکه؟ ته په فرشتی مئین یی؟
یو څو دقو لپاره چوپ شوم بیا مې کرار وویل: نه ولی؟
ذوالفقار- رښتیا وایی؟ ستا بیخی هغه نده خوښه؟
- بده جني نده خو زه ورباندی مئین نه یم.
ذوالفقار- بیا په څه خاطر خپل پلار ته دی ویلی وه چې هغه تاته وغواړی؟ که مئین نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویی؟

د ذوالفقار پدی خبره هغه وختونو را یاد شول او سخت زور یې راکړو زه څو کاله مخکې بیحده خر وم، یعنی زما کارونه د خرو څخه لا بتره وه، په یو کرار او شرمنده لهجه مې ذوالفقار ته چې دوه سترګې ماته نیولې وه ومې ویل: کله چې ذوالقرنین کاکا د فرید لپاره طیبه وغوښتل زه و ویریدم، ما فرید پیژندی پوهیدم سومره ظالم او په زړه تور انسان دی. هر سونه چې بابا ته می وویل چې طیبه فرید ته مه ورکوه. هغه زما خبره و نه منل، ویل یې وراره می دی ورور می زما کورته راغلی زه ورته نه نشم ویلی.کله چې پوی شوم د بابا خبره نه بدلیږي..

ذوالفقار د دی خبرو څخه ډیر تیز وو چې زما د خبری مطلب وانخلي په کلکه لهجه یې زما خبره پری کړل او ویې ویل: تا هم ځان سره وویل راځه د هغه خور سره واده وکه، که ستا په خور یې ظلم زیاتی وکی ته د هغې د خور په عذاب ورکولو ورنه غچ واخلی؟

د ذوالفقار په خبره مې سر ښکته واچوی چې هغه بد بد راوکتل او په افسوس باندی خپل سر راته وخوځه ویې، څو کاله مخکې ما په همدی فکر بابا ته وویل چې غواړم د فرشتې سره واده وکم نه کوم مینه وه نه کوم بله خبره. خو اوس پښیمانه یم او شکر باسم چې هغوی ماته "نه" وویل او فرشته یې رانکړل، کنه ما خپل په بیعقلی دوه کورنه خراب کول.

ذوالفقار- په هر حال ښه دی چې عاشق ماشق نه یې، ځکه زه اصلا ددی خبرو عصاب مصاب نلرم.
- مثلا که اوس ما تاته ویلی وایی چې هو زه وربانذی مئین یم! او د هغې څخه بغیر ژوند نشم کولی، تا څه کول؟
ذوالفقار خپل د چای پیالي څخه د غړپ کولو په حال وویل: یو سم صحیح کتک مې درکوی چې عشق او عاشقی دی د سره پریدلی وایی.
- هی قسمت! د خلکو کاکا ګان خپل د وراره ګانو لپاره څه کارونه چې نکوی، او ته ددی لځایه چې ما خپل مینی ته ورسوی وایی ډبوم دی؟! هی هی بخت!؟
ذوالفقار په خندا وویل: خلک خلک دی؟ زه زه یم.
- د ربښتیا کومک دی نکوی چې زه خپل مینی ته ورسیږم؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذوالفقار- بنده که خوله دی دومره مینه مینه مه وایه، لکه چی د رښتیا مینٔن شوی یی...؟

- ته فکر وکه د رښتیا مینٔن شوی یم او راشم تاته ووایم څه کوی؟
ددی څخه مخکی چی ذوالفقار جواب راکړی د کوټی دروازه په آرامه خلاصه شوه او فرشتې په ریږدیدلي غږ وویل: کاکا ادی وایي نور کمپلونه لری؟ هوا یخه ده یو کمپل کی ګزاره نکیږی.
ذوالفقار- ته ځه زه اوس خپله راځم او کمپلونه هم راوړم.
فرشته- سمده
د فرشتې د تلو وروسته په مشکوکه نظر می ذوالفقار ته وکتل او ومی ویل: ستا په نظر زموږ خبری یي آوریدلی دی؟
ذوالفقار- نه پوهیږم؟ یو خو ته داسی چغې وهی مینٔن یم، مینٔن یم! چی ټول کلی دی خبر کی!

ذوالفقار یو څه ماته بد بد را وکتل او بیا د کوټی څخه ووتی ترڅو هغوی ته کمپلونه ورکړی، زما پیاله چای یخ شوی وه خو حوصله می نه درلود چی بدل یي کم، هغسی می په سر پورته کړل او بیرته خپل پر ځای پریوتم. راته مهم نه و چی فرشتې زما خبری آوریدلی کنه؟ دا ټول خبری څلور کاله مخکی زما لپاره خلاصی شوی، او زه اوس شکر باسم چی کوم خر توبی می نده کړی. فکر می بابا ته شو نن ماښام یوه خبره خو لری حتا یو نظر یی لا زما طرف ته ونکوو. تقریبا دری نیم کاله مخکی د کلی څخه راغلم شهر ته پوهنتون ویلو په بهانه خو اصل کی د بابا د نظر څخه می ځان بچ کوی. نه می غوښتل هی سپکی سپوری واورم، داسی سختیګری پرما کول چی کله ناکله احساس می کوی چی شاید زه جنی یم!؟

یو ملګری مي په درست کلی کی نه درلود! یعنی نه یی راته پریخودو ماښام اذان څخه بعد که کورته نه وایی راغلی قیامت یي راباندی جوړه ویی، د شپی د لس بجو څخه وروسته زما کوټی ته راتلی که ویخ یي لیدلی وایی قیامت کبرا یې جوړه وی ،یعنی ژوند نه وو راته زندان یی جوړ کړی وو. دا ټول شیان بیا هم یو رقم د زغمولو وه خو یو خاصیت یی زه مجبور کړم چی ځان د هغه کور څخه لری کړم،اول کال چی شهر ته راغلی وم هر هفته یو وار په یو بهانه یی کورته غوښتم خو وروسته وروسته یو متل دی وایی د سترګو پناه د زړه هم پناه کیږی. خلاصه چی غوښتل یی شول هفته کی یو زنګ، بیا یو میاشت،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دری میاشت،تر دی چی دا څو میاشت می بیخی نه خبری کړی وه،او نه می لیدلی وو. د بابا په اړه می فکر کول پریخودل.

سترګی می د خوب څخه درنی شوی وه چی د دروازی د خلاصیدو آواز راغی څو ثانی لا نه وه تیر شوی چی کړکی بنده شوه. فکر می وکړ چی ذوالفقار راغلی! خو ناسابه د پای زیب د شړنګها آواز می تر غوږ شو، همغه د غرمی شړنګها وه؟ غوښتل می سترګی خلاصی کړم خو سترګی می لکه چی موښتی وه نه خلاصیدی، د پای زیب د شړنګ آواز بیحده عجیبه غوندی و! ما خپل په عمر کی داسی آواز تر غوږ شوی نه وو. د پای زیب د شړنګها آواز وار په وار رانږدی کیدی یو دم هغه آواز قطع شو، د څو ثانیو خاموشی وروسته یو نرم او بیحده لطیف او ملایم لاس مي خپل پر مخ احساس کي چي زما د تندی څخه یي زما ویښتیان لری کړل، او زه نور په ځان پوی نشوم....

د څو کسانو په آرامه خبرو چی بیحده د مچی د بنګ بنګ پشان و یوڅه هوښیار غوندی شوم.

- دا هلک موږ ته خطر جوړیږی.
- ربښتیا وایی دا دنورو هلکانو پشان ندی.
- موږ څه کولی شو دا اوس انتخاب شوی چاره نشته.

دا خبری می یواځی یو څو دقو لپاره واوریدل او بیا خوب راباندی زوره ور شو او ویده شوی وم. کله چی راویخ شوم ګورم دوه کمپله پر ما باندی دی! تر کومه ځایه چی یاد ته می راځی ما هیس شی پر ځان نه و اچولی! هوا تیاره وه او داسی معلومیده لکه چی سهار د آذانو وخت دی، زما اندی ته ذوالفقار ویده وو " دی ولی دلته ویده شوی؟ ولی خپل کوټی ته ندی تللی؟" په خوب کی هم څهره یي عصبی غوندی وه.

بدن می داسی درد کوی لکه چی څو نفرو ښه سم ډبولی یم! کمپلونه می د ځان څخه لری کړل، بیحده تږی وم زما عادت و همیشه د ماښام لخوا دری څلور پیالی چای وڅکم. خو ماښام یواځی یو یخه پیاله چای می څکلی و، سر درد می شاید د چای نڅکلو د لاسه ویی؟

خو بدن درد می مطمئن وم چی اول خو د هغه ډب، دویم په یخ کی د ویده کیدلو د لاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو؟ په هر حال وایی په گرمه وینو کی سړی په درد نه پوهیږی؟! د ذوالفقار عادت و دواګانی ،پاسمانونه يي د آشپزخانی په الماری کی کیخودل، زه هم آشپزخانی ته ولاړم ترڅو د زبیر په خبره یو پیناډولک وخورم چی درد می کم شی. کله چی د دواګانو قوطی می پیدا کو سر درد می هم زیات شو او مجبوره یو دانه ډسپرین گولی می هم خولی ته واچول. چاي می په گاز کیخودو او همدلته په آشپزخانه کی کیناستم. زما د کیناستلو سره سم یو توره پیشو آشپزخانی ته راددننه شوه.

چی تراوسه می دا پیشو نه و لیدلی؟ شاید تازه د کوم ځای څخه راغلی ویی، زه عادت لرم پیشوګانو ته ډوډی ورکوم خو تراوسه هیس کله یو پیشو دا اجازه نه و راکړی چی پر هغې لاس تیر کړم! او زما په نظر په تولو پیشوګانو کی مغروره پیشو توری پیشو دی؟! خو دا توری پیشو زما د پښو سره یی میاو میاو کوی لکه چی غوښتل یی زه وربادی لاس تیر کړم او مینه ورکړم؟ دومره نازولی پیشو وه چی په دوه دقو کی زما سره عادت شوه، او زما انډی ته ګرځیده راګرځیده.

آشپزخانی دیوال ډیر ښکته و د خارجیانو په خبره اوپن اشپزخانه وه. تول د هلیز او کوټې د آشپزخانی څخه په راحته ښکاره کیدل.د چاي څکلو په حالت کی ناساپه په دهلیز کی دننه تشناب ته چی یواځی د حمام کولو او مخ مینځلو لپاره وو فکر شو، دروازه یي په آرامه باندی خلاصه شوه ما فکر وکو چی شاید بابا یا ذوالقرنین کاکا وی! او د اوداسه لپاره تشناب ته تللی؟ منتظر وم چی ووینم څوک دی چی دومره وخته پاسیدلی؟ خو دروازه بیرته آرامه بنده شوه، بغیر لدی چی څوک راته ښکاره شی؟

زه لا همغسی ولاړ وم او منتظر چی دراوزه یو وار بیا په غږ،غږ خلاصه شوه او بیا بیرته بنده؟ دا وار می زړه ته ویره وولیدل، ځکه که ذوالقرنین کاکا یا بابا وایی په اول وار راوتل. که څوک په تشناب کی نشته نو دروازه چا خلاصه کړه؟ که ووایم شمال و او باد دروازه خلاصه کړه! نو بیرته بنده چا کړل؟ په همدی فکرو کی وم چی د تشناب دروازی لاستی پورته ښکته شو! داسی لکه چی یو نفر کوشش کوی دروازه خلاصه کړی خو نشی کولی، د ډیر ویری څخه هک حیران ځای کې ولاړ وم، چی د میلمه خانی دروازه خلاصه شوه او بابا راووتی د بابا د راتلو سره د تشناب دروازی د لاستی پورته ښکته کیدل بند شول. او د پیشو میاو میاو کول هم بندل شول،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل د پښو سره کوم ځای کی چی پیشو ځان راباندی تاو را تاو کوی وکتل خو هیس شئ نه وو؟ د ویری څخه می رنګ تک ژیړ اوختی و، بابا لکه چی ماته فکر نه وو ځکه آشپزخانی ګروپ خاموشه و او یواځی د دهلیز ړنا دیخوا راتله، که چا سم پام کړی نه وایی زه ورته نه معلومیدم. خو ماته ټول سم صحیح معلومیده بابا خپل پتو په ځان وپیچی او ددهلیز څخه ووتی، لکه چی تلی جومات ته د لمانځه لپاره!؟ د بابا د تلو سره بغیر لدی چی د تشناب دروازی ته وګورم کوټی ته ننوتم. " ضرور می خیال او وهم کړی؟ اصلاً د تشناب دروازه خلاصه نشول ټول زما خیال او وهم وو" په همدی خبرو می ځانته دلداری ورکړل او خپل پر ځای پریوتم.

د کوچنی والو غوندی کله چی ویریدم نو خپل سر می د کمپل لاندی کوی، او فکر می کوی پدی کار نور هیس شی ماته نقصان نشی را رسولی. همغسی ځان می پیچلی و چی ویده شوی وم. ذوالفقار سهار په اوه بجو په آرامه راویښ کړم او راته یی وویل؟ ولاړشه سهار ناری وکه بیا لاړشه پوهنتون ته. او ما د ډوډی نخورم او پوهنتون حوصله نلرم په ویلو هغه رخصت کی او بیرته ویده شوم.

داخل چی راویخ شوم ساعت د غرمی یولس بجی وه د نورو ورځو په پرتله نن بیحده ډیر ویده شوی وم. خو تراوسه می د ستړیا احساس کوی زړه می غوښت تر ماښامه په همدی ځای کی پریوځم خو د معدی په غړونو مجبور په ځل زحمته دځایه پاسیدم، د باندی د هلیز څخه د تلویزیون آواز راتلی چی د جاوید عامرخیل سندره پکی لګیدلی وه، په کرار د کوټی څخه. ووتم چی د کاکا ښځه می ولیدل په آرمه می سلام ور واچوی د کاکا ښځی زما د لیدو سره ژر خپل تیکری پر سر سم کی او ماته یی په ځیر ځیر راوکتل.

کاکا ښځه- ته کار نلری چی تر غرمي ویدیږی؟

اوه خدایه یو همدا پاتی چی ماته نصیحت وکړی، نور خو ټول کلي او ولس پر ما باندی خپل غاړه خلاصه کړی. نه می غوښتل تنده لهجه ورسره وکړم یا کومه بی ادبی په همدی خاطر په ډیر آرامش می ورته وویل: نن می کار نه درلود او یوڅه ستړی هم وم، په همدی خاطر نن د نور ورځو په پرتله ډیر ویده شوی وم.

د کاکا ښځی نور څه ونه ویل یواځی تندی تروش شو. فرشته په آشپزخانه کی لګیا وه لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د غرمې لپاره يې ډوډۍ تیاره وله.

کاکا ښځه- د سهار ډوډۍ خو تیره شوه. د غرمې ډوډۍ ته صبر وکه.

د سر په ښوره ولو مې د کاکاښځې خبره تایید کړل. تشناب طرف ته مې مخ کې چې د سهار کار په را یادیدو یوځه دوه زړه شوم، خو چاره نه وه مجبور په بسم الله ویلو تشناب ته داخل شوم. د لاس او مخ مینځلو وروسته مې په هینداره کې ځانته وکتل د تندی زخم می ښه شوی و؟ یعنې پوره ښه شوی وو؟ نه ټپ یې معلومیدی او نه درد یې کوی؟ یوځه حیران شوم ځکه د سپین سرو په خبره زما غوښه ترخه وه! او هیځکله دومره ژر زخم می نه جوړیدی؟ ډیر فکر مې ونکړو او د تشناب څخه را ووتم. پرون چې غورځیدلی وم د زنګون برخه پرتوګ مې خیرن شوی، او ما دیته درسته شیبه فکر نه وو شوی.

خو اوس د کاکا ښځې ورته په زیر زیر کتل په همدی خاطر لاړم کوټې ته ترځو خپل کالی بدل کړم. د کالی باسلو او اغستلو په موده کې مې داسې احساس کوی لکه چې یو سوک راګوری؟ فکر مې وکی شاید فرشته ویې چې راګوری؟ خو نه دومره بیحیا هم نده چې وغواړی دا کار وکړی. تر غرمې ډیر وخت پاتې و بیرته خپل پرځای پریوتم زبیر راته دوه زنګه او څو مسجې کړی وه، خو زما موبایل خاموش وو او لیدلی مې نه وه، دوه مسجه یې د ماښام وه لیکلی وه "چې کورته ورسیدې مسج وکه "دویم مسج یې هم د شپې لس بجو ته کړی و. " پوهنتون ته راځې؟ " او یو زنګ یې هم سهار اوه بجو ته وهلی و. او اخرې مسج یې درې ساعته مخکې کړی و چې " مړ شوی لخیره جنازه ته دې درشم؟ "مسج مې ورپسې وکوو ترڅو مطمئن شی زما د جنازې خیرات ندی.

- مننه د دومره احساساتو څخه دې، چې زما لپاره دې استفاده کړل ژوندی یم.
( یعنې د زبیر نوم باید د ګینس په کتاب کې د بیکاره ترینه انسانو په ډله کې ولیکل شی.قسم په خدای چې مسج لا تللی نه و چې جواب یې راغی؟!)

زبیر- ما ویل زه دومره بخت کله لرم چې ستا د جنازې پلو وخورم. ولی پوهنتون ته رانغلی؟
- حوصله مې نه درلود یوځه ښه هم نه وم.
زبیر- کور کې یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اهوم
زبیر- بیکاره یی؟
- هو.
زبیر - نو راشه د غفور دوکان خواته زه هلته یم، و دی ګورم څه مرګ دربانذی شوی.
- ته مګر پو هنتون کی نه یې؟
زبیر- نه. ته راغلی زه هم ولا نړم حوصله می نه درلود. دیخوا راځې؟
- هو درځم.

د کاکا د ښځی او فرشتی د دروند نظر لاندی اوسیدو څخه ښه راته معلومه شوه چی لاړشم.که د کاکا ښځه او فرشته نه وایی، اوس می ځانته یو دوه هګی پخه ول او په لوږ غږ د سندری په آوریدو می په آرامش باندی ډوډی خوړل. خو ددوې په اوسیدو دا کار ناممکن وو. همدا چی د کوټی څخه د وتلو اراده می وکړل فرشته پتنوس په لاس کوټی ته راننوتل، پتنوس کی یوپیاله چای، وچه ډوډی، او په یو کوچنی قاپ کی یوڅه پنیر او مربه وه. چی ذوالفقار ځانته اخیستی وه او ما پدی څو میاشتو کی ورته کتلی لا نه وه خوړل خو لری.

فرشته - ادی ویل تاسو ډوډی وخوری ځکه موږ د غرمی ډوډی لپاره بابا او ذوالفقار کاکا دوې ته انتظار کوو.

( پنیر او مربا ته می وکتل او دی خبری ته می فکر وکو چی دا اوس ددوي په نظر ډوډی ده؟)

-زه یې نخورم.
فرشته- ذوالفقار اکا ډیر تاکید وکو چی ضرور تاته ډوډی درکو.
داسی ویل تاکید وکړو تاته ډوډی ررکو لکه چې زه کوم حیوان وم ؟! په غوسه مې وویل: ومی ویل نه یې خورم.
زما په تنده لهجې فرشتې یو نظر راوکتل بیا یې کرار وویل: که دا شیان نخوری یوڅه په تمه شه،اوس د غرمی ډوډی تیار کیږی.
- مننه خو زه اشتها نلرم اوس، کله چی د بیرون څخه راغلم خورم یی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بغیر لدی چی د هغی خبرو ته توجه وکړم له کوره ووتم. وړی وم خو مربا او پنیر؟ هغه هم د غرمی په 12 بجو!؟ "خدایه نور خلک کم وه چی د کاکا ښځه دی هم راته دښمنه کړه؟" او یو خو دا ذوالفقار هر چاته زما سپارښتنه کوی. په 15 دقو کی د غفور دوکان ته ورسیدم. غفور د زبیر ملګری و البته د هغه ملګرو د ډلی څخه چی زبیر د بدی ورځو لپاره ساتل.د موبایلونو دوکان یی درلود په عمر د 27'26 کالو و چندان ځوانی نه درلود..

خو بیا هم ما خو ځله لیدلی و چی د جنګیانو سره یي خبری او شماری رد او بدل کول. پداسی حال کی چی خپله یی ښځه حتا بچیان درلود. ددی ټولو خبرو سره چرس یي هم کله ناکله وهل. ما چندان ملګرتیا ورسره نه درلود په همدی خاطر دوکان ته یی نه تلم، زبیر ته می مسج وکو چی زه د دوکان مخکی درته منتظر یم. او یو دقه لا نه وه تیره شوی چی زبیر د دوکان څخه را ووتی، په تیزو قدمو ځان یی تر ما راورسه ویی په لاس کی څو دانی فلشونه و او خوشحال معلومیدی.

زبیر- سلامونه مریض صیب اوس ښه یی؟
- شکر ښه یم.
د ټلو په حال کی می د هغه د لاس فلشو ته اشاره وکړل او ومی ویل: دا څه کوی؟
زبیر په خوشحالی وویل: پوهیږی پدی فلشو کی څه دی؟
- نه څه دی؟
زبیر- دا یو دانه یی چی سور رنګ لری دا چی هر کمپیوټر سره وصل شی د هغه کمپیوټر ټوله ډیټا خرابه ویی.
- ته یي څه کوی؟
زبیر بغیر لدی چی زما جواب راکړی په خوشحالی ویی ویل: دا چی شین رنګ لری پوهیږی دا څه کوی؟ دا چی د کمپیوټر سره وصل شی کمپیوټر کی خراب ویروس خپره ویی. او دا دریمی..

خبره می ور پری کړل او ومی ویل: زه وایم ته دا شیان څه کوی؟
زبیر- دا شیان ډیر کم په لاس راځی یوه ورځ شاید په کار می راشی.
- ته لیونی یي پخدای. د همدی لپاره د غفور دوکان ته راغلی ویی؟
زبیر- نه اصل کی د موبایل بټری می خراب شوی وه، هغه می وربلندی جوړ کړه او بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خبرو خبرو کی دا فلشونه می هم ورنه واخیستل. تا ولی پرون مابنام زما د مسجو جواب رانکو؟

د یو لوی دوکان په زینو کینستلو، او ما زبیر ته د پرون مابنام د هغه د خدای پامانی څخه نیولی، د فرشتی د پنیر او مربا راوړلو پوری ټولی خبری وکړل.

زبیر- ته مطمئن يي چی د پای زیب آواز و؟
- هو
(زبیر زما د تندی زخم ته په زیر زیر وکتل او بیایی په ځټ یو سپیره راکړل او په قهر یی وویل: مرګ او درد او هو.
- څه مرګ دی وحشی خوړ دی کړم؟
زبیر- ما تاته پرون وویل راځه ډاکټر ته لاړشو خو تا وویل نه.
- د پای زیب شرنګها د ډاکټر سره څه ربط لری؟
زبیر- پرون په سر باندی پر دیوال ولګیدی حتما عصابتو ته دی زیان رسیدلی؟ چی داسی آوازونه آوری؟

- بیا زما د زخم دومره زر بنه کیدل په څه خاطر دی؟
زبیر یوڅه فکر وکو بیا یی وویل: ما څو وخته مخکی یو مقاله ویلی وه. هغه کی لیکل شوی وه چی په مغز کی یو حصه یا بخش موجود دی چی د زخمونو او دردونو امر کوی، که هغه ته زیان ورسیږی درد نه احساس کولی شی؟ او شاید خپل زخمونه هم جوړ کړی؟ تا هم پرون په سر ډب وخوړی شاید د مغز هغه حصه دی ضربه لیدلی ویی؟
- اېلاتې مه وایه داسی وایی ډب دی وخوړی، سړی فکر کوی د کوم بام مام څخه خورځیدلی یم؟ دومره کلک ونه لګیدم. او هو ما د پای زیب شرنګ د غورځیدو څخه مخکی واوریدی!

زبیر- کله ناکله چی د سړی فشار هم ښکته شی داسی آوازونه یی تر غوږ کیږی!
- د هغه څخه مخکی که یاد دی ویی موږ بولانی وخوړل؟ یعنی وږی نه وم چی فشار می ښکته شی.
زبیر- افرین ښه خبره دی وکړل بولانی؟ شاید هغه کی کوم شی وه؟
- ای بلا بلا اصلا پر ما هیس ندی شوی جوړ تیار یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبیر- بیا چینجی لری هسی خبری کوی زما مغزه خراب کوی؟ زه دا خبری پرېږده راځه غرمه دی په یو برګر میلمه کړم، چی د کاکابنځی ظلم دی لیاده ووځی.

د زبیر په ټوکو او مسخرو باندی یو برګر خانی ته ننوتو، او زبیر دوه برګر او یو غټه پیپسی را وغوښتل. د ډوډی خوړلو په حال زبیر هی ویل: ګوره نن دی برګر وخوړی هسی نه د پای زیب د شړنګ سره د ډول ډنګ هم یوځای شی؟بیا خپل په خبرو یی خندل لیونی. زبیر خپله حساب وکو او ماته يي اجازه رانکړل پیسی ورکړم، د برګر خانی څخه ووتلو او بی هدفه مو سړکونه متر کول او خبری مو کول. چی همغه د پرون سهار پیشو می په سړک ولیده! دوه سترګی يی ماته نیولی وه، او راکتل یی نه پوهیږم ولی ددی پیشو پر لیدو می نور د پیشوګانو د نوم څخه لا کرکه کیدل! ما هغسی بد بد پیشکی ته کتل چی زبیر وویل:

زبیر- تا ویل پلار او کاکا دوي دی راغلی د ذوالفقار کورته؟
- هو
زبیر- که غواړی نن ماښام راشه زما کورته، هم خپل د پلار د سترګو او هم خپل د اوبنی د بیځایه خبرو څخه بچ کیږی، او هم د افغانستان کرکټ دی دواړه يي په ګډه ګورو خوند کوی. څنګه؟

د زبیر په خبری می د پیشو څخه نظر واخیستی، شاید اشتباه می فکر کړی ویی او دا هغه پیشو نه ویی؟ د زبیر خبره می خوښه شوه او زړه می غوښتل چی ورسره لاړشم نن شپه، خو ذوالفقار خدای خبر چی ویي منی؟ نه پوهیږم ولی غواړی ما خپل د کورنی مخ ته پورته ښکته کړی؟ پداسی حال کی چی هغوی زما د نوم څخه لاکرکه لری؟

زبیر- جواب دی رانکړو؟
- ذوالفقار ته ووایم که ویی منل درځم.
زبیر- یو خو دا ذوالفقار غذب ګرځیدلی، درسته ورځ طاها دلته ورشه، طاها دلته مه ځه، طاها دا وکه، طاها هغه مه کوه، ستا حوصله د هغه د امرونو څخه نه تنګیږی؟
- څه وکم مجبور یم د هغه په کور کی اوسیږم.
زبیر- که خبره د کور ده ځانته یواځی کور ونیسه؟
- زما کفن چیرته و چی قبر می ویی؟ زه د یو بوتل اوبو پیسی جیب کی نلرم ته وایی کور

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخله؟

زبیر په خندا وویل: اوخی بیچاره ګی.. زړه می سوری سوری شو ستا په مظلومیت....
- بلا بلا
( زبیر هسی ځان سره لکه لیونی خندل چی ما ذوالفقار ته زنګ ووهی)
- الو سلام علیکم ذوالفقار ښه یی؟
ذوالفقار- علیک سلام الحمدالله ښه یم. خپله ښه یی؟ کور کی یی؟
- شکر زه هم ښه یم. نه بیرون یم.
ذوالفقار- چا سره يي؟
- زبیر سره

ذوالفقار- اهوم. څه دی ویل؟
- هغه ما ویل زه نن ماښام نه راځم.
( ذوالفقار لکه چی په یو مجلس کی ناست و ځکه آواز یی راغی چی هغه کسانو ته یی وویل "وبخښی زه دوه دقو کی راځم"د یو څو ثانیو وروسته یی غږ راغی )
ذوالفقار- ولی نه راځی؟
- غواړم د زبیر کورته لاړشم نن ماښام د افغانستان کرکټ دی غواړم لوبه وګورم.
ذوالفقار- زموږ کور کی تلویزیون نشته؟ چی ته د زبیر کورته د کرکټ کتو لپاره ځی؟
- ستا کور کی تلویزیون شته خو بابا دی! خو د زبیر کورکی تلویزیون شته او بابا نشته..!
#شهاب🌒 :
ذوالفقار- زما پر عصابو مه څه طاها حوصله نلرم، یو نن ماښام هم راشه سبا دوې ځی خپل کورنو ته، بیا که ته هر چیرته ځی ورځه آزاد یی.
- نن ماښام څه کیږی که درنشم کورته؟
ذوالفقار- ته پدی خبرو نه پوهیږی، حتما راشی زه ځم یوځه کار لرم ماښام خبری کوو خدای پامان.
- خدای پامان
( زبیر راته په زیر زیر کتل)
- څه ګوری زړه خو دی نغواړی تول مکالمه درته ووایم.
زبیر- ورک شه خیرنه موبایل دی په لوډ سپیکر وهلی و ما څه کوی چی تول بازار ستا څو دواړو خبری واوریدل. زه هم وایم ورځه یو نن ماښام هم فرصت دی خدای دی څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیدلی؟ شاید دربانډی ورحمیږی او د کاکا زړه دی دربانډی وسوزی او خپل لور درکړی.

خپل د خبری سره په خندا شو ما هم یو ټک په اوږه ورکی او په قهر می وویل: مرګ، مرګ زه خوشحال یم چی بچ شوم د هغه د کورنی د زوم توبی څخه، او ته دعا کوی چی هغه ما ته خپل لور راکړی؟
زبیر- یعنی ته غواړی ووایی چی تا د هغه لور نده خوښه؟
- استغفرالله د سړی د خولی بیځایه خبری باسی، ما د هغه د ټول کورنی څخه کرکه کیږی. او ته وایی ورشه زوم یی شه؟
زبیر- یو متل دی وایی: میګه دستش به آلو نمیرسه، میګه الو ترش است.

دا خبره یی وکړل او ددی څخه مخکی چی زه وربانډی وار وکړم، په تیز قدمو زما څخه لری شو، د سړک د هغه بل خوا څخه یی لاس وښوره ویی او خدای پاماني وکړل. ناوخته و دم په دمه یي د ماډیګر آذانونه کول، هوا تیاره شوی وه چی د کور طرف ته روان شوم پر ټوله لاره می بیا د پرون پشان احساس کوی چی یو سوک راپسی دی؟ یا د نظر لاندی یم؟ خو ددی احساستو څخه بد هغه توره پیشو وه چی ټوله لاره زما سره راروانه وه، هر څومره چی شړل می نه تله او په یو څه فاصله کی راسره وه. د 15 دقو وروسته د ذوالفقار کورته ورسیدم د ذوالفقار کور د کوڅی په سر کی اولی کور وو، کوچنی حویلی یي وه چی یواځی د دوه موټرونو د پارک ځای یي درلود.یو ځګه برنډه او یو اوږد دهلیز چی دری کوټی یو آشپزخانه او یو حمام یي درلود..

خو د ټولو څخه بد ځای یي تشناب" بیت الخلا" و چی د کوره دبانډی د حویلی په کونج کی وو! او بیحده خراب ځای، یعنی دشپی لخوا هرڅونه که په تکلیف وایی بیا هم هلته نه تلم. که دا تشناب یي په نظر کی ونه نیسو نور د کور موقعیت یي ډیر خایسته دی.د کور مخ ته رسیدلی وم چی د مخامخ همسایه دروازه خلاصه شوه او یو جنی ورڅخه سر رابنکاره کړو، د جنی په لیدو ژر کورته ننوتم او دروازه می بنده کړه. دهغی آواز می آوریدی چی د ځان سره لګیا وه "څومره ډارن هلک دی." زه ډارن نه یم خو د نوم بدی څخه ویریږم.هغه هم بیحده.

څه کم و زیات دری میاشت کیږی چی د ذوالفقار کورته راغلی یم او دا دری میاشتو کی ما ددی جنی د لاسه یوه ښه ورځ نده لیدلی! دا د یو غټ جنرال لور ده پلار یی ځانته کش

(c) ketabton.com: The Digital Library



وپش لری په دولت کی! او لور یی د کوځی یو هلک هم په روز نه پرېږدی.اوله ورځ ذوالفقار راته وویل طاهاا ددی جنی ځخه لری ګرځه ډیر د کوځی هلکان یی خپل په پلار ډبولی. بوټونه می برنډی کی اوباسل خو دهلیز ته تر ننوتلو مخکی یو دقه صبر شوم، د ذوالقرنین کاکا دوی د خبرو غږونه راتلل او د فرید د خوشحاله غږ ځخه معلومیده لکه چی څمکه یی خوښه شوی وه؟ "هی خدایه زه به کله په آرامش باندی یو ځای نفس واخلم؟"

داسی معلومیږی چی قرار، قرار، ددی ځای ځخه هم کډه وکم، او یو بل ځای لاړشم؟ دهلیز ته داخل شوم په لوړ غږ می سلام واچوی، زما د سلام جواب ټولو راکو. خو دراتلو سره مي ټول چوپ شوی وه. یواځی د تلویزیون غږ راتلی چی یو مولوی پکی ناست و او د خلکو پوښتنو ته یی جواب ورکوو، بابا د د هلیز په سر کی د تلویزیون خوا کی ناست و، او د همیشه پشان خپل مخصوصه فیروزه یی تسبیح یي اړول را اړول د بابا ددی تسبیح عمر زما د عمر ځخه ډیر دی! هم یي عمر ډیر دی هم یی عزت او قدر زما ځخه ډیر ده. د تسبیح ځخه می نظر واخیستی چی ګورم بابا په تروش تندی ماته کتل. زه نه پوهیږم زما لیدل او د بابا تندی تروش کیدل څه حکمت لری؟چی زه ورنه بیخبره یم" ذوالقرنین کاکا د بابا اندی ته ناست و، او د کاکا ښځه و فرشته په آشپزخانه کی لګیا وه.خو د ټولو ځخه حیرانونکی کار د فرید و چی د ذوالفقار اندی په اندی ناست و!

ذوالفقار- فرید ولاړشه هغه مخامخ نالی باندی کینه.

د ذوالفقار په خبره فرید اول پوی نشو خو کله چی پوی شو ولی دا خبره ورته ذوالفقار وکړه، د غوسی ځخه تک سور شو خو هیس یي ونه ویل. ولاړشو او پر بله نالی کینستی. زه د ذوالفقار اندی ته کیناستم او په آرام غږ می ذوالفقار ته وویل:

- ګناه لری داسی به دی نه وایی ولاړ کړی.
ذوالفقار هم زما په تقلید خپل آواز ښکته کی او ویی ویل: دا دری ساعته کیږی زما د غوږ اندی ته بنګ، بنګ لګیا دی عصاب یي راخراب کړل، یو دقه نور پاتی شوی وایی وهی می.

(د ذوالفقار په خبره خندا راغله خو ځان می کنترول کی.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرشته - ډوډی راوړم درته؟
د فرشتی په خبری چی زه یی مخاطب کړی وم ټولو راوکتل،فرید داسی ورته په قاتلانه نظر وکتل چی هغی په ریږدیدلی غږ وویل: هغه طاها ویل چی د دباندی څخه راشی ډوډی خوری؟

زما د نوم آوریدل هغه هم فرشتی له ژبی څخه د فرید تندی نور هم تروش کوو. ذوالفقارم یو نظر ما ته او بیا فرشته ته وکړو. ددی لیاره چی دا خبری دلته پای ته ورسوم زر می وویل: نه مننه ما دباندی ډوډی وخوړل.
ذوالقرنین کاکا- طاها جان که ډوډی دی نده خوړلی ورځه ویخوره، تر ماښامه ډیر وخت پاتی.
- ما ډوډی وخوړل ماښام ته په تمه کیږم.
ذوالفقار- طاها خپله د کور صاحب دی. څه ستونه ورباندی کوی؟
ذوالقرنین کاکا په خندا وویل: ربښتیا وایی میلمانه خو موږ یو نه طاها.
فرید- هم د کور مالک دی او هم کوچنی ندی چی په خوله ورته ډوډی ورکړی؟ وږی وو خپله یی خوری.

د فرید په خبری نور چا څه ونه ویل او فرشته په تلوار آشپزخانی ته ننوتل. کرکه لرم لدی چی د یو مجلس موضوع وګرځم. یو څو دقو بیځایه خبرو وروسته د ټولو فکر د تلویزیون برنامی طرف ته شو، او زما د ډوډی خوړل او نخوړل یی لیاده ووتل. مولوی صیب داسی په جذبی کی راغلی و او داسی زدنی جوابونه یي ورکول خلکو ته. په یو ډیر جالب او حیرانه ونکی پوښتنی باندی چی د مولا صیب څخه وشول. زما ټول فکر تلویزیون طرف ته شو، لکه چی ټولو ته عجیبه وه چی ټول یو دم خاموش شول حتا د کاکا ښځی او فرشته هم یو څو دقو لیاره د آشپزخانی څخه دهلیز خواته راوکتل.

مولا صیب- یو ورور زنګ وهلی او وایی چی زما کاکا د ځمکی د لانجی په سر زما پلار مړ کو! خو ما مي کاکا وبخښی، او معامله مي خدای ته پریږدل چی هغه دنیا کی ورنه بدله واخلی. اوس زه د هغه د لور سره غواړم نکاح وکړم! خو زما خپلوان ماته بیغیرته او دووس وایی،آیا زما کار چی خپل کاکا می وبخښی غلط وو که صحیح؟
ددی ورور د پوښتنی په جواب کی اول باید ووایم خدای دی هر هغه کسانو ته چی پدی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعوا او جنګونو باندی خپل د ورونو، خویندو، او خپلوانو وینه توی کوی، او

قتل کوی، اول خو دعا کو چی خدای دی هدایت کړی، که نه هدایت کیږی نو الله عزوجل دی خپل په غذب ګرفتار کړی، او بل دا چی که ستا اراده د هغه د لور سره په نکاح تړلو کی بده نه ویی! یا د غچ اخیستلو نه ویی؟ نو بچیه تا د پیغمبرانو او صالحانو لاره او طریقه خپل کړی او نه بغیرتی دی کړی نه دووسی. الله تعالی دی داسی ځوانان زموږ پر جامعه کی ډیر کړی او مفسد خلک دی خدای خپل پر خدای نیست او نابود کړی آمین ثم امین.

فرید- دا نو سنګه بغیرتی ده؟ خپل د پلار قاتل پیژنی او نه یی مړ کوی؟ دا د پیغمبرانو نه بلکی د بیغیرتانو او نامردانو لار ده. دوه الف وو ایی بس ځانته روشن پکره وایی او داسی شرمونکی کارونه کوی.

فرشته- دا نو ښنګه چل شو؟په پښتنو کی هم داسی خلک شته؟

ذوالقرنین کاکا- یو خبره زموږ مشرانو کول او الحق چی ربښتیا به یی ویل، هغوی به ویل په هر قوم کی بغیرته او بی عزته خلک شته! خو خدای دی پښتون نه بغیرته کوی، که خدای نکرده یو وار بیغیرته شو نو د ټول قومو بغیرته او بی عزته خلک به درته شریفان معلوم شی.

ذوالفقار- زما په نظر خو ډیر با جرعته انسان وو! ځکه پداسی جنګونو کی 100 کی 99 فیصده خلک انتقام اخلی! او مقابل طرف مړ کوی؟ خو ډیر کم کسان پیدا کیږی چی دومره با ایمانه ویی چی د داسی مردارو خلکو پر وینه خپل لاسونه نه رنګوی، او معامله خدای ته پریږدی؟!

د ذوالفقار په خبری د ټولو تندی تروش شو خو ذوالفقار په بیغمه زړه خپل پیاله چای راوخیستل.زه هم د ذوالفقار د خبری سره موافق وم، ځکه بخښنه کول بیحده سخت وی، حتا پیغمبر(ص) چی په رحم دلی او شفقت کی جوړه نه درلود، کله چی خپل د کاکا حضرت حمزه(رض)قاتل یي وبخښی نو وحشی ته یی وفرمایل: ما وبخښلی خو زما مخته نور مه راځه! ځکه چی کله تا ګورم خپل کاکا می یاد ته راځی. یعنی پیغمبر(ص) لا نشو کولی خپل د کاکا قاتل په دومر آسانی وبخښی. بیا نو موږ! هغه هم پښتون قوم؟ چی بدی تر اوه پوشته(نسل) پالی بیخی نو ناممکنه کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذوالقرنین کاکا- طاها ستا په نظر کار يې ښه و که بد؟

د ذوالقرنین کاکا په خبرې د فکره راووتلم، ټولو ما ته راوکتل د ټولو دروند نظر یو خوا او د بابا هغه توری هیبت ناکی سترګی بل خوا، همیشه د کوچنی والو څخه د بابا د سترګو او د تندی د کرښو څخه چې زما په لیدو نور هم ډیریدل ویریدم. د بابا څخه می سترګی واړول یو غټ نفس می واخیستی او په آرامه لهجه می وویل:

- زه د هغه سړی پر ځای نه یم چې وغواړم د هغه کار صحیح یا غلط ثابت کړم.
فرید- بیا هم فکر وکړه خدای نکرده داسی کار پرتا وشی څه کوی؟

د فرید پر خبری ټولو ورته بد بد وکتل خو هغه په بیشرمی دوه سترګی ماته نیولی وه ترڅو جواب ورکړم.

داسی بیعقل انسان ما خپل په ټول عمر کی ندی لیدلی، خو دا خبره یی یوڅه فکرمند کړم؟که مثلا خدای نکرده یوه ورځ دسی چل پرما وشی زه څه کوم؟ منم چې زه او بابا دومره ښه اړیکی یو دبل سره نه لرو خو بیا هم د هغه قاتل نشم بخښلی.

- زه د ذوالفقار خبری سره هم نظره یم. غچ اخیستل هر سوک کوی، خو بخښنه!خلو کی یو نفر کوی. خو ددی سړی یو کار ما هیڅکله نه کوی.
ذوالفقار- کوم کار؟
-د هغه د لور سره واده؟
زما په خبری ذوالفقار په خندا شو او ویی ویل: ولی دی ورسره واده نه کوی؟
مخ می ذوالفقار ته راوړه وی او ومې ویل: فکر وکه ذوالفقار خپل د پلار د قاتل د لور سره واده وکړی؟ که سینه چاق عاشق هم واوسیږی په جینی باندی! بیا هم وجدان دی وایی "دا دی د پلار د قاتل لور ده" هغه وخت د کور څخه د جنګ جهانی دریم میدان جوړ کیږی.

ذوالفقار زما د خبری په تایید سر وښوره ویی او په خندا یی وویل: منطقی جواب و.
فرید- د کوم خوا منطقی جواب و؟ ستا په نظر هغه بیغیرت چې خپل د پلار قاتل بخښلی شی د هغه لور نشی بخښلی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اول خو دا چې دا کار پر ما ندی شوی، دویم ما ونه ویل قاتل بخښم! دریم دا چې تا زما خخه پوښتنه وکړه ما هم خپل شخصي نظر ووایی.
فرید غوښتل جواب راکړی چې ذوالفقار په قهرجن لهجه وویل: که دومره شوقي یی ورځه ته د هغه سړی ځایه د پلار قاتل یی مړ که؟ د سړی ادرس به هم زه درته پیدا کړم څنګه؟

فرید بله خبره ونکړل او خوله یی بنده کړه عجب انسان و؟! داسی زور یی ورکړی و لکه چې دده پلار یی مړ کړی؟ د شپې تر ډوډی خوړولو پوری نور داسی بیځایه بحث ونشو د ډوډی په وختم ذوالفقار دومره توجه ماته وکړل چې د ټولو عصاب یی خراب کړل، خو هیجا څه ونه ویل د فرید د حرکاتو څخه معلومیدل چې ځان يي په زوره کنټرول کړی و چې کومه خبره ونکړی. ځکه پوهیدی خوله خلاصه کی ذوالفقار یی بنه بیاب کوی.

د هغوی په خبرو خبرو کی پوی شوم چې د غرمی څخه وروسته ذوالقرنین کاکا خپله بنځه وړی وه ډاکټر ته. او ډاکټر ورته ویلی وه چې د ملا هډوکی يي یوڅه کینستلی که څنګه؟ سم پوی نشوم خو د ملا تکلیف یی درلودا! دوا یی اخیستی وه او فرید او بابا هم ځمکه خوښه شوی وه! او غوښتل یی بل هفته راشی ترڅو سند یی خپل په نوم کړی. د دی ټولو خبرو څخه بد خبره دا وه چې نن دوی په دهلیز کی ناست وه؟ او ما کرکټ ونشو کتی یوازې د زبیر په مسج پوی شوم افغانستان د زیمبابوی څخه میچ ګټلی؟ نور پوی نشوم چې څنګه؟

ذوالقرنین کاکا- طاها جان! دا کال ستا د درسونو اخری کال دی؟
- هو دا اخری سمسټر دی.
ذوالقرنین کاکا- بیا نو لخیره بیرته کلی کورته راځی؟ که دلته کاروبار شروع کوی؟

دا هغه پوښتنه وه چې ادی،طاهر ، طیبه، او حتا ذوالفقار زما څخه په وار،وار پوښتنه کړی وه او ما یو جواب ورکړی و " مره هم شم نور هغه کورته نه ځم." خو د ټولو په مخ کی دا جواب ورکول بنه نه وو، هغه هم هغه وخت چې بابا په مجلس کی موجود وو.

- هرڅه چې قسمت وو، اوس خو تاسو هم راروان یاست که تاسو شهر ته راشی، نو ځه کلي کی یوازې څه وکړم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذوالقرنین کاکا په خندا وویل: ته پدې ځلور کالو کې یو ځل هم رانغلی مجبور موږ درپسې شهر ته راغلو.

د ذوالقرنین کاکا د خبرې په جواب کې مې د دروغو یو مسکا وکړل.ذوالقرنین کاکا زما څخه کرکه او نفرت لری! او پدې خبرې زه ځل فیصده مطمئن یم، خو نه پوهیږم بیا کله ناکله ولې داسې مهربان کیږی؟ د ماښام لس بجو شاو خوا وه نه مې خوب راتلی او نه مې هم نور ددوی د مجلس د آوریدو طاقت درلود،بغیر لدې چې د چا خبرو ته غوږ ونیسم یا کومه اضافه خبره وکړم خپل کوټې ته ننوتم. د سهار ځایونه ټول شوی وه! او کوټه جارو شوی وه،

شاید د کاکا ښځې پاکه کړی؟ نه ربښتیا د هغې خو ملا درد کوی؟! نو حتما فرشتې پاکه کړی. مهم نه ده هر چا چې پاکه کړی خیر دی ویسی. خپل پر ځای پریوتم او د ویده کیدلو کوښښ مې وکو نن سهار تر غرمې ویده شوی وم، په همدی خاطر خوب نه راتلی، سبا هم جمعه وه او پوهنتونونه رخصت. سبا بیا تر یولس بجو ویده کیدلی شم. اړخ په اړخ اوړیدم او فکر مې د پرون حالتو کې ګرځیدی، هیس منطقی دلیل مې نشو پیدا کولی د هغه پای زیب شرنګ ته؟! یا خپل د زخمونو ښه کیدو؟ یا حتا هغه پیشو ته؟

نه پوهیږم چې څومره وخت تیر شوی و، چې بدن مې درووند شو او داسې احساس مې کوی لکه چې راباندی خوب راځی! ټول بدن مې بی حرکته شو، سترګې مې پټې شوی، مغز مې قرار قرار د خوب دنیا ته وړم چې همغه عجیبه د پای زیب شرنګها مې تر غوږ شوه. داسې وه لکه چې ماته را نږدی کیږی..؟ د څو ثانیو وروسته داسې احساس مې وکو چې یو سوک زما انډی ته ناست دی؟ خپل سترګې مې نشو خلاصه

ولې! خپل ځانته مې حرکت نشو ورکولی! لکه چې بدن مې فلج شوی ویی؟ احساس مې کوی د ډیری ویری له لاسه مې زړه د سینې څخه راوځې، هیس کار مې نشو کولی، بی حرکت پروت وم، ژرا ته نږدی شوی وم د زیات ویری څخه نه پوهیږم څومره وخت به په همغه حالت کې وم چې خوب راباندی غالبه شوی و او ویده شوی وم. د ذوالفقار په آواز له خوبه پاسیدم.

ذوالفقار ـ جیګ شه لاس او مخ دی ومینځه سهار ډوډی وخوره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په عذابه ول مه کوه ذوالفقار! یو نن رخصت یم پرېږده ویده شم.
ذوالفقار- پاسه ډوډۍ وخوره.
- نیخورم اشتها نلرم.
ذوالفقار- ولاړشه غرمه ده زه کار لرم باید ولاړشم ژر کوه.
- ما نیولی یې؟ خو زه کار ته دی لاړشه!
ذوالفقار- ځم کابل ته شاید دوه درې ورځې رانشم کینه چې د تلو مخکې خپل نصیحتونه وصیتونه درته وکړم، بیا بیغمه زړه سفر ته لاړشم.

د ذوالفقار په خبرې خوب مې وپرېدی په ځای کې کیناستم او هغه ته چې تیار آماده زما سرته ولاړ و وروکتل او ومې ویل: ته څه کار لرې کابل کې؟
ذوالفقار - یو مشکل په حساب کتاب د دواکانو کې پیدا شوی. مجبوره یم لاړشم شاید څو ورځې ونه اوسیږم.
- یعنې ته غواړې کابل ته ولاړشې؟ او خپل دا بني اسرائیل قوم زما تر غاړې کړې؟ مړ هم شم د دوی خدمت لپاره نه پاتې کیږم.

ذوالفقار په خندا وویل: مه ویرېږه هغوی سهار وختې کله چې تا د اوه پاچاهانو خوب کوی خپل کورونو ته ولاړه،زه هم اوس زم. پیسې دې په کار وه زما د کوټې په الماری په کوچنی صندوق کې دی، کلي یي هم په همغه الماری کې زما د شنه جوړه کالو په جیب کې ده، پکار دې وه وایخله. د ګاز او برق سره احتیاط کوه هسې نه دوه ورځې بعد راشم مړې دې ووینم. پوی شوی؟
- هو. هو پوی شوم نور نو ورک کیږه.
ذوالفقار په خندا وویل: خپل د خولې سره پام کوه هسې نه د تلو مخکې مې یو وار بنه جوړ ډبولی یی.
- د بوډاګانو پشان نصیحت کوی، دومره خپله هم پوهیږم.
ذوالفقار- سمده نو لاړم په ځان پام کوه خدای پامان.
- ته هم په ځان پام کوه بنه سفر خدای پامان.

د ذوالفقار دتلو وروسته په کور کې یو درنه فضا حاکمه شوه. خپل ځایونه مې ټول کړل لاس او مخ مې ومینځی دوه هګۍ مې پخه کړل، د تلویزیون مخکې پداسې حال کې چې د سندرې غږ مې سلو ته پورته کړې و په پوره آزادۍ او خوشحالۍ کې وخوړل. بنه شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې کاکا بنځه دوی لاړه نفس می آزاد شو د هغوی په شتون کی می داسی احساس کوی لکه چې په قفس کی اچولی یم! د ډوډی خوړلو وروسته زبیر راته زنګ ووهی او ما ورته د ذوالفقار د تلو او د کور د خالی کیدو وویل زما د خبرو د آوریدو وروسته زبیر په خوشحاله یی وویل:

زبیر- زه بنه شوه چې ټول په یوځل لاړه.او ته بیغمه شوی اوس بیکاره یی؟
- هو.
زبیر- نو څه ته ناست یی ؟ زړه خو دی نغواړی چې د ذوالفقار کور وساتی؟
- نه د کور ساتلو ته ناست نه یم.
زبیر- که کور نه ساتی نو راځه د نن د آزادی څخه دی خوند واخله.
- څه وکړم؟
زبیر- زموږ د کور اندی کی چې پارک دی هلته راشه.
- ولې؟
زبیر- مرګو درد او ولی، ولی، اوس چې ذوالفقار نشته ستا ولی، ولی، شروع شوی؟ژر راشه شابه.

زبیر موبایل بند کوو. زما زړه هم پدی څو ساعتو کی په کور کی تنګ شوی و، نو ځکه د زبیر خبره می ومنل. د کور دروازه می بنده کړه او روان شوم. کله چې پارک ته ورسیدم زبیر می ولیدی چې د یو درختی لاندی ناست دی او سر یي په موبایل کی ننباسلي. او لکه لیونیانو غوندی ځان سره خاندی. که نه می پیژندی ضرور می شک کوی چې د کوم جنی سره خبری کوی او خاندی، خو زبیر شاید د څلور کالو راهیسی زما ملګری شوی ویی، خو داسی پیژنم لکه چې د قرنو قرنو ملګری می دی. خوله یی خلاصه ده بیځایه پوچ او رد وایی خو زړه یی لکه هینداری غوندی پاک دی. او دا چهارصد او بیست بازیانی یي ندی زده..

- سلام.
زما د سلام په آواز زبیر د موبایل څخه سر پورته کی او په خندا یی وویل: علیک سلام بنه یی؟
د هغه اندی ته د کینستلو په حال می وویل: شکر بنه یم. خپله سنګه یی؟
زبیر- روغ و جوړ او خوشحااال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خوشحالي خو دی د لری ښځه معلومیده. په څه دی داسی نیش خلاص و؟
زبیر په خندا وویل: درته وایم خو اول قول راکړه چې چاته به وایی نه؟
- ما تراوسه ستا خبره چاته کړی چی ته زما ښځه قول اخلی؟
زبیر- نه
-بنه؟وایه نو.
زبیر- یو هیری د پارک ددی درختی لاندی یو وایفا بغیر له کوډه( پاسورت) ده؟ او داسی تیز کار کوی چی مه وایه.
- ای بلا، د یو مفته وایفای لپاره دومره خوشحاله وی؟
زبیر- دوه ورځی ژوند دی په همدی شیانو باید ځان خوشحاله کوو، راکړه خپل موبایل چی وصل دی کړم.

خپل موبایل می زبیر ته ورکو او هغه زه د هغه مفته وایفای سره وصل کړم. دوه ساعته پوره د هغه درختی لاندی د زبیر سره یوځای می په وایفای باندی شیان ډانلوډ کړه. اخره د ډیر یخ ښځه مجبور شو د پارک ښځه لاړشو، د پارک ښځه د وتلو په حال کی دواړو لکه لیونیانو خندل او فکر مو کوی یو لوی کار مو کړی، چی د بیګانه کس په وایفای مو ځانو ته شیان ډانلوډ کړی! د پارک ښځه یوسه لری شوی و چی څو نفره مو ولیدل چی پر یو چا باندی راتول شوی وه، کله چی ورنږدی شو نو یو خیرن سړی مې ولیدی چې ببره ګیره او وینتیان یی،شکیدلو کالي او دومره خیرن و چې زما په نظر دا دری کال یي حمام نه وکړی؟

د څو بیکاره خلکو په مینځ کی ناست و او د هغوی د لاس ورغوی یي کتل! لکه فالګیر غوندی. خو دا خیرن سړی ځانته د پیر صیب د در ملنګ ویل!؟ په عمر کی می دداسی کسانو ښځه چی د قران، حدیث، او نیکو خلکو په نامه داسی کارونه کوی بد راتلل. زبیر د هغه پر لیدو په شوق باندی وویل:

زبیر- طاها راځه چی ملنګ ته خپل ورغویي وښایو.
- دا ټول کسان هسی دوکه بازان دی، او بیځایه اپلاتی وایی.
زبیر- موږ هم د ساتیری لپاره خپل لاس ورته ښایو راځه.
- مه کوه ګناه لری.
زبیر- راځه د ټوکو یي ښایو ګناه نلری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبیر په کش کولو د ځان سره د هغه ملنګ یا فالګیر په طرف ویوړم. بد احساس می درلود، او هیس می زړه نغوښتی چې هلته و اوسیږم! خو زبیر داسی په شوق ولاړ و، چې د هغه لپاره مجبور شوم یو څو دقو لپاره د صبر څخه کار واخلم. د څو دقو وروسته زموږ نمبر راورسیدی زبیر اول ما لاس کش کی او زما د لاس ورغوی یې ملنګ ته وخودو، ملنګ خپل په ببره ګیره لاس تیر کړو او زما لاس یی خپل په لاس کی ونیوی. همدا چې زما لاس د هغه په لاس باندی ولګیدی یو بد احساس می د بدن رګ رګ باندی احساس کوو، ژر می خپل لاس ورنه کش کړو زما په کار هغه فالګیر راته په زیر زیر راوکتل..

زبیر- څه وشو؟ ورکړه لاس دی چې ورغویی دی وګوری.
- ضرورت نشته ته خپل د وښایه زما دا کارونه نه خوښیږی.
زبیر- نه کنه ته یی هم باید وښایی!

زبیر چې هر څونه زاری او خواهش راته وکوو، ما خپل ورغویی هغه فالګیر ته ښکاره نکوو. اخیره زبیر مجبوره خپل د لاس ورغویی ورښکاره کوو. د زبیر د ورغویی پر لیدو فالګیر څو بیځایه اپلاتی خبری وکړل، او موږ د هغه ځای څخه روان شو.

زبیر - دا چې ویی ویل نزدی ده چې خپل اهدافو ته ورسیږم! ستا په نظر مطلب یی څه و؟
- دی بیځایه خبرو ته فکر مه کوه هغوی هسی اپلاتی وایی.
زبیر- څو باور وکه Palmistry یا ستا په خبره فالګیری یو علمی بحث دی! د لاس په کرښو کی یو کرښه د انسان د ماضی" پخوانی" څخه خبر ورکوی. او یو کرښه د راتلونکی څخه، او د دوه کرښو د یوځای کیدلو سره د انسان د رفتار او اخلاقو په اړه معلومات ورکوی.

(و دریدم او مخ می د زبیر طرف ته چې خپل په خبرو او بحث کی ګرم راغلی و، وکوو. او ومې ویل: غول مخوره بس دی.
زبیر- بلا بی ادب انسانه، ته بیسواده یدی خبرو نه پو هیږی.
- دا ټول شیطانی کارونه دی، او ټول د یو سره دروغ دی.
زبیر- نو سنګه هغه ملنګ ماته زما په اړه سم معلومات راکوو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هغه یو غول وخوړل او تا باور وکوو؟ نور زما پر عصابو مه ځه.

نه پوهیږم ولی دومره عصبی شوی وم؟ماته د زبیر عادت معلوم وه هغه د هر شئ په اړه داسی فلسیوفانه نظریات ورکول. خو د کوم وخت څخه چی لاس می د هغه فالګیر په لاس لګیدلی وو احساس می کوی چی نفس اخیستل راته سخت شوی، او پر بدن می لکه چی اور بل ویی!؟ زبیر چی کله زما بد اخلاقی ولیدل چوپ شو او څه یی ونه ویل. نه پوهیږم ولی داسی شوم؟ ډیر ژر می د زبیر سره خدای پامانی وکړل او د کور طرف ته روانشوم. په کوڅه کی ډیر پاتی نشوم او ژر کورته ننوتلم ترڅو بیا هغه لیونی جنی پیدا نشی. په همدی فکرو خپل کوټی ته ننوتم،

د مخامخ منظری پر لیدو یو دم حیران شوم! ددی څخه مخکی چی د کور څخه ووځم دا ځای داسی نه و! لکه چی طوفان راغلی ویی. د الماری کړکی خلاصی ویی او زما ټول کتابونه، کالی، نالی، کمپلونه، ګډو وډ پراته وه! اولی فکر می چی ذهن ته راغی هغه دا و چی غل راغلی؟ پدی فکر ژر د ذوالفقار کوټی ته مي منډه کړه، د هغه کوټه پاکه پاکیزه وه! خو زما زړه ونه منل الماری می خلاصه کړه کوچنی صندوق خپل په ځای وو او یو قفل هم وربادی لګیدلی و؟ د ذوالفقار د شنه جوړه کالو څخه می کلي راواخیستل او صندوق می خلاص کی پیسی خپل پر ځای ویی. یعنی ماته خو داسی معلوم شوو چی چا ورته لاس ندی وهلي؟! . بیرته می هغه ځای پر ځای کړل او ژر می زبیر ته زنګ ووهی. د کور حالت می ورته وویل زما د آواز څخه لکه چی پوی شو چی په تشویش یم. چي ویی ویل:

زبیر- زه ژر درځم تر هغه وخته ته سم وګوره چی کوم شي خو ندی ورک شوی؟
- سمده
زبیر- دوه دقو کی درغلم خدای پامان.

د زبیر د موبایل بندولو سره په ګرځیدو شوم. د کور کونج، کونج می وکتو، خو ټول شیان خپل پر ځای وه؟ بیرته خپل کوټی ته راغلم همغه سی ګډو وډه وه! زبیر د رښتیا په دوه دقو کی ځان راورسه ویی. د هغه په شتون کی یوڅه ډاډمن وم او د امنیت احساس می کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبیر- ټول کور دی سم وکتو شئ خو یی ندی وړی؟
- هو ومی کتو هیس شئ ندی ورک. حتا لاس یی لا ندی ورته وهلی؟! یواځی زما کوټه داسی شوی.
زبیر- مطمئن یی دا کار تا خپله ندی کړی؟
- ستا په نظر زه لیونی یم؟ که ما کړی وایی بیا تاته می ولی زنګ وهی؟
زبیر- هسی په سور هم نه یی، خو سنګه امکان لری غل راشی او یواځی ستا د کوټی شیان خراب کړی؟ خو هیس شی ویی نشی؟ مګه دا چی؟

- مګه دا چې څه؟
زبیر- مګه دا چی غل نه وو؟
- نو څه وو؟
زبیر- ستا د همسایه لور؟ همغه د جنرال لور؟
- بیځایه خبری مه کوه هغه جنی دومره هم زړه او جرعت نلری.
زبیر- که هغه جنی نده بیا نو... فرید دی؟
- ته نن ولی دومره بیځایه خبری کوی؟ ما درته وویل چی هغوی نن سهار وختی کلی ته ولاړه،څنګه بیرته راغلی؟ او سنګه بیا کورته داخل شوی؟( زبیر بغیر لدی چی ماته توجه وکړی، په کوټه کی لګیا وو کتل یی ناساپه یی وویل)

زبیر- اوس 100%فیصده ډاډمن یم چی ستا د کاکا زوی دا کار کړی! که نه یی منې دیته وګوره.( زما یو جوړه کالی چی تراوسه ما ورته فکر نه و شوی راواخیستل، کالو کی نور شئ نه وو پاتی! دومره ډیر چی په چاقو یا نه پوهیږم په څه وهل شوی او شکیدلی وه چی فکر می کوی زما نه د کوم سوالګر کالی دی؟ د سوالګر کالو څخه لا بتر وه.)
زبیر- یو دښمن داسی کار کولی شی. او ته بغیر خپل د پلار او فرید څخه نور څو دښمنه لری؟

د زبیر خبرو او شکیدلو کالو مي په زړه کی شک را واچوی. خو امکان یې نه درلود، ځکه هغوی سهار وختی خپل کورونو ته تللی وه. د زبیر په مرسته می خپل کوټه پاکه کړه او هغه شکیدلی کالی می هم ګندو کی وغورزه ول. زبیر چی هرڅونه راته وویل چی ذوالفقار ته زنګ ووهه، او دا حالت ورته ووایه ما ونه منل. هر بلا وه په خیر تیره شوی وه، نه می غوښتل ذوالفقار د هغه دنیا سر څخه په ورختای راوغواړم. د کوټی د پاک

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو وروسته زبیر په دهلیز کې کینستی. او زه ولاړم ترڅو یو پیاله چای ورته تیار کړم.

زبیر- خو زه اوسم شکی یم چې دا کار یا ستا د کاکا زوی کړی؟ یا هم ستاسو د همسایه لور؟
- دواړه شکونه دی بې منطقه دي.
زبیر- ولی بې منطقه؟ مګه تا خپله ونه ویل دا جنی ډیر د هلکانو سره شاټ ده؟ او څو ځله ددی کوڅې هلکان یې خپل په پلار وهلی.؟
- ستا خبره زه منم خو دا کار یو جنی هیڅکله نشی کولی! امکان یې بیخی صفر دی، صفر.
زبیر- بیا نو ضرور ستا د کاکا زوی دا کار کړی.
- ته ماته دا ووایه چې ته ولی زما په خپلوانو شک لری؟
زبیر- ځکه وایم چې خپلوان وه ځکه پوهیدل چې ذوالفقار کور کی نشته؟ او کور خالی دی! او غل د شپې لخوا راځی نه ټکنده غرمه؟!

د زبیر خبره ماته صحیح معلومیده،خو هر سونه چې فکر می کوی امکان یې نه درلود چې فرید یا کوم بل شناخته داسې کار کړی ویی. فرید زه پیژنم پوهیږم ډیر بیعقل او په زړه تور انسان دی، خو دومره جرعت نلری.زبیر د ماښام ډوډی زما سره وخوړل غوښتل یې زما سره پاتې شی، خو ورور یې زنګ ووهی او مجبوره شو ولاړشی. د هغه په تلو بیا ویره می ډیره شوه. خپل کوټې کې ویریدم! او هلته می نغوښتل ویده شم، دهلیز کې هم تشناب وو او ورڅخه چندان ښه خاطره می نه درلود! میلمه خانه هم بیحده یخه وه!

او ددی ټول څخه ماته مناسب او سم ځای د ذوالفقار کوټه ښکاره شوه! خپل کمپل می راواخیستی او د ذوالفقار کوټې ته ولاړم. د ذوالفقار کوټه کې کړکی نه وه یو الماری وه او څو نالی آواری وه. د کوټې په کونج کې یو میز او یو څو کتابونه وه د میز اندې ته پریوتم. مخامخ دیوال باندې یو لوی ساعت او د هغه راسته طرف ته د الله (ج)او چپ طرف ته د محمد (ص) نوم چې په ښایسته چار چوکاټونو کې پوښل شوی وو زړیدل. د هغه څخه یو څه راسته طرف ته زما او د ذوالفقار یو جوړه یې عکس وو.! د هغه په لیدو می خندا راغله فکر می نکوی ذوالفقار سره تراوسه دا عکس ویی او دومره غټ يې چاپ کړی او خپل په کوټه کې لګولی وی؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا عکس بیحده قدیمي وو، پدې عکس کې زه درې سلور کلن کوچني وم او ذوالفقار د اوه اته کالو ماشوم، خپل په غیږ کې نیولی وم او عکس زما په نظر د دادا په کور کې د نارنج د درختي لاندې اخیستل شوی وو؟ دا عکس چې اول وار ذوالفقار ماته وښودو زما باور نکیدی چې زه یم؟ اخ دومره خایسته، چاغ، سپین، غټې سترګې، بیخي مې باور نکیدی، کاش اوس وخت مې د کوچنیوالو غوندې بنایست درلود! خو اوس داسې بدرنګه یم لکه چې چېه یې په خر سپور کړی یم؟! دا څو میاشتو کې هیڅ فکر مې ودې عکس ته نه وشوی. ګوشکې مې غوږ ته واچولو او یو فلم مې په موبایل کې پلې کوو، ترڅو د فلم پر کتلو ویره مې کمه شي. فلم لا نیمایي شوی نه وو! چې زه ویده شوی وم.

خوب مې لیدلی چې د دادا کور کې یم؟ د نارنجو د درختي لاندې،دادا په سپین کفن کې پداسې حال کې چې زنه یې ورنه تړل وه، د حویلي مینځ کې په چپرکټ پروت وو. انا د برنډې دیوال سره د ادې او څو نور ښځو په مینځ کې ناسته وه او ژړل یې،د دادا د کټ چپ طرف ته یو اته نه کلن هلک یو کوچنی په غیږ کې ولاړ وو! د عکس پشان؟ ذوالفقار نه ژړل یواځې په عجیبه نظر یې دادا ته چې په کفن کې پوښل شوی وو کتل! د دادا کټ ته نژدې شوم غوښتل مې کفن یوڅه د مخ څخه یې لرې کړم ترڅو سم یې ووینم، خو څو سړیان کورته را دننه شول او د دادا جنازه یې پورته کړل.

د ښځو چغې او ساندې ډیرې شوې، د دادا جنازه یې په تلوار ویوړل د نارنج درختي طرف ته مې وکتل، ذوالفقار زه په غیږ کې کلک نیولی وم او ژړل یې! پوهیدم چې خوب دی! پوهیدم خو ماته داسې معلومیدل لکه رښتیا! غوښتل مې د ذوالفقار طرف ته لاړشم او ورته دلداری ورکړم،چې بابا مې ولیدی! د ذوالفقار اندې ته ولاړ وو او یوڅه یې ورته ویل بیایې لاس کړو او کوچنی یې د ذوالفقار د غیږې څخه واخیستې، ذوالفقار د انا طرف ته روان شو او د هغه کوچنی ژړا د بابا په غیږ کې ډیره شوه. غوښتل مې د ذوالفقار پسې لاړشم چې د بابا آواز مې واوریدی چې د هغه ماشوم د قرار کیدو لپاره یې ویل: "مه ژړا بابا دې درنه قربان شي."

ناساپه د خوب څخه پاسیدم... د زړه ضربان مې بیحده تیز وه... ټول بدن مې د خولو څخه لوند خیشت وو... لاس مې پر مخ تیر کو ما په خوب کې ژړلي وه؟ یو جمله مې ذهن کې تاویده راتاویده! داسې لکه چې خوب نه وو؟ او دربښتیا دا جمله ماته ویل شوی وه؟" مه ژړا بابا دې درنه قربان شي" څو دقې بې حرکته خپل په ځای کې کینستلم ترڅو د بدن

(c) ketabton.com: The Digital Library



لړزیدل می کم شی. خدایه لکه چی خپل ټول مصیبتونه دی په دا یو ماښام ماته حواله کړی ښتکه؟ زه د ځلور کالو شاید وم چی دادا" د ذوالفقار پلار زما نیکه " وفات شو. او هیس می یاد ته نه راتلی حتا چهره یی؟! څلور کلن کوچنی کله دومره حافظه لری چی دا خاطرات په حافظه کی وساتی؟

ما حتا د انا مرګ لا نه یادیږی؟ انا چی کله وفات کیده زه د اوه کالو وم! خو بیا هم دومره په جزیاتو می د هغی وفات ذهن ته نه راځی؟ یواځی یو پیکه غوندی تصویر می ذهن کیدی بس. خو دا خوب داسی و لکه ربښتیا؟ د یو څو دقو وروسته حالت می سم شو. په راسته اندی شوم او بغیر لدی چی نور بیځایه فکر ددی عجیبه خوب په اړه وکړم ویده شوم. د کلا د دروازی په ټک، ټک له خوبه پاسیدم.. په زوره می سترګی خلاصی کړی او ساعت ته می وکتل د سهار ۷:۱۵ بجی وه. یو نفر ډیر په بد انداز دروازه ټکول د کوټی څخه ووتم او دروازه می خلاصه کړه.

- ته یي بیعقله! دا نو ښتکه دروازه ټکول دی؟
زبیر- مننه ددی مهمان نوازی څخه دی. راغلی وم وګورم مړ یي که ژوندی؟
- دروازه ځان سره بنده کړه.
( په دهلیز کی کینستلم چی زبیر راننوتی)
زبیر- ماښام ویده شوی که تر سهار وینښ پاتی شوی؟
- دواړه.
زبیر- ښتکه دواړه؟
- ویده شوی وم خو داسی بد خوبونه می ولیدل چی خوب راته د آرام لځایه غذب وګرځیدی، که وینښ پاتی شوی وایم بهتره وو.
زبیر-زه اوس دا خبری پریږده جیګ شه لاس او مخ دی ومینځه چی پوهنتون ته لاړشو، بیا به ددی موضوع په اړه سم صحیح خبری وکوو.
- سمده دوه دقی انتظار وکړه.
زبیر-اوکی.

د زبیر خبره می ومنل او ډیر ژر تیار شوم ترڅو پوهنتون ته لاړشو. زبیر خپل د ورور موټر راوړی و او ډیر ژر او په راحته پوهنتون ته ورسیدو. موټر مو د پوهنتون پارکینګ کی پارک کړو. او د صنف طرف ته راونښو، د امتحان د ورځی پر خلاف نن د مخ ټولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چوکیانی ډکی ویی! او یواځې د شا چوکۍ موږ ته پاتې وه. د صنف په اخیری چوکیانو کیناستلو او د استاد راتلو ته په تمه شو. استاد د څو دقو وروسته پداسی حال کی چی تندی تروش وو صنف ته را ننوتی، په یو لاس کی خپل بکس و او په بل لاس کی زموږ عمل نامی وه! ټولو په ویری باندی د استاذ لاس ته کتل چی هغه ورقی په میز باندی کیخودل او مخ يي موږ محصلینو ته راوړه ویي.

استاذ- نه پوهیږم ستاسو د لاسه و ژاړم؟وخاندم؟خوشحاله شم؟ که خفه؟
( د استاد په خبرو د صنف نماینده وویل:)
نماینده- ولی استاذ؟
استاد- زیات وکم یو هفته کیږی د طب د پوهنځی استاد جلیلی صیب د ناروغی له سببه خپل صنف ته نشو راتلی، زما څخه يي هیله وکړه چی د همکار استاذ په حیث د هغه په نشتون کی د طب د پوهنځی شاګردانو ته ستاسو پشان تمرینی امتحان اخیستلو لپاره سوالونه جوړ کړم.( استاد خپل د خبرو پدی ځای کی په خندا شو او بیایی په تاسف خپل سر وښوره وو او ویی ویل:

استاد- ما هم د هغوی د کتاب څخه ورته شل پښتنی د امتحان لپاره تیار کړل، خو د غلطی څخه د طب پوهنځی پوښتنی می هغه ورځ تاسو ته راوړل او د اقتصاد پوهنځی ده هغوی ته؟
( د استاد په خبری یو دم په صنف کی چغ ما چغ د هلکانو پورته شو)
زبیر- ما تاته ونه ویل دا پوښتنی ولی دومره سخته او عجیبه دی؟ خو تا زما خبره ونه منل.
- ته همیشه د هر امتحان څخه وروسته دا خبره کوی. زه څه خبر وم؟!
زبیر- وای... وای.. دیته وایی شرم موږ دواړه خو خیر پدی رسول( زمو د صنف نماینده څه مرګ شوی وه دی خو باید پوی شوی وایی؟
استاذ- آرام... څه حال مو جوړ کړی؟

یو یو شاګر ولاړیدی او د استاذ څخه يي بیځایه پوښتنی کول. یو شاګرد ویل دا امتحان بیا اخلی؟ نمری څنګه شو؟ دا زموږ اشتباه نه وه، د محصلینو په بیځایه خبرو د استاد حوصله تنګه شوه او په قهرجنه لهجه یی وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاذ- حق خو دادی چې ټول صنف ته د الف څخه نیولی تر یا ټولو ته صفر ورکړم!
( یو شاګرد په تنده لهجه وویل)
شاګرد- ولی صفر راکړی استاذ؟ دا ستاسو اشتباه وه چې غلط پوښتنی مو موږ ته راوړی؟
او حق دادی چې تاسو خپل د غلطی په جبران کې موږ ټول صنف ته پوره نمری راکړی.
( د هغه خبره ټول صنف تایید کړل چې استاد په تُنده لهجه وویل)
استاذ- په همدی خاطر خو وایم چې ستاسو حق دادی چې ټولو ته صفر ورکړم. تاسو تنبلان او بی لیاقت محصلین بغیر لدی چې وو ایست استاذ دا زموږ د پوهنځي د رشتی پوښتنی ندی!؟ لکه خرو پشان سرونه مو ښکته کړی وه او ټول لګیا وی. او د پوښتنو ورقی مو په بیځایه جوابو ډکی کول. نو حق مو دادی چې یو غټ صفر ټول صنف ته ورکړم.

د استاذ پدی خبره ټول په زاری شول. او اخیر استاد ددی خبرو په ویلو چې ددی امتحان په بدله کې په اصلی امتحان کې څو پوښتنی زیات راوړم د ټول صنف خوله بنده کړه.
استاذ د نیم ساعت تهدید کولو او کنځلو وروسته صنف رخصت کی خپله د میز سره ولاړ وو او یو ورقی ته یی په زیر زیرکتل همدا چې ما او زبیر د هغه د مخ څخه تیریدلو ویی ویل:

استاذ- تاسو دواړه مه ځی.

د استاذ پدی خبری زه بیحده وویریدم بیا می د ځان سره وویل "امتحان خو هسی پر ټولو خراب تیر شوی نو بیا ولی و ویریږم؟ یو یو نفر د صنف څخه وتی او موږ دواړو ته یی راکتل.

زبیر- استاذ زموږ سره مو کوم کار وو؟
( استاد خپل دلاس د ورقی څخه سترګی پورته کړل زبیر ته یی وکتل)
استاذ- ته خو زبیر یی کنه؟
زبیر- هو
( استاذ ماته په زیر زیر راوکتل)
استاذ- او ته هم زما په ګمان طاها یی؟
د خولی ناوړی می تیری کړی او ومی ویل- هو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاذ- ما ته هیڅکله په صنف کی د درس تشریح کولو په وقت نه یی لیدلی؟ ولی په صنف کی د نورو محصلینو پشان په درس کی ونډه نه اخلی؟

استاذ پرینخودم جواب ورکړم او ویی وویل: زه پوهیږم تاسو دواړو نقل کړی په امتحان کی؟
(د استاذ په خبره زما او د زبیر دواړو رنګونه و پریدل.)
زبیر- نه استاذ حتما اشتباه مو کړی موږ نقل ندی کړی.
استاذ په خندا وویل: دا خبره می شاید هغه وخت منلی وایی چې پوښتنی ستاسو د پوهنځی د رشتی څخه وایی!. نه د طب پوهنځی؟
- استاذ تاسو وویل هغه امتحان نه حسابه ویی،بیا ولی دومره پوښتنی کوی؟
استا په لوړ آواز وخندل او ویی ویل: نه یی حسابه وم بیغمه واوسیږی یواځی دا راته ووایست چې چا د چا څخه نقل کړی وو؟

یو دوه دقی موږ دواړو یو بل ته وکتل او اخیره کې زبیر په کراره غږ وویل: هغه استاذ ما د طاها څخه نقل کړی وو.
استاذ ماته په زیر زیر راوکتل او ویی ویل: تا څنګه د طب د پوهنځی شل پوښتنو یو دم صحیح جواب کړی؟
( ما او زبیر دواړو استاذ ته په حیرانتیا وکتل!)
- ما صحیح جواب کړی استاذ؟
استاذ خپل دلاس ورقه ماته راکړل او ویی ویل: دا ستا ورقه نده؟
( ورقه زما وه! خو ما داسی پوښتنی حل کړی نه وه؟)
استاذ- ته د طب سره کومه علاقه او شوق لری؟ که کورنی کی دی سوک ډاکټر دی؟

(نه پوهیدم استاذ ته څه جواب ورکړم؟ او استاذ هم لکه چې زما جواب ته منتظر وو. چې زبیر زما مرستی ته ځان راورسه ویی او ویې ویل: هغه استاذ ځو وخته مخکی طاها د کار پسي ګرځیدی خو کار ورته نه پیدا کیدی،په همدی خاطر ما ورته مشوره ورکړل چې د طب د پوهنځی د محصلینو نوټونه او پوښتني ولیکی. ځکه هغوی ددی کار په بدله کی ورته پیسی ورکول. شاید په همدی خاطر هغه پوښتنی یي صحیح جواب کړی وه.

د زبیر په خبره استاذ لاڅه کوی چې ما لا د حیرت څخه خوله خلاصه پاتی شوه! دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاخ داره دروغ؟ خو خدای دی خیر ورکړی بچ یی کړم.

استاذ- افرین دی پرتا ویی ځوانه!ما هیس فکر نه وکړی چی پدی وخت کی هم داسی غیرتی او ښه هلکان واوسیږی؟ ځل اپرین دی پرتا ویی بچیه!

( د زبیر د ورور په موټر کی د کور په طرف روان وو.)
- تا دا دومره غټ دروغ څنګه په یو دقه کی جوړ کړو؟
زبیر په خندا وویل: بد کار می وکو د استاذ مخ کی می د فلم هیرو جوړ کړی؟
- نه خبره د بد او ښه نده، زه دیته حیران یم چی تا څنګه یو دقه کی دومره شاخ داره دروغ جوړ کړل؟ او ودی ویل؟
زبیر- زه داسی نابغه انسان یم. اوس خو سوک نشته موږ دواړه یو، رښتیا ووایه څنګه تا د طب د پو هنځی پوښتنی حل کړی وه؟
- هغه ما نه وه حل کړی!

زبیر- ستا ورقه نه وه؟ ای مړ شی ان شاءلله، سبا که استاذ پوی شی هغه ستا ورقه نه وه زه ورته په شرمونو شرمیږم. ای خـ.. ( خبره می ورپری کړل او ومی ویل)
- ورقه زما وه، خط هم زما و خو؟!
زبیر- خو څه؟
- خو ما هغه پوښتنی نه وه جواب کړی؟
زبیر- تا هغه ورځ وویل چی توکل دی پخدای کو او هرڅه چی ذهن ته دی راتلل ولیکل دی؟ شاید خدایې دی ټول صحیح جواب کړی وی؟
- شاید امکان لری خو بیاهم نه دومره 20 پوښتنی؟

زبیر ته می نور څه ونه ویل، او هغه هم نور پوښتنه ونکړل. څنګه امکان لری؟ هغه ورقه د استاذ په لاس کی زما خپل وه، حتا خطیی هم زما وو! خو ما حل کړی نه وه؟ ځکه هرڅونه که توکلي ویی بیا هم دومره می یاد دی چی هغه ورځ ما د یو پوښتنی په جواب کی هم د هورمون او دواګانو نوم نه ولیکلی؟ خو نن د استاذ د لاس ورقه ټول د همدغه شیانو څخه ډکه وه؟

- د لاری نیمایی کی و دریږه نور لاره زه خپله ځم ته زحمت مه اوباسه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبیر- تر کوره دی رسه وم زه بیا هغسی ځم موټر زمری ته سپارم چی بیغمه شم ورنه.
- زړه دی موټر دی ماته خو فایده ده.

د هلیز په مینځ کی پروت وم. بیحده زیات وږی وم، خو د آشپزی حوصله می نه درلود. خدایه څه کیدل یو سوک وایی او ماته یی ډوډی تیاره کړی وایی؟ لیلیه ما پدی خوښه وه هلته دری وخته ډوډی یي په وخت راکول. منم چی کولمي راته په لوبیا، ماش،او وریجو شنه کړل، خو نن کاش همغه د لیلی لوبیا وایی خو وای. فکر می ولاړو د بابا خواته پخوا که نور نه وو په زور، تهدید، سختګیری،کنځلو، خبری راسره کول خو اوس، یو شان بی فکره غوندی شوی. داسی رفتار یی شروع کړی چی مثلا غواړی ماته ووایی "ستا مرګ او ژوند ماته بیخی مهم ندی."دا دوه ورځی چی هم دلته وو یو خبره یی لا راسه ونکړل.

په یاد می دی کوچنی وم د بابا تسبیح می راخیستلی وه، هغه تسبیح په بابا بل رقم ګرانه وه تراوسه ورسره ده. کوچنی وم غوښتل می د نورو کوچنیانو پشان خپل د پلار پیښی وکړم او ځان څخه هغه جوړ کړم، د هغه لونګی او تسبیح می راوخیستل او ولاړم چی ادی ته یی وښایم چی هغه شبیه بابا لکه لیونیانو پشان د کوټی څخه راووتی او زما په لاس کی خپل تسبیح ولیده! هغه ورځ دومره ډیر یی ووهلم چی یو  هفته سم ګرځیدلی نشوم. یو تسبیح آیا دومره ارزښت درلود چی ما ورباندی لکه سپی پشان وډبه ویی؟ شاید درلود؟ نور نغواړم دی خبرو ته فکر وکړم، خو زړه می هم نغواړی چی لیاده یی وباسم. همیشه پلرونه زامن عاق کوی؟ خو ما خپل پلار عاق کړی. د دروازی په ټک ټک هوښیار شوم.دروازه می خلاصه کړه. یو د اته نهه کالو کوچنی هلک یو کاسه په لاس کی ولاړ وو. زما پرلیدو یی کاسه زما خواته ونیول او ویی وویل:

کوچنی- مور نن خیرات کړی دی دا ستاسو برخه ده.

کاسه می ورنه واخیستل کاسه کی وریجی هغه هم ساده! بغیر له اوڅکو!او غوښه قرمه وه! "خدایه نه وم خبر چی دومره دربانادی ګران یم او دومره ژر زما خبری قبول کوی" د وریجو او غوښو پرلیدو دومره خوشحاله شوم چی لیاده می ووتل د هلک څخه پوښتنه وکړم چی د کوم کور څخه دی؟ همدا چی سر می راپورته کړو د هغه په تش ځای حیران شوم؟ دومره ژر چیرته ولاړی؟ ما څنګه د هغه د پښو د تلو آواز وانه وریدی؟ اوږه می پورته واچول او بغیر لدی چی نور بیځایه فکر وکړم په خوشحالی کورته ننوتم. ماښام

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواته زبیر هم راغی او ښه و ځان سره یی په لاره کی ډوډی اخیستی وه ځکه هیس د ډوډی تیار کولو حوصله می نه درلود.

زبیر- ولی لری کینستی؟ راشه ډوډی وخوره.
- نوش جان دی زه یي نخورم. غرمه خیرات وو، ما ته یي وریجی غوښنه راوړی وه. ځای دی خالی داسی خوند یي وکوو.
زبیر- د چا خیرات وو؟
- نه پوهیږم؟ غوښتل می پوښتنه وکړم خو کوچنی تللی وو.
زبیر- عجب!؟

زبیر د ډوډی خوړلو وروسته تلویزیون مخکی پریوتی تر څو خپل بیځایه ډرامه(سریال) وګوری!؟ او زه هم ولاړم آشپزخانی ته ترڅو چای دم کړم.

زبیر- دا بیهان زما په لاس راغلی وایی داسی به می ډبولی وایی! چی خوند یی ورکړی وایی. ډرامه یی بیخی خرابه کړی خپل پدی غټ سر.
(د آشپزخانی څخه می خپل غږ پورته کړو ترڅو جواب یی ورکړم)
- پخدای قسم زبیر تا د سریانو عزت په دوه روپو کو پدی کارو دی؟
زبیری- په کوم کار؟
- پدی ډرامه کتو دی! اخ تاته یی د ښځو په ډرامو څه؟
زبیر- اول خو دا چی دا د ښځو ډرامی ندی! دویم دا چی اوس زیاتره جنکیان دا ډرامه ګوری! که زه ددی ډرامی په سر او بر ستا رقم پوی نشم دجنکیانو سره څنګه خبری وکړم؟

( د ترموز او دوه پیالو سره دهلیز ته راغلم او زبیر ته چی تلویزیون مخکی پروت وو یو لغته می په پښه ورکړل)
- ای توف دی ویی ستا پدی کار. ته د جنکیانو ته د ګپ ورکولو لپاره دا بیځایه سریالونه ګوری؟
زبیر په خندا وویل: دا خبره منم چی د سریال لیدو اصلی مقصد می د جنکیانو سره د ګپ موضوع جوړه ول دی، خو باور وکړه اوس یوڅه خپله هم دا سریال راته خوند راکړی.
- ما خپل په ټول عمر کی یو سریال کتلی البته هغه هم ډیر کوچنی وم چی کتلی می وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبیر- کوم سریال وو؟
- نه پوهېږم طلوع کې راتلې که لمر کې؟ خو هندي سریال وو طولسی!
زبیر په خندا وویل: دا سریال ما کتلی ډیر پخوانی سریال وو طولسی، سوندورا، هغه بل څه نومیدی؟ ها آقای بجاج؟
- ما یوائځې هغه کتلی هغه هم ډیر لږ او دا سریال چې ته ګوری، ددی سریال خو بیخي په سروبر نه پوهیږم؟
زبیر په تلویزیون کې یو جنې ته اشاره وکړل او ویې ویل:ګوره هغه جنی چې ژبه یې بندیږی هغه تیکی ده، هغه هلک هم بیهان دی! ددی میره دی، البته قصه یې دسې ده چې دا....

او زبیر ماته پوره د هغه سریال قصه د اول څخه تر همدا نوی برخې وکړه، او رښتیا ووایم زه هم د بیکاری څخه کیناستم ترڅو ویګورم! د هغه د خلاصیدو وروسته یو بل سریال هم زبیر وکتو البته ترکی سریال وو چې بیخي نو...د شپې پنځه کم 3 بجې وه چې د ویده کیدو اړده مو وکړل. خپل ځای او د زبیر ځای دواړه می د ذوالفقار په کوټه کې واچول زبیر ته می کمپل راوړی چې هغه په حیرانتیا وویل:

زبیر- دا عکس ستا او د ذوالفقار دی؟
- هو.
زبیر- دا کوچنی چې د ذوالفقار په غیږ کیدی ته یې؟
( خپل په ځای د پریوتو په حال کې می هو ورته وویل)
زبیر- ځومره ښایسته ویې! د ځو کالو مخکې عکس دی؟
- نه پوهیږم ډیر پخوانی عکس دی، شاید د شل کالو مخکې ویې؟!
زبیر - وای! سومره ښایسته ویې!!؟؟
په خندا می وویل: بلا.. ولی اوس ښایسته نه یم؟
زبیر - نه! کوچنی والو کې بیحده ښایسته ویې! د اوس څهره دی او د هغه وخت قواره دی ځمکه او اسمان فرق کوی.
- انسان بدلیږی شل کاله.... لږ وخت ندی.
زبیر - دا خو دی خو بیا هم اوس ډیر بدرنګه شوی یې.

یو څو کنځل می ورواچول ترڅو خپل خوله بنده کړی. منم چې ماشومتوب کې ډیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنایسته وم، خو اوسم دومره بدرنګه نه یم څومره چې دی وایي. په راسته انډی شوم او مخ می د زبیر څخه واړه ویی.

سهار په ۸:۱۵ دقو زبیر په زوره راجیک کړم او خپله هم لګیا وو خپل ویښتیان یی جوړه ول!

زبیر- پاسه ناوخته دی د میکرونامیک استاذ وخت خو ولاړی، خو د ثقافت درس ته رسیږو ژر کوه څه پروت یی؟
(بدن می بیحده درد کوی نه پوهیږم ولی؟ او هیس د پوهنتون تلو حوصله می نه درلود په همدی خاطر می وویل: )
- ناوخته دی ماته هم خوب راځی نن نځو سبا به لاړشو، او د نور محصلینو څخه به نوټونه واخلو؟
زبیر- تخو نغواړی دا اخیری کال ناکام شی؟ که غواړی بیا سمده ویده شه خو زه زم.

زبیر په زوره مجبور کړم ریښتیا یی ویل دا د اسلامی ثقافت استاذ داسی ظالم انسان وو، چی حد یی نه درلود. البته زما په نظر ټول د پوهنتون استاذان داسی دی؟ډیر ژر پوهنتون ته ورسیدو خو د بد قسمت څخه استاذ راغلی وو. او دا استاذ یو قانون درلود هغه دا چی خپل د ځان څخه وروسته یی محصلین صنف ته نه پریښودل؟

- اوس څه وکو؟
زبیر- پوهیږم چی امکان نلری لاره راکړی صنف ته، خو بیا هم یو کوشش کوو خدای دی څه لیدلی!؟ شاید پریږدی.
- نو ته مخکی شه.
(زبیر قرار د صنف دروازه خلاصه کړه او په بیحده عاجزی او ادب کی وویل)
زبیر- ډیر ببښنه غواړو استاذ لاره بندی وه ناوخته شو.
- یو نن ناوخته شو استاذ نور نه تکرار کوو.
استاذ- راننوځی.

ما او زبیر لاڅه کوی چی ټول د صنف هلکانو هک پک حیران شول. موږ دواړو زاری کول خو باور مو نکیدی چی ویی منی؟ د همیشه پشان د صنف په اخیری چوکی کینستو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبیر- نن دا لمر د کوم خوا څخه راپورته شوی؟ چی دا استاذ داسی مهربانه شوی دی؟
- نه یم خبر خو شک نلرم چی حتما د غرب څخه راختلی.
استاذ- ما مه مجبوره کوی بیرته مو د صنف څخه وباسم؟
زبیر- وبخښی استاذ نور خبری نکوو.

د صنف تر اخیره نور ما او زبیر خبری ونکړل. درس خلاص شو ما او زبیر په قراره باندی د پوهنتون د تعمیر څخه ووتو د نن لپاره مو بل درس نه درلود دوه دانی وه چی یو تیر شوی وو.

زبیر- هیس می باور نکیږی چی دا استاذ دی دومره بیعقل وی؟
- بلا بی ادبه لاره یی صنف ته درکړه ورته بیعقل وایی؟
زبیر- اخ باور می نکیږی څنګه زموږ سره دومره ښه چلند وکړو؟ ما خو بیا هم یو چانس درلود ځکه با استعداده او خوش اخلاقه محصل یم! خو تاته یی څنګه اجازه درکړه؟
- بنده کړه خوله دی اصل کی ما چانس درلود نه تا؟ زه دی ته حیران یم چی څنګه ته یي پدی جنجالک وبینتیانو؟ پدی خط شوی وریځه؟پدی کل شوی ږیره؟ پدی دری منه لاس بندیانو او غاړه کیو؟ صنف ته پریخودلی؟

( زموږ د ثقافت استاذ بیحده طالب مزاج انسان وو او د داسی ځوانانو څخه یی کرکه درلود)
زبیر- ورک شه خیرنه اوس زیاتره ښایسته هلکان داسی شتیلونه کوی. شاید استاذ هم پوی شوی ویي؟
- دا کوم ښایسته هلکان چی ته یادوی چی دا کارونه کوی، " په خندا می وویل" ورورە جانه هغه ټول تر باغو اړول شوی. ته یی هم اړولی یی که څنګه؟
زبیر- مرګ دسپی بچیه! پدی خبره دی.
په خندا می وویل: حقیقت ترخه ویی کرانه.
زبیر په قهر وویل: ستا مرګ پوره دی نن طاها...
(موږ دواړو یو بل ته کنځلی کول چی یو نفر وویل " سلام" ژر مو بحث راټول کوو)

زبیر- علیک سلام اغلی زینت او..

(c) ketabton.com: The Digital Library



زینت- او میشا.
زبیر په خندا وویل: هو. هو میشا ښایسته نوم دی( زبیر په خندا زما هم خندا راغله زما په نظر زبیر هم زما پشان فکر کوو، میشا یا میخه؟ ههههه)
میشا- مننه
زبیر- کوم کار مو درلود زموږ سره؟؟!
زینت- هو هغه په اصل کې موږ آوریدلی تاسو د طب د پوهنځی نوټونه او پوښتنی لیکی؟

اول حیران شوم خو وروسته پوی شوم چی اصل کی دا د زبیر د هغه بیځایه دروغو په وجه راغلی. غوښتل می "نه" ووایم او دهغه ځای څخه ځان بچ کړم خو زبیر زه خبری ته پرینخودم او په خوشحالی وویل:

زبیر- هو هو بلکل زموږ سره هر ډول پوښتنی او نوټونه شته د طب د پوهنځی. څنګه طاها؟
( غوښتل می ووایم نه خو شرم وو. زه به ددی زبیر سره وروسته ګورم)
- هو.
میشا- څومره ښه هغه څومره.. پیسو باندی... زما مطلب تاسو...
زینت- میشا جانه وایی تاسو هر نوټ او چپتر په څومره قیمت لیکی؟
زبیر- تاسو دواړو ته رایګان.
زینت- نه داسی مه وایست تاسو زحمت...
زبیر- نه کنه داسی مه وایست یو بل وار د پیسو خبره وکړی خفه کیږم پخدای!
میشا- نه داسی مه وایست خو داسی هم نکیږی نوو..

د دوی په خبرو احساس می کوی فشار می پورته شوو، اخ زه به دا زبیر یواځی راګیر نه کړم بیا زه ورسره کار لرم. بی شرم بی حیا انسان! د دوه جنکیانو لپاره نږدی دی د ځان څخه ډاکټر هم جوړ کړی! بیعقل هغوی لګیا وه، یو ویل پیسی به حتما اخلی زبیر ځان ورته پورته نیولی وه چی نه امکان نلری، او ما دی ته فکر کوی د طب د پوهنځی پوښتنی او نوټونه به موږ د کوم ځای کړو؟ په همدی فکرو کی وم چی نه پوهیږم ناساپه می د سترګو مخ کی تکه توره شپه شوه، ځای پر ځای کیناستم. نه پوهیږم څو دقی په هغه حالت کی وم نه می شئ آوریدی او نه می هم لیدی! خو داسی احساس می کوی چی یو سوک می اوږه راته ښوره ویی. څو دقو وروسته حالت می ښه شو د پوهنتون د حویلی په چوکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناست وم؟

زبیر په اندیښنی وویل: بسم الله "د زبیر په بسم الله ویلو یو درد می خپل په بدن کی احساس کړو خو زر ښه شوم" ښه یی طاهاً؟
- هو ښه یم.
زبیر- ناساپه څه درباندی وشو؟
- نه پو هیږم لکه چی فشار می ښکته شو؟
زینت- صبا ناری مو کړی؟
( اه .. دا دواړه تراوسه نه وه تللی؟ دواړه څنګ په څنګ ولاړی وه او ماته یی راکتل عه عه سومره بد می راځی د یو چا د نظر لاندی و اوسیږم.)

زبیر په قهر وویل: دا بیعقل هیڅکله صبا ناری نکوی. نن ناوخته وه زما هم لیاده ووتل یوښی تیار کړم.
میشا- تاسو دلته کینی زه تاسو ته یوښئ د دباندی څخه راغواړم.
- نه ضرورت نشته مننه موږ خپله ځو.
زبیر- تاسو هم زموږ سره راشی دا نزدی رستورانت ته ځو.

دومره می د زبیر پدی خبره عصاب خراب شول چی په وړایه د قهر څخه می تندی تروش کړو، زما په نظر هغه جنکیانی هم پوی شول.

زینت- نه مننه زبیر جان موږ باید لاړشو کار لرو انشالله یو بل سم وخت.
زبیر- سمده که کار لری نو مزاحمت نه کوو تاسو ته ښه وخت.
زینت- تاسو ته هم په ځان پام کوی خدای پامان.
زبیر- خدای پامان.

د هغوی د تلو وروسته زبیر په زوره د یو هنتون د باندی هوټل ته ویوړم او سم صحیح ډوډی راباندی وخوړل.

زبیر- فکر دی وو د زینت ملګری تاته خومره کتل؟
- زه زینت نه پیژنم ته یی ملګری یاده ویی؟! رښتیا تا هلته د هغه دواړو جنکیانو په مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کی څه غول خوړل؟
زبیر- بلا بی ادبه.
- نه تا څه بد کول چې ویل دی مور درته نوټونه لیکو؟ د کوم خوا نوټونه؟ بیعقله یو دروغ باندی دی زړه یخ نشو چې بل دی ووایې؟
زبیر- ته ډیر ساده یې خبره د نوټونو نه وه.
- نو ده څه وه؟

زبیر- د هغوی صنف کی ستا په خیال یو نفر هم نه وو چې ورته نوټونه ورکړی؟
- شاید نه وو چې مور دواړو ته یې وویل؟
زبیر- نه ساده هلته بیحده نوټونو والا خلک موجود وه،خو خبره دا وه چې هغوی غوښتل ته ورته نوټونه ولیکی؟
- زه؟ ولې؟
زبیر - عه خره نوټونه بهانه وه د زینت ملګری څه نومیده؟ ها میشا لکه چې ته خوښ شوی یې؟
- اپلاتی مه وایه.

زبیر- رښتیا وایم باور وکړه، هغه ورځ چې ما هغه دروغ ستا په اړه استاذ ته وویل استاذ هم ددوی صنف کی ستا تعریف کړی وو. هغه ورځ ماته زینت وویل او نن هم ملګری راغلی ستا څخه نوټونه غواړی؟ دا ټول یو معنا لری بیعقله.
- ته اول ماته دا ووایه دا زینت زینت چې ته وایې؟ دا جنی څنګه ته پیژنی؟
زبیر په خندا وویل: د طب پوهنځی ځانته د وتساپ ګروپ لری هلته ما دا وپیژندل ډیره شوخه جنی ده.
- ته د طب د پوهنځی د وتساپ ګروپ کی څه مرګ غواړی؟

زبیر- زه چې یم د ټول پوهنتون خبرونه او احوال ساتم. ستا پشان ساده خو نه یم. اوس خو مور دواړه یو رښتیا ووایه خوښه دی نشوه؟
- سوک؟
زبیر په خندا وویل: میشا؟
- زه خو وایم چې داسی کومه خبره نه وه.
زبیر- او زه وایم څل فیصده همدا خبره وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- که داسی خبره ده نو ولی هغی ماته ونه ویل؟
زبیر- ټول ستا پشان سپین سترګی ندی چی مخامخ ووایی، د نوټونو په بهانه حتما درته وایی.

- اوه زما خدایه سوک چاته وایی سپین سترګی؟ او رینتیا چا تا ته ویلی چی زه ورته نوټونونه ورکوم؟
زبیر- ولی نغواړی ورسره خبری وکړی؟ ښایسته جنی ده دنګه ونه،شنی سترګی، تک تور وینتیان، پیسه داره، با سوادهـ...
- مرګ، مرګ بی شرم انسانه! نه شرمیږی پدی خبرو دی؟ که دومره ښایسته ده ورځه خپله ورسره واده وکړه ماته ولی وایی؟
زبیر- افسوس ته خر یی خوښ شوی یی نه ځه؟
#شهاب🌙 :
( پوهیدم زبیر زما څخه هغه د " باغو د اړولو" د خبری غچ اخلی خو بیا هم عصاب یی بیحده راخراب کړل)
- ما دا نفری او یارانی کول نه خوښیږی او نه می هم زده دی.
زبیر په خندا وویل: که یارانه دی نه خوښیږی داریک المرکه النکاح وکړه؟!
- هغی ماته یو سلام وکړو که نه! تا خبره تر واده ورسه ول؟
زبیر په خندا وویل: زه چی یم آینده نګره انسان یم! همدا چی سوک را وګوری د هغه په ویلو نه ویلو خبرو پوهیږم،ربتیا اوس د ربتیا دی فشار ښکته شوی وو که بل مریضی دی پیدا کړی او ماته نه وایی؟
- لکه څنګه مریضی؟

زبیر- څه پوهیږم لکه تومور، د وینو سرطان، یا بل کوم شی؟؟
- یعنی ستا پشان ملګری چی زه ولرم نور دښمن څه کوم؟ ته یوازی ځان د سل دښمنانو کار کوی.
زبیر په خندا وویل: نه مړ شی مطلب می داسی نه وو، مطلب می دا وو چی فشار یو دم نه ښکته کیږی یوځل لاړشه ډاکتر ته کوم بل مریضی ونلری؟
- سم صحیح خبره کوه چی پوی شم. سمه ده که بل ځل داسی وشو ضرور زم.
زبیر- ښه نو جواب دی میشا ته څه دی؟
-ما د داسی کارو او مرکو څخه ځلور کاله مخکی توبه وباسل، نور نو دا خبری پریږده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبیر- همغه خلور کاله مخکی هم تا دومره په کلکه باندی مرکه نه وکړی؟ کنه د کاکا لوری یې درته درکول.
- نور کلک ستا په نظر څه رکم ویی، لرګی می راخیستی وایی؟ بابا می ور استولی وذوالقرنین کاکا ورته ویلی وه چې طاهر ته یې وغواړی درکوم یې خو طاهاته نه؟!
زبیر- ولی طاهر ته یې درکوم طاها ته نه؟
- زه څه خبر یم څه چینجی زما سره درلود.
زبیر- خو زه فکر کوم د کاکا نیت دی بدل شوی دا څو کالو کی؟!
په قهر می وویل: بس دی.

زبیر- ټوکی می کول ولی په قهر کیږی؟ که سر دی درد کوی راځه ډاکټر ته دی ویسم؟
- ضرورت نشته منه زه ښه یم.
زبیر- دا څنګه ښه یې؟ هسی ځای پرځای راغورځیږی بیا وایی ښه یم؟
- ومی ویل چې فشار می ښکته شوی وو، اوس ښه یم.
زبیر- اوس یو دم ښه یې؟
- هو اوس رک روغ یم.

نور زیات د زبیر سره پاتې نشوم او هر سونه چې ویی ویل زه تر کوره درسره ځم، ومی نه منل او یواځې ځان د کور طرف ته روان شوم. کرکه لرم لدی چې خپل د کورنی او خپلوانو توپیر ایخودل ګورم! نه پوهیږم ولی ذوالقرنین کاکا په طاهر راضي وو خو زما څخه یې کرکه درلود؟ ورک دی شی. زه یې هم اوس په غم کی نه یم اوس که خپل لور ماته مفته هم راکړی زه یې نه کوم. پاتې شوه د جنی سره د ملګرتیا او یارانی خبره! ما ډیر وخت د ذوالفقار سره تیر کړی! او ذوالفقار د داسی کارونو څخه کرکه لری! او همیشه یو خبره ماته کول " څنګه چې خپل ناموس لپاره زمری یی! د بل چا ناموس ته هم سپی مه جوړیږه."

او زه هم همدا خبره منم. ځکه زه خپله خورګانی لرم او دا فکر چې یو هلک وغواړی زما د خورګانو سره داسی پلیده اړیکه جوړه کړی زاره راچوی. فکر می ذوالفقار ته شو.ډیر وقت تیر نکړو؟ ویل یې په دوه ورځو کی راځم نن لکه چې دریمه ورځ ده؟ ولی رانغی؟ یواځې یو مسج یې راته هغه بل پرون کړی وو چې زه رسیدلی یم؟ او تراوسه ورځخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیخبر یم! ځان سره می وویل چی کورته ورسیږم خپله ذوالفقار ته زنګ وهم او خبر یې اخلم.دا هم د خدای لوی فضل دی چی دده د تلو وروسته کوم شناخته ماخته میلمه ندی راغلی؟ کنه بیا به می څه کار کړی وایی؟ په همدی فکرو کورته ورسیدم. هیس بنه احساس می نه درلود نه پوهیږم ولی؟ د کور د دروازی په قفل لګیا وم چی خلاص یې کړم چی له شالخوا یو چا راباندی غږ کړل.

- دیخوا؟!

غږ می ورڅخه وپیژندی د خدای شرمه ولی جنرال سپین سترګی لور وه. کوم توجه می ورته ونکړل او کوشش می وکو چی ژر دا لعنتی دروازه خلاصه کړم خو نه پوهیږم ولی نه خلاصیده؟ چی هغی بیا غږ وکړو دومره عصبی وم چی حد یې نه درلود هرسونه چی کوشش می کوی ځان کنټرول کړم او کوم شر ځانته جوړ نکړم ونشو، دریم وار چی غږ یې کړو مخ می ورواړه ویې. او ومی ویل:

- ها؟ څه وایی؟
زما په قهرجنه لهجه جنی یوڅه وویریده، سر یې ښکته واچوی او په آرامه غږ یې وویل: ستا نوم څه دی؟
- زما نوم څه کوی؟تذکره راته جوړه ویی؟
زما په خبره په خندا شوه او ویی ویل: ته ډیر شوخ هلک یی. نه تذکره نه جوړه وم هغه..
- هغه څه؟
جنی- هغه... هسی پکار می وو. ته ولی دومره ډارن یی؟
- زه ډارن نه یم.
جنی- نو څه یي؟
- موږ دی منطقي کی عزت لرو.
جنی په زوره په خندا شوه په خندا، خندا کی وویل: یعنی که ته ماته خپل نومووایی ته بی عزته کیږی؟

په تروش تندی می وویل: هو بی عزته کیږم که زما نوم ستا پشان جنی د خولی څخه سوک وآوری!
زما په خبره جنی د قهر څخه تکه سره شوه، په لړزانده غږ یې وویل: خپل د خولی سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



پام کوه چې څه تری وځی؟ کنه..
- کنه څه؟ خپل پلار ته وایې؟ او ما ورباندی و هی؟ ته نه شرمیږی داسی کارونه کوی؟ د پینتنو نوم دی پدی کارو بد کړو.

زما په خبرو د هغې غوسه په ژړا بدله شوه،او خپل کورته ننوتل د تلو څخه مخکی سر را وګرځوی او په بنده، بنده ژبه او د اوښکو څخه په ډکو سترګو يي وويل:فکر می کوی چې ته د هغه نورو پشان نه یی! او دومره ژر قضاوت نه کوی.

د هغې په تلو عصاب می نور هم خراب شول، ما نه باید هغه خبری ورته کړی وایی. د هغې خبره صحیح وه ما بیحده ژر قضاوت وکړو. ترڅو چې یو شئ خپل په سترګو وه نه وینې نه باید ورباندی باور وکړی. خلک د هر چا پسی بیځایه خبری کوی شاید ددی جنی پسی هم بیځایه خبره ترل شوی وی؟ الله اعلم! عصبی وم ځکه ما هیڅ نه خوښیږی یو څوک په ژړا کړم! هغه هم یو جنی!؟ زړه می غوښتل ورپسی ناری کړم او بخښنه وغواړم بیا می ویل که بخښنه وغواړم فکر به وکړی چې زما هم زړه ورسره دا کارونه غواړی؟!

ځان سره می وویل تریخ غرپ وو تیر شو نور دا جنی هیڅکله ماته مزاحمت نه کوی، نو په غم کی مه کیږه چې ژاړی که ساندی وهی! زما ګناه نده. دروازه می خلاصه کړه خپل بوټونه می لاس کی راواخیستل ترڅو د هلیز کی کیږدم، کله چې د هلیز می په هغه حالت ولیدی بوټونه می دلاس څخه وولیدل! د هلیز ډک و د کالو' لوښو، کتابونو، الماری؟! ټول په دهلیز کی تیت او پرک پراته وه! داسی وو لکه چې طوفان راغلی؟ بیحده ویریدلی وم! ډاډمن وم یو نفر په آسانی کورته را ننوځی او داسی کارونه کوی. او ښه خبر دی چې کوم وخت زه کور کی یم او کوم وخت نه؟

غوښتل می اول زبیر او بیا ذوالفقار ته زنګ ووهم او ورته ووایم چې څه خبره ده؟ په کور کی بد احساس می درلود په همدی خاطر غوښتل می د کور څخه بهر زنګ ووهم، همدا چې یو قدم د دهلیز دروازی ته نږدی شوم زما د کوټې څخه د یوشئ د غورځیدو آواز راغی! او د هغه ټپ سره د یو چا دپښو آواز می تر غوږ شو! لکه چې منډه یی وهل؟! بیحده ویریدلی وم، عقل می ویل د کور څخه ووځه او زبیر ته زنګ ووهه؟! خو زړه می ویل یوځه زړه او جرئت وکړه او کوټې ته لاړشه ترڅو ووینې څوک دی چې دا کارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوی؟ اخیره زړه او جرعت می سره یو کوو او ځان سره می وویل مرګ هم یو ځل غیرت هم یو ځل ورځه وګوره سوک دی؟

څو قدمه چې کوټی خواته نږدی شوم غږونه دومره زیات شول چې خپل د تصمیم څخه پښیمانه شوم. کوم نفر چې دومره ډیر شیان خراب او ځای پرځای کولی شی، آیا زما مړ کول ورته کوم سخته کار دی؟ په همدی فکرو د ځان سره می وویل بهتره به دا ویی چې له کوره ووځم او ژر زبیر ته زنګ ووهم ترڅو کمک ته راشی. خپل په هوښیارانه او منطقی پریکړی بیحده خوشحال شوم.. یو قدم می د دهلیز د دروازی خواته واخیستی چې د شالخوا یو کلک شئ می په سر ولږیدی!

دومره کلک ولږیدم چې ځای پرځای په ځمکی وغورځیدم. سترګی می پټی وه، خپل ځان ته می حرکت نشو ورکولی، حتا خپل سترګی می لانشو خلاص کولی، احساس می کوی چې په یو تیز شئ یي په سر وهلی یم. بیحده ډیر د ټک ځای درد کوه د درد څخه ډیر پدی خبره ډاډمن وم چې یو سوک زما سر ته ولاړ دی؟! د ډیر ویری څخه ژړا ته رسیدلی وم. یو ګرم نفس می خپل د غوږ سره احساس کوو چې فشار یي راته صفر ته ښکته کوو! خپله پوی شوم چې بدن می یخ یخ شو.

خپل دلاس د هډوکی په مات کیدو د ډیر درد څخه یو چغه می د خولی ووت، زما په غږ لکه چې د هغه کس غوسه نور هم زیات شول چې له وینتیانو څخه یی ونیولم، په همدی وخت د کلا د دروازی ټک ټک شو. لږ د امید رڼا می په زړه کی بل شوه، چې شاید زبیر ویی؟ یا شاید کوم همسایه راغلی ویی؟همدا چې راغلم یوڅه خوشحاله شم! ناساپه د ځمکی څخه پورته شوم او پر دیوال ولګیدم... نور په ځان پوی نشوم.

***

کوښښ می وکوو خپل سترګی خلاصی کړم خو کلک موښتی وه. یو څه نور می هم زور ولګوی او دا ځل بریالی شوم چې سترګی خلاص کړم. په نهایت حیرت کی په روغتون کی وم! غوښتل می ولاړشم چې یو وحشتناکه درد می په سر کی وپیچل شو چې بی اختیاره می اخ د خولی ووتی. یو آشنا غږ په ورختایی وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبیر- نه.. نه. مه پاسېږه ډاکټر دی ویل پرینږدم ځان ته شور ورکړی.
- څه شوی.
زبیر- بنه پوښتنه ده، البته زه باید ستا څخه دا پوښتنه وکړم.
(تازه تول شیان می یاد ته راغلل ژر مي خپل لاس ته وکتل په ګچ کی وو!)
- چا زه روغتون ته راوړم؟

د دی څخه مخکی چی زبیر جواب راکړی د کوټی دروازه خلاصه شوه، او ذوالفقار په تروش تندی پداسی حال کی چی کالی تول په وینو لړلی وه کوټی ته راننوتی.

ذوالفقار په قهر وویل: افسوس! ځل افسوس چی د روغتون په چپرکټ پروت یي او سر و لاس دی مات دی! کنه قسم پر خدای داسی می وهلی چی یو میاشت خپل ځایه شور دی نشو خوړلی.
په تلوار می وویل: پخدای ما هیڅ کار ندی کړی.
ذوالفقار- بنده که خوله دی( او بیایی په قهر وویل) تا بیعقل ولی همغه اول ځل چی کور ته داخل شوی وه، او ستا کوټه یي خرابه کړی وه ماته زنګ ونه وهی؟ ولی دی ماته ونه ویل؟

( زبیر ته می وکتل چی هغه هم ژر وویل)

زبیر- ماته داسی مه راګوره.
ذوالفقار خپل لاس زما مخ ته وښوره ویی او ویي ویل: ماته وګوره خپل خوله خلاصه کړه او د انسان بچی پشان د اول څخه تر اخره توله قیصه وکړه.
زبیر- ذوالفقار رښتیا وایی.سوک وه دا کسان؟ ولی یی ته ووهلی؟ څه یی درنه غوښتل؟
ژر کوه طاها جواب راکړه. د ډیر فکرونو د لاسه زه او ذوالفقار پدی یو ساعت کی لیونی شو.

توله قیصه می د الف څخه تر یا دواړو ته وکړل. البته بغیر د همسایه دلور د قیصی څخه. زما د خبرو د خلاصیدو وروسته د دواړو چهری ډیر حیران شوی وه. ذوالفقار زما اندی ته په کټ کینستی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اوس تاسو وواېست زه چا روغتون ته راوړم؟
زبير- اول ته دا ووايه چې تا بيخي هغه نفر چې ته يې( زما حالت ته يې اشاره وکړل)
دومره ووهلې يوځل دې هم مخ ورڅخه ونه ليدی؟
- نه.
ذوالفقار- ډېر عجيبه ده؟!
- څه؟
ذوالفقار- څکه دروازه ما ټکول! ينځه دقې د کور مخکې ولاړوم کله چې تا دروازه
خلاصه نکړه، ما فکر وکو بهر چيرته تللی يی! خپل په کلي مې دروازه خلاصه کړه او
کورته داخل شوم. او په دهليز کې مې ته (ذوالفقار خپل د خبرو پدی ځای کی لاسونه
موټ کړل او په تروش تندی وويل: په وينو لت پت پداسی حال کی چې ټول کور
پاش،پاش وو وليدی.او نور هيس څوک په کور کی نه وو؟
زبير- ما ته هم ذوالفقار خبر راکوو.
(اوس پوی شوم چې ولی د ذوالفقار کالی په وينو دی!)

زه بيحده ويريدلی وم. يو نفر يا شايد څو نفره بغير لدی چې پوی شم څوک دی؟څه
غواړی؟ کورته راغلی وه او زه يې تر مرګه وهلی وم؟

ذوالفقار- مه ويرېږه هر سوک چې دی ډېر ژر زه يي پيدا کوم.
زبير- هغه وخت ته يي څنګه پيدا کوی؟
ذوالفقار په قهر وويل: په يو ځل يی پيدا کوم ته يی څه کوی؟
زبير- هيڅ! هسی پوښتنه مې کول.

د ذوالفقار د خبرو څخه معلوميده چې يواځې ماته دلداری راکوی،هغه شپه زبير زما سره
په روغتون کی پاتې شوو، او ذوالفقار کورته ولاړی څکه شکايت يی په حوزه کی کړی
وو او څو پليسه راغلی وه چې کور ووينی! او مطئمن شی چې شکايت ربنتيا دی!؟
غوښتل يی زما څخه هم اظهارات واخلی خو ذوالفقار ورته وويل چې اوس زما حالت ښه
ندی، هغوی چې هم کله زما مات سر او لاس وليدوو د اظهارت له اخيستو پښيمانه شول.
بيچاره زبير ټوله شپه په يو چوکی ماته ناست وو.

زبير- يعنی تا يوځل هم د هغه کس چهره ونه ليدل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دا سلم وار دی چی ته دا پوښتنه زما څخه کوی.
زبیر- وبخښه خو دا خبری زما فکر بیخی راخراب کړی او داسی فکر کوم چی ته یوشي پته ویی زموږ څخه؟
- ما یواځې یوه خبره پته کړه؟
زبیر په تلوار وویل: کومه خبره؟
- هغه داچی ددی څخه مخکی چی کورته ننوځم د همسایه لور( زبیر زما په خبره کی را توپ کړو)
زبیر- د هغه قومندان لور؟
- هو.

زبیر- ښه د قومندان لور څه؟
- که زما خبرو کی ټوپ وانچوی وایم.
زبیر- ښه نه یی اچوم وایه.
- هغی زما مخه ونیول او یو څه بیځایه خبری وکړل.
زبیر په خباثت وخندل او ویی ویل: څه یی ویل؟
- هیس ایلاتی ویل.
زبیر- ایلاتی؟ ښه تا څه جواب ورکړی؟
- زما عصاب یی راخراب کړل ما هم ورته ډیر بدی خبری وکړل.
زبیر- تا ولی دا خبره د ذوالفقار څخه پټه کړه؟

- ځکه زما په نظر مهم نه وه.
زبیر- ځنګه مهم نده؟ امکان لری د هغه جنی پلاړ دا کار کړی ویی؟
- نه هغه داسی کار نشی کولی.
زبیر- ولی نشی کولی؟ شاید هغه فکر کړی ویی چی ته د هغی د لور سره کومه یارانه لری؟! او په همدی خاطر دا بلا به یی ستا په سر راوړی ویی؟
- بیځایه خبری مه کوه. ګوره قومندان ما لیدلی کم وزیات د 65 کالو بوډا دی! یوه پښه یی د ګور په غاړه ده، پداسی حال کی چی هغه نفر چی زه ووهلم، زه یی په بیحده آسانی د ځمکی څخه پورته کړم؟! یعنی داسی پورته کړم چی ما بیخی د هغه لاس احساس نکوو؟ داسی لکه چی په هوا باندی پورته شوم؟
یو 60 کلن سړی داسی کار نشی کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبیر- امکان لری خپل کوم سرباز ته یی امر کړی وبی چی تا ووهی؟ که نور نه وبی قومندان دی!؟ سل نفره یی د لاس لاندی کار کوی!؟
- بیا هم زه وایم هغه ندی.
زبیر- خو زه سل فیصده ډاډمن یم چی د هغه کار دی.

ما نور څه ونه ویل. ځکه کوم کلک او منطقی دلیل می نه درلود! او شاید د زبیر خبره صحیح وه؟سهار همدا چی ذوالفقار راورسیدی زبیر ټوله قصه ورته وکړل! یعنی زبیر پدی څو ساعتو کی ما دومره په رسمیت وپیژندی، چی پدی څلور کالو می نه وو پیژندلی! ذوالفقار د زبیر د خبرو آوریدو وروسته اول یو څو کنځل او د وهلو ګواښونه ماته وکړل! او کله چی پولیسان زما د اظهارات اخیستو لپاره راغلل ذوالفقار ورته دا خبره وویل، هغوی هم د هغه قومندان نوم ځان سره ولیکی، او د یو څو نور بیځایه پوښتنو "بغیر لدی خبری نور د چا سره خو دښمنی نه لری؟ کوم خاص نفر باندی مشکوکه یاست؟ او داسی بیځایه نور پوښتنو څخه وروسته لاړه.

کورته چی ننوتم ذوالفقار ټول کور پاک کړی وو، او نور د هغه لوښو او کالو ګډوډی نه ښکاره کیده. ذوالفقار زما ځای په میلمه خانی کی اچولی وو، شاید هغه هم پوی شوی وبی چی زه خپل د کوټی څخه ویریږم؟ په هر حال خوشحاله وم چی دوی دواړه راسره وه او کور کی یواځی نه یم. ځکه تراوسه د ویری احساس مي درلود! او فکر می کوی هر دقه امکان لری هغه کس بیا راشی او ومی وهی!

زبیر- دا ستا دواګانی دی ډاکټر ویل په وخت یی وخوره.
(ذوالفقار دواګانی د زبیر د لاس څخه واخیستل او یو، یو یی په پوره دقت سره کتل)
ذوالفقار- دا ښځه ډاکټر وو؟!
زبیر- ولی غلطه دوا یی ورکړی؟
ذوالفقار خپل په ګیره کی لاس تیر کړو او یوه وریځه یی د حیرت څخه پورته کړل، او په خندا باندی وویل: دا دوه پاکټ خو صحیح خو دا(Alefentanilآلفنتانیل) دا بیعقل ډاکټر ښځه درکړی؟

زبیر- سم ووایه بدبختانه مور دواخانه نلرو چی د دواګانو په سروبر پوی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذوالفقار- پوهیږی دا څه ده؟
زبیر- پیچکاری!
ذوالفقار- ته سومره تکړه یی نه وم خبر.
زبیر په خندا وویل: زه ښه وه چی اوس خبر شوی.
- د څه پیچکاری ده ذوالفقار؟
زبیر- شاید تقویتی وییی یا هم د درد؟
ذوالفقار- نه. دا په اصل کی د بیهوښی پیچکاری ده! کله چی یو عملیات خپل د تاکل شوی وخت څخه ډیر وخت ونیسی، نو دا استفاده کیږی ترڅو مریض په هوښ رانشی.

زبیر- شاید غلط شوی واوسیږی؟
ذوالفقار- امکان نلری ماته ددی دواګانو نسخه راکړه.

ذوالفقار نسخه سم زبر او زیر باندی وکتل او اخیر کي پوی شو چی دا پیچکاری ډاکټر بیخی په نسخه کی لیکلی نه وه!؟ او دواخانی والا په غلطی کی زبیر ته ورکړی وه!؟

ذوالفقار- کله چی دوا دی اخیسته کوم بل نفر هم وو چی د دوا پسی راغلی ویی؟
زبیر- بیحده بیروبار وو، زه ښه وه چی ته پوی شوی کنه مفته،مفته مو خپل پر لاسو مړ کوی.
ذوالفقار- مړ کیدی خو نه یواځی څو ساعته هغه بل دنیا زیارت یي کوی.
(ذوالفقار یو پاکټ ګولی زما طرف ته ونیول او وییی ویل: دا د درد ګولی دی که درد لری ویخوره، خو زه وایم بهتره به وییی چی وینخوری.
- ولی؟
زبیر- څکه دا ټول د معتادانو مواد دی! که یوځل وربادی عادت شوی بس فکر وکړه نشه یی معتاد یی.

- ربښتیا؟
زبیر- باور وکړه دا ټول ټابلیټ او د درد ګولی نشه آور دی او په ډیر استفاده یي انسان معتاد کیږی.
- نو نه یی خورم.
ذوالفقار- په یو دوه دانو باندی اوس څه نه کیږی، که ډیر درد دی درلود ویخوره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اهوم

زبیر د شپې ناوخته زموږ سره خدای پاماني وکړه او خپل کورته لاړو، البته ما او ذوالفقار ډیر ورته وویل چې مه ځه خو هغه ونه منل او ولاړی.د هغه دتلو وروسته د دواګانو په اثر باندي د ډیر خوب ښخه مي سترګي پټي پټي کیدل هیس شی راته مهم نه وو یواځي غوښتل مي ویده شم او بس. د ویده کیدو ښخه مي ډیر وخت تیر شوی نه وو چې یو غږ مي واوریدی. غږ د مچي د بنګ بنګ پشان وو! داسي لکه چې یو نفر په حویلي کي په قراره د ځان سره خبري کوی. کوم توجه مي ونکړل او د دواګانو په نشه بیا راباندی خوب غالبه کیدی چې بیا د خبرو آواز مي تر غوږ شو..

او هر دقه آوازونه ډیریدل.. ښو ثاني وروسته د یو ښځی د ژړا آواز مي هم تر غوږ شو.. نور مي طاقت ونشو او خپل په ځای کي کیناستم. په پوره دقت مي آوازونو ته غوږ نیولی وو. د لری ښخه د قران ویلو غږونه هم راتله! ساعت ته مي وکتل دشپې دوه بجې وه؟! د سهار آذنوته ډیر وخت پاتي وه! د سپوږمي ړنا چې د کړکي ښخه کوټي ته راتلل ټول کوټه ړنا کړی وه، او ذوالفقار مي لیدی چې زما ښخه یوښه لری د کوټي دروازی ته نږدی په بیغمه خوب ویده وو، زه بیحده ویریدلی وم په همدی خاطر ورباندی مي غږ کړو.
- ذوالفقار!

زما په غږ ذوالفقار راویخ شو په اندیښني وویل: ها...؟ ښه شوی؟
بیا خپل د ځایه پاسیدو او د کوټي برق یی چالانده کړو او په تلوار زما طرف ته راغی.
ذوالفقار- درد لری؟
په ریږدیدلی غږ مي وویل: حویلي کي غږونه دی؟

ذوالفقار ښو ثاني ماته په حیرانتیا وکتل او بیا ژر د کوټي ښخه ووتی، ترڅو وګوری سوک دی؟ د هغه په تلو ویره مي بیحده ډیره شوه ځان سره مي ویل که هغه کس د ذوالفقار په سر کومه بلا راوړی بیا زه ښه وکړم؟ پدی فکرو ویره مي نور هم زیاته شوه، خپل د ځای ښخه پاسیدم او غوښتل مي د ذوالفقار پسي حویلي طرف ته لاړشم چې ذوالفقار بیرته کوټي ته راننوتی د هغه پرلیدو چې جوړ تیار وو یوښه ویره مي کم شوه.

- ښوک وه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ذوالفقار په اندیښنې ماته راوکتل او بیا قرار زما طرف ته راغی او زه یی خپل په بستره کینولم.)
ذوالفقار- هیس سوک نه وو!
- رښتیا وایې؟
ذوالفقار- هو ما ټول حویلی او د کور کونج، کونج وکتو! خو هیس سوک نه وو.
- خو ما د خبرو غږ واوریدی باور وکړه داسي وو لکه چې په حویلی کې وه؟
ذوالفقار- زه پوهیږم ته رښتیا وایې، ګوره تا دوا خوړلی او پوښه دی هم سر ضربه لیدلی، شاید هسې خیال دی کړی ویې؟ زه تاته یو پیاله اوبه راوړم ته کینه.

ذوالفقار بیرون ووتی ترڅو ماته یو پیاله اوبه راوړی، خو زه تراوسه ډاډمن وم چې ما هغه آوازونه د رښتیا آوریدلی! سر مې وګرځه ویې او حویلې خواته مې وکتل هیڅوک پدی توره تیاره کی نه معلومیده، یواځې د سپوږمۍ په رڼا کی د حویلی د دیوال په سر هغه توره پیشو معلومیده چې قراره ناسته وه، او دوه سترګی ماته نیولی وه! د پیشو په هغه عجیبه نظر یوځل بیا په ټول بدن کی مي ویره خپره شوه. د ذوالفقار په راتلو سترګی مې د هغه پیشو څخه واخیستل.

- ذوالفقار!
ذوالفقار- ها!؟ کوم شئ غواړی؟
- هغه دا د کړکی پرده کش کړه یخ دی.
ذوالفقار- که یخ دی کیږی درته کمپل راوړم.
- نه یواځی دا پرده کش کړه.

ذوالفقار یو څو ثاني په حیرت ماته را وکتل خو څه یی ونه ویل ولاړشو او پرده یي کش کړه. د پردی ښکته کولو وروسته یوڅه خیال می راحت شو خپل په ځای پریوتم او کمپل می پرځان راکش کړو، خو ذوالفقار د پریوتو مخکی یوځل بیا یي ټول کور وکتو ترڅو هم خپل فکر راحت کړی هم زما ده. د دویم ځل کتو او څه نه پیدا کولو وروسته ذوالفقار خپل پرځای پریوتی، ما هم نور څه ونه ویل شاید د ذوالفقار خبره صحیح وه او د دواګانو اثر وو؟!

سهار د زبیر په آواز له خوبه پاسیدم، په دهلیز کی دواړه لګیا وه او خبری کول خو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



راحته باندی د دواړو غږ تر ما راتلې ساعت ۱۰:۴۵ دقی وه! ډیر ویده شوی وم دشپې د هغه یوځل پاسیدو څخه نور راحته خوب می کړی وو، د ذوالفقار په آواز فکر می د هغوی دواړو خبرو ته شو غوږونه می تیز کړل.

ذوالفقار- ماښام په دوه بجو راوېښ شوی وو! ماته یی ویل په حویلی کی غږونه دی؟
زبیر- رښتیا؟ څوک وه؟
ذوالفقار- مشکل همدلته دی هیس سوک نه وه!؟
زبیر- ته ډاډمن یی چی سوک نه وه؟
ذوالفقار- هو ما ټول کور کونج پر کونج وکتو خو هیس سوک نه وه!؟
زبیر- امکان لری د دواګانو اثر وی؟
ذوالفقار- ما هم همدا فکر وکو،که نن یې درد نه درلود نور ورته دواه نه ورکوم.
زبیر- ښه خبره ده که درد یې نه درلود دوا دی نخوری،طاها دومره دواګانی ندی مصرف کړی شاید په همدی خاطر پرون ماښام یې ورباندی دومره زیات اثر کړی ویی؟

ذوالفقار- شاید... زه څم بیرون یوڅه کار لرم تر هغه وخته فکر دی ونیسه چی سوک کورته رانشی که کوم مشکوکه شئ دی ولیدو ژر ماته زنګ ووهه، زه په دوه دقو کی ځان رارسه وم.
زبیر- سمده زه یم ته په بیغمه فکر خپل کارته ورسیږه.
ذوالفقار- فکر دی نیسه هسی نه راشم د دواړو جنازی ووینم!؟
زبیر- دومره مفته مال هم ندی زموږ مرګ.
ذوالفقار- پام کوی که طاها کوم شئ پکار وو ماته زنګ ووهه.
زبیر- اوکی
ذوالفقار- ښه نو خدای پامان تربیا.
زبیر- خدای پامان.

د ذوالفقار د تلو څو دقی وروسته زبیر د کوټی دروازه په قراره خلاصه کړه زه یی چی ویخ ولیدم په خوشحالی باندی کوټی ته راننوتی.

زبیر- خوبونه دی پوره شول؟ ښه بهانه ستا لاس ته درغله، اوس نو څلرویشت ساعته پریوځه وایه مریض یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زما د مریضتیا سره هم ته بخیلی کوی؟
زبیر- خپل صفتونه په ما مه لګوه.( یوځه زما مخ ته یي په ځیر ځیر راوکتل چی ما وویل:
څه دی شاخ می کړی؟
زبیر- دا ستا د سترګی چهار طرف ولی داسی شین دی؟ ذوالفقار خو وهلی نه یی؟
- ستا په نظر ذوالفقار لیونی دی؟

زبیر- هسی په روغتون کی ګواښونه درته کول ما ویل شاید عملی کړی ویی دربادنی؟
- دومره لیونی هم ندی. اوس ربنتیا دومره ډیر معلومیږی؟
زبیر خپل پر موبایل زما څخه یو عکس واخیستو او ماته یی راښکاره کړو، حق د زبیر سره وو، داسی شین وو لکه چی یو چا په بوکس په سترګی وهلی وم؟

زبیر- دا پرون لا داسی شین نه وو.
- کله ناکله بعضی زخمونه هغه دقه ټپ نکوی څو ساعته وروسته رامعلومیږی شاید دا هم هغه رقم وو؟
زبیر په شکمن لهجه وویل: شاید... ربنتیا وګوره تاته می څه راوړی؟
( زبیر خپل جیب ته لاس کړو او زما موبایل یي را اوباسو!)
- زما موبایل ستا سره څه کوی؟
زبیر په خندا وویل:هغه بل پرون ستا په جهاد کی ده دی بیچاره ګی سکرین شهید شوی وو، پرون ماښام ما پیدا کو ځان سره می ویل ته پدی مات سر مستری ته نشي تلي په همدی خاطر ما خپله نن د غفور دوکان ته ویسو، او په پنځه دقو کی مي سکرین وربدل کو واخله.

( د موبایل اخیستو په حال کی می ورځخه مننه وکړل)
- ډیره مننه زما بیخی لیاده وتلی وو.
زبیر په مسخره لهجی وویل: هو نو ته موبایل څه کوی؟ موبایل خو زموږ پشان بد شانسه خلک استفاده کوی، نه ستا پشان خلک! همدا چی زړه دی تنګ شی سر معلوم کړه کوځه کی لایف ټلیکاس باندی خپل لیلا ووینه.
- بلا..
زبیر- ته ولی په دومره بد شانسی کی خوش شانسه یي؟ربنتیا ښنګه شو خسر دی؟
- خسر مي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبیر- هو همغه جنرال خسر دی چی د پولیسانو په ګیر دی ورکړو؟
- ډیر بی ادبه یی.
زبیر په خندا وویل: یو خو ته او ذوالفقارم عجیب کارونه کوی؟
- څنګه؟

زبیر- پولیس قومندان مو د پولیس سرباز په ګیر ورکړو؟ هغوی خو کوم کار د هغه سره نلری او بیرته یی ایله کوی! یواځی په مفته باندی دی ځانته دښمن پیدا کړو.
په قهر می وویل: دا ټول ستا د شلمبو مچ د لاسه! ما درته ځومره وویل ذوالفقار ته مه وایه خو تا بیا هم وویل،اوس په مفته می ځانته یو جنرال دښمن کړو. خدای خبر دا کار د هغه وو کنه؟
زبیر- زه څه خبر وم چی ستا کاکا داسی لیونی شي دی؟ چی په هغه پولیسانو باندی د هغوی قومندان حوزی ته کش کوی؟ فکر دی وو هغه دوه پولیسو تاته او ذوالفقار ته څنګه بد بد کتل؟

ددی خبرو په آوریدو بیحده په قهر شوم اوس چی سم فکر کوم د زبیر خبره صحیح ده په مفته می ځانته دومره لوی دښمن پیدا کړو، که دا کار د هغه ویی هم نه اوس د غچ اخیستو لپاره ضرور ما مړ کوی؟ پدی فکر د قهر څخه می خپل د دواګانو پلاستیک په زبیر ګوزار کړو.

- دا ټول شیان ستا ده لاسه وسوه، یو خبره په زړه کی نشی ساتلی. ذوالفقار روغتون کی پینه نه وه ایخودلی لکه منافق ورغلی او ټول خبری دی ورته وکړل. زه دا همدا اوس څخه وصیت کوم که زما په سر هر بلا راغله ستا د لاسه ده! او زما غچ دی ستا څخه واخلی.
زبیر په خندا وویل: په وصیت کی که کوم پټ مټ پیسی میسي،جایداد مایداد ځمکه، لری هغه هم زما پسی ولیکه ثواب به دی وشی.
په خندا می وویل: که یو کوټه ډک ډالر می هم درلود تاته می چارانیز هم نه درکوی ټول خو لری.

زبیر- یو متل دی وایی: خدای خر پیژندی په همدی خاطر شاخ یي ندی ورکړی
- ګوره یو کار مه کوه پدی حالت لاس او ګریوان شو سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبیر- په خندا وویل: زه دا خبری پریږده پوهیږی څه می درته راوړی؟
- څه؟
زبیر- یو دقه صبر..

زبیر دا وویل او په خوشحالی د کوټی څخه ووتی او څو دقی وروسته د یو بکس سره راننوتی د هغه د لاس بکس ته می اشاره وکړل او ومی ویل:

- دی کی څه دی؟
زبیر- کمری!
- د څه کمری؟
زبیر- غواړم ستا د دی شنه سترګی عکسونه واخلم پکی!؟ څومره بیځایه پوښتنی کوی.
- غواړی په کور کی ولګوی ترڅو پوی شی څوک څی څوک راځی؟
زبیر- ای ماشالله فکر می کوی هغه یوڅه مغزه به دی هم په هغه ټک کی له مینځه تللی ویی؟

- خوله بنده کړه، په څو دی واخیستل؟
زبیر- څومره چی ته فکر کوی هغومره پیسه داره هم نه یم، د غفور څخه می په امانت راواخیستل د یو څو ورځو لپاره.
- هغه د کوم وخت څخه د کمرو کاروبار شروع کړی؟
زبیر- د هغه ندی لکه چی یوڅه مشکل یی درلود ده ته یی د جوړولو لپاره راوړی وه، ما هم ورنه راوخیستل په امانت... ته دا بیځایه پوښتنی د څه لپاره کوی؟ کمک شه چی دا ولګو.

- چیرته یی غواړی ولګوی؟
زبیر- دوه دانی دی او ډیر پیشرفته شئ دی هر ځای لګول کیږی، زه خو وایم یو دانه به ستا د خسر د کور خواته ولګوم هم به ستاسو شک له مینځه لاړشی او هم به ته خپل د لیلا دیدن وکړی( او هر هر خپل په خبره په خندا شو. ما هم یوائځی یو څو کنځلی ورته وکړل. کرکه لرم لدی چی د یو نفر د ټوکو سبب شم خو لکه چی دا ځل تر یو څو وخته د زبیر د خندا سوژه یم؟)

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دا بل کمره چیرته لګوی؟
زبیر- دا بل به په برنده کې ولګوم! ځکه هر سوک چې حویلۍ ته راشي مونږ ته معلومیږي؟
- ته چې دومره د ددې پولیس بازایانو سره شوق لرې نو ولې پولیس نه شوې؟
زبیر- څه ووایم زړه مې د دې کورنۍ ښخه پوخ، پوخ دی ما غوښتل یو استخبارات، جاسوسي، اف بي ای، سي ای ډي، شم خو دوی پرینخودم! خو ته غم مه کوه ستا د لاسه زه خپل ارمانو ته رسیږم.

- لکه چې تاته یې ډیر خوند درکړی چې یو رواني زما پسې دی؟
زبیر په خندا وویل: وای مه وایه دومره خوشحاله یم...
- مرګ.

زبیر د غرمه تر آذانه لګیا وو او کمرې لګول! د هغه د خلاصیدو وروسته په د هلیز کې په لیپ ټاپ لګیا وو، ترڅو وګوری کمرې کار کوی کنه؟ دومره په شوق یې دا کار کوی چې یو څه شکې شوم چې هسې نه دا کس زبیر راپسې راستولی؟ زبیر هغسې لګیا وو چې ذوالفقار زنګ ووهی او ویې ویل: تر ماذدیګره شاید رانشم ځکه یوڅه کارونه مې ډیر شوي! د خدای شکر چې زبیر راسره وو کنه په یواځې ځان پدې کور کې مې د ویرې ښخه زاره چودل.

د موبایل بندیدو وروسته زبیر بیا په لپ ټاپ کې لګیا شو. زه د دهلیز په نالۍ پروت وم یوځه د پرون ښخه مې حال بنه وو، سر درد مې بنه شوی وو، او یواځې لاس مې یوڅه لږ درد کوی، هغه هم که ډیر مې شور ورکړی وایې کنه بنه وو. پرون چې راغلم یواځې خپل د وینو ډک کالي مې بدل کړل او یوڅه لاس او مخ مې ومینځې خو نن چې یوڅه حال مې بنه وو اراده مې درلود چې یو سم صحیح حمام وکړم ترڅو د روغتون او وینو بوی راڅخه لرې شي.

- که خپل په سر او لاس باندې پلاستیک واچوم او حمام وکړم کوم مشکل خو نلرې؟
زبیر بغیر لدې چې دلیپ ټاپ ښخه سترګې واخلي وې ویل:غواړې حمام وکړې؟
- هو احساس کوم ټول بدن مې د وینو او الکولو بوی کوی!
زبیر- زما په نظر خو کوم مشکل نسته یو پلاستیک خپل په سر او لاس وپیچه، ترڅو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر زخم او د لاس ګچ دی لوند نشی؟!

زبیر بغیر لدی چی د لیپ ټاپ څخه سترګی پورته کړی زما سره مرسته وکړل چی خپل سر او لاس په پلاستک وپیچم، خپل د ځان څخه ډیر اوس زبیر ته اندیښمن یم!؟ هسی نه زه به رک روغ شم او ده به ځان لیونی کړی وي‌یی؟ حمام ته ننوتلم.

زبیر- که کومک دی غوښتی ماته غږ وکړه زه دلته د هلیز کی یم.
- سمده.

هینداره کی مې ځانته وکتل تک ژیړ مخ لکه د ګچو دیوال، هغه ریشخندی پلاستیک می هم په سر یو سترګه می هم شنه، یو لاس می هم په ګچ کی! بیخی سم صحیح ګدایګر معلومیدم! پخوا هم څومره ځوانی مه نه درلود خو اوس بیخی نو.. د مخ رنګ می بیحده تک ژیړ شوی وو؟ پخوا یوڅه غنم رنګه وم خو اوس بیخی راڅخه شهید جوړشوی وو! ځان سره می وویل ضرور یو بوشکه وینه راڅخه تللی چی دسی ګچ جوړ شوی یم؟ نور می خپل بد حالت ته ډیر دقت ونکړو او کمیس می د سر څخه وباسی چی خپل د بدن پر لیدو مې د حیرت څخه خوله خلاصی پاتی شوه،

په بدن می بیحده غټ شنه تور ټپونه وه! خو ما یاد ته نه راتلل چی هغه کس دی زه په بدن باندی وهلی واوسیږم؟ بیا نو دا ټپونه د کوم ځای شول؟ داسی شنه وه لکه زما د سترګی د ټپ پشان؟ یو څو دقی می ورته په ځیر ځیر وکتل خو د یخ د لاسه نور توجه می ونکړل او ژر می یو حمام وکړو. غوښتل می خپل کمیس را واخلم چی د حمام د کوچنی کړکی سره یو توره سایه چی ماته راکتل او تولله کړکی نیولی وه، ومی لیدو! د هغه په لیدو د ویری څخه می بدن مړ شو بی اختیاره خو ګامه شاته ولاړم چی هغه سایه په یو دم لکه د دود پشان غیب شوه؟ لاس او پښی می د ویری څخه کار نه کوو، د ډیر ویری څخه نژدی وو په ځمکه ګوزار شم چی د حمام دروازه ناساپه خلاصه شوه، او د زبیر ورختنا غږ می بدن ته یوڅه سکون ورکړو.

زبیر- طاها! مړ شوی دری ساعته کیږی غږ کوم ولی جواب ن( زبیر یو دم خاموش سو او ماته یی حیران، حیران راوکتل او په حیرت باندی وویل: ستا په بدن څه شوی دا ټپونه د څه دی؟ او دا رنګ دی ولی داسی پریډلی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بغیر لدی چی د زبیر جواب ورکړم یوځل می ټول حمام د نظر څخه تیر کړو، او د کمیس د اغوستلو په حال په ریږدیدلی قدمو د حمام څخه ووتم. زبیر راته یو پیاله اوبه راوړل او په ورختای زما سر ته ولاړ وو. د اوبو څکلو وروسته می زبیر ته ټول حال وویل هغه هم په ویره باندی د حمام خواته وکتل.

زبیر- هسی خیال دی کړی برندی کی چی کوم کمره ده هغه ټول کور د نظر لاندی نیولی او ما هم ټول وخت کمری ته کتل، ما خو کوم عجیب شئ ونه لیدو؟

- بیعقل یی؟ که څان په خر توبی وهی؟ زه درته وایم یو دود غوندی شئ می ولیدی نه کوم انسان؟

زبیر په ویری وویل: عه بنده کړه خوله دی. زه خپله ددی پیرایانو میرایانو څخه دومره ویریږم چی حد نلری، حاضر یم د سل قاتلانو سره دی جنګ وکړم خو یو پیری ونه وینم.

- نو هغه چی ما ولیدی څه وو؟

زبیر- ستا وهم! په سر دی ټک خوړلی مغزه دی ګډوډ شوی. رښتیا دا ووایه دا بدن دی ولی داسی تور شین وو؟

- نه پوهیږم ما هم تازه ولید.

زبیر- عجب!

د ذوالفقار تر راتلو نور کوم داسی بحث مو ونکړو، ذوالفقارم چی راغلو زما د سترګی پر لیدو بیحده حیران شو خو زبیر ورته ټوله کیسه وکړل، ټوله یعنی ټوله د کمرو ایخودلو څخه نیولی د حمام پوری! ذوالفقار ښه په دقت د هغه خبرو ته غوږ نیولی.

ذوالفقار- دا رښتیا وایی طاها؟

- هو.

زبیر- ودی لیدو ما درته وویل په یو ټک ولاړی لیونی شو.

ذوالفقار څو ثانی په څیر څیر راوکتل او ویی ویل: زه دا خبری ایله کوی ما جیګر درته راوړی چی یوڅه وینه دی پوره شی رنګ دی د شهید غوندی ټک ژیړ شوی.

زبیر- ښه دی وکړل دری منه وینه یی ضایع شوی، ما یی ډاکټر ته وویل ورته وینه تیره کړی خو هغه ونه منل نه پوهیږم ولی؟

ذوالفقار- څکه دی څوان دی خپل وینه خپله پوره کړی بهتره د هغه یخچالی وینو څخه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبیر- رښتیا طاهاپوهیږې؟
- په څه؟
زبیر- دا چې ستا ګروپ خونی څه دی؟
- نه ما تراوسه نده چک کړی.
زبیر- نو د هغه کس څخه منندویه واوسیږه چې ویې وهلی که نور نه ویی یو فایده
درورسیده ګروپ خونی دی معلوم شوو.
- څه ده اوس؟
زبیر- خوشبختانه یا بدبختانه زما د وینو ګروپ دی.
- رښتیا +Bده؟
زبیر- متاسفانه هو.

د ماښام ډوډې مو یو څه وختی وخوړل ترڅو په بیغمه مي باندی د افغانستان او زیمابوی میچ وګورو. دری سره د تلویزیون مخکی ناست وو او د شهزاد محمدی لوبی ته چې د شارجې ګراونډ یې په چکو سوری کړی وو کتل، اول ځل و افغانستان داسی ښایسته لوبه کول یو نوی سپینر بالور هم افغانستان ټیم ته راغلی وو چې بیخی نو ټیټ او ریټ بالور وو.

زبیر- زه درته د همدا اوس څخه وایم دا نوی بالر یو روښانه راتلونکی لری.
ذوالفقار په خندا وویل: مننه ستا د غیب ویلو څخه،خو پدی خبره هر بیعقل پوهیږی! څنګه چې دی بال کوی ضرور یو زبردسته بالور ورڅخه جوړیږی!؟

زبیر- نه ځینې کسان بال اول کی سم ویی بیا خرابیږی،خو زه وایم دا بالر چې هرسومره وخت وربانډی تیر شی بال یې بهتره کیږی. ته څه وایې طاها؟
- زه وایم خدای دی ستا خبره که صحیح نه ویی بیا هم صحیح کړی. ترڅو د افغانستان ټیم یو څه قوی بالاران او بیټسمینان پیدا کړی.

زبیر- اوس خو سر ولاس دی مات دی! خو کله چې ښه شوی، د نورو اندیوالانو سره یو چیلنجی د کرکټ لوبه کوو.
- زه یي نه کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبیر- ولی؟
- حوصله يي نلرم.
ذوالفقار- پخوا خو دی د کرکټ لپاره لاسونه پری کول، اوس حوصله نلری؟
- پخوا، پخوا وو! اوس، اوس دی!
ذوالفقار زبیر ته وویل: اوس خو نه کیږی خو یو میاشت وروسته چی دده لاس جوړ شو، ته یو سم صحیح لوبه ولګوه دی زه خپله راوړم.

د هغوی خبرو ته می توجه ونکړل سترګی می خپل د لاس په زخم ولګیدی،په لسم صنف کی وم د کرکټ سره می بیحده شوق درلود، یوه ورځ مو چلینجی میچ لګولی وو د 500 افغانیو په سر! هغه ورځ ما او خو نور ملګری می مکتب ګروځی وکړل، او ولاړو کرکټ ته د میچ په وخت یو بیعقل بال د یو کور بام سرته ګوزار کړو،او زموږ سره بل توپ نه وو! چی لوبی ته ادامه ورکړو. مجبور شو هغه توپ راواخلو د بام سرته یو درخته وه زه په هغه درختی پورته شوم توپ می لاندی هغوی ته واچویی

او غوښتل می چی زه هم ورپسی ښکته شم، چی ناساپه مي پښه د بام څخه وښویده او د درختی څخه را وولیدم، البته ما غوښتل درخته ونیسم خو درختی زه ونیولم!مطلب لاس می د درختی په یو تیره څانګي کی بند شو! او دا مبارک ټپ د هغه وخت څخه دی. او زما د شانس څخه دی په هغه ورځ باندی فرید زه د مکتب ګروځی پر وخت لیدلی وم او بابا ته یی زما شیطنت کړی وو، هغه ورځ بابا زما پسی راغلی وو ترڅو ما مثلا لاس ترلی د جرم په وخت راګیر کړی،؟ خو لاس تړلی یي په درختی راګیر کړم! په هغه ورځ باندی بابا زما بیټ،وریکتی،ټول شیان مات کړل. او

بغیر لدی چی فکر وکړی زما لاس پنځه کوکه خوړلی او حالت می ښه ندی!همدا چی کورته ورسیدو یو شین د اوبو پیپ مو په حویلی کی درلود چی د ذوالقرنین کاکا کورته مو اوبه ورباندی تیره ول، هغه یی راته بند کړو! دومره ډیر یی ووهلم چی د لاس کوک می وشکیدی! او مجبور بیرته ذوالقرنین کاکا ډاکټر ته ویوړم او هغه د سره پانسمان کړو. هر څومره چی فکر کوم ما ته یواځی د بابا قهر، غوصه،بداخلاقی، او وهل یاد ته راځی د خیر کار یی نه! بابا همیشه زما په ژوند کی د یو عذاب فرښتی کردار سر ته رسه ولی! او فرید د هغه د لاس چمچه، د دواړو څخه کرکه لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهار د زبیر په غږ د خوب څخه پاسیدم مریض زه یم، خو بهانه د ته لاس ته ورغلی او د پوهنتون څخه یی ځان رخصت کړی!

زبیر- پاسه صبا ناری وکړه.
- زه سهار لخوا ډوډی نخورم،عادت نلرم.
زبیر- مهمه نده د نن څخه ځان عادت کړه پاسه.

بغیر لدی چی د ځایه ولاړشم چهار طرف می وکتی ذوالفقار نه راته معلومیدی.

- ذوالفقار چیرته تللی؟
زبیر- نه پوهیږم ماته یی ویل یوڅه کار لرم او ولاړی؟ ولاړشه ژر کوه ډوډی وخوره.
- ومی ویل نه یی خورم زړه می نغواړی.
زبیر- ته بد کوی چی زړه دی نغواړی ولاړیږه شابه.

زبیر په بوکس او لغتو مجبور کړم ولاړشم غوښتل می حمام ته لاړشم د لاس او مخ وینځلو لپاره خو پښیمانه شوم لاړم د حویلی خواته.

زبیر- ژر لاس او مخ دی ومینځه چی غواړم د ماښام د کمری ویډیو ګانی وګورم. ربښتیا ماښام خو تا کوم عجیبه شي ونه لیدی؟!
- نه.

د لاس او مخ وینځلو وروسته د زبیر اړخ ته کینستم هغه لیپ ټاپ چالانده کړو او د پرون غرمی ویډیو پلی کړه دا ویډیو د دباندی کوټی د کمری څخه نیولی شوی وه د قومندان کور او د کوټی ډیره برخه پکی معلومیده زبیر ویډیو په دوچنده سرعت ایخودلی وه ترڅو ژر یي وګوری په ویډیو کی یو توره پیشو بیحده ډیر زموږ د کور چهار طرف کی ګرځیده؟ خو عجیبه یی دا وه چی د یو ثانی لپاره چی پیشو کمری ته مخامخ وکتل کمره ناساپه تصویر خراب شو په ویره می زبیر ته وکتل چی هغه وویل:

زبیر- تا ته می ویل وه کنه چی دا کمری یوڅه ستونزه درلود؟! په همدی خاطر غفور ته یي راوړی وو چی جوړ یی کړی شاید بیا دا یو دانه یی خراب شوی ویی؟ راځه د دویم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمری ده وګورو.

- زه یی نګورم که خدای نکرده په هغه ویډیو کی می یو شئ ولیدو ضرور لیونی کیږم.
زبیر- سمده زه یی ګورم بیا درته وایم.
زبیر په تلوار باندی په دوه دقو کی ویډیو وکتل او ویی ویل: ښه خبره ده که بده خو په ویډیو کی هیڅ نه وه؟
- رښتیا وایی که هسی زما د دلداری لپاره وایی؟
زبیر- نه یي مني خپله یی وګوره؟
- نه ضرورت نشته ومی منل.

زبیر- خو په یو خبره سل فیصده ډاډمن یم.
- په څه؟
زبیر- دا چې هر سوک دی نغواړی تا مړ کړی ..!
- ته د کوم ځای خبر یي چې نغواړی ما مړ کړی؟ هسی نه هغه نفر ته خپله یي؟
زبیر- ای مرګ مرګ .. د هغه د کارونو څخه داسې ښکاری لکه چې غواړی یواځې تا وویره وی؟ کنه ستا پشان ډارن او بې لاس او بې پښو رکم انسان مړ کول دومره هم سخت کار ندی...

- زه دا ستا خبره یي صحیح اوس زه سنګه هغه نفر ته ووایم چې زه و ډار شوم نور مې خوشې کړه ..!
زبیر- دا باید هغه خپل تشخیص کړی ..!
بد بد مې زبیر خواته وکتل چې هغه هم وویل: ښه نو زه یوڅه چای دم کړم، اوس به ذوالفقارم راشی.

او بیا ژر د آشپزخانی خواته ولاړ؟ د زبیر کارونه یو څه ماته مشکوکه غوندی ښکاریدل؟ په دویم ویډیو کی خو کوم شئ نه ویی لیدلی؟ زبیر خو دقی آشپزخانی کی موختی وو چې د دروازی ټک ټک پورته شو زبیر د آشپزخانی څخه را ووتی او ویی ویل: زه درواز خلاصه وم، او په تلوار د دهلیز څخه ووتی! ډیر وخت تیر کړو غوښتل می وریسی لاړشم چې څه خبره ده؟ څوک وو چې دروازه یی ټکول؟ چې د دهلیز دروازه خلاصه شوه او ذوالفقار په تروش تندی راددننه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- څومره وخت مو تیر کړو؟ یو دروازه خلاصه ول دومره وخت غوښتی؟
زبیر- نه هغه ما ذوالفقار ته هغه خرابه کمره خودل.
- ها!!
ذوالفقار - ښه یی؟
- هو بهتره یم.
ذوالفقار- شکر چې ښه یی.

ذوالفقار زبیر ته مخ کړو او ویی ویل: زبیر ته راشه زما کوټی دا کمره کوم ځای خراب شوی ماته راوښایه؟

او بیا دواړه جوړه کوټی ته ننوتل دروازه یی هم بنده کړل؟د دوی پدی کار زما شک نور هم زیات شو!؟ ناساپه دوی دواړه ولی داسی شول؟ ضرور په ویډیو کی یوشئ وو؟ خو دوی ما ته نه وایی؟ څو دقی ما په سل سوچونه او فکرونو تیر کړل چې دواړه د کوټی څخه راووتل د ذوالفقار په لیدو مي ژر وویل:

- که کوم شئ په ویډیو کی شته! ما ته هم وو ایست، ولی داسی پټ،پټ خبری کوی؟
ذوالفقار په عصبی لهجه ددې لځایه چې زما جواب راکړی زبیر ته وویل: پورته کړه دا دوه روپه ګی کمری دی نور ورته ضرورت نشته... ددی کمرو د لاسه لیاده می ووتل درته وو ایم پلاز دی را روان دی سبا به راشي...
په حیرت مي وویل: د څه لپاره؟ تا خو کوم شئ زما په اړه هغوی ته ندی ویلي؟
ذوالفقار- ستا په نظر زه ستا رقم بی عقل یم؟ څه ورته وو ایم راشه یو څو نفره زما کور ته راوړیدلي او ستا شاهزاده زوی یي وهلي؟

د ذوالفقار په خبری چوپ شوم او هیڅ می ونه ویل هغه بیحده عصبی او په غوسه معلومیدی څو دقی شاوخوا وکتل او بیای په غوسه باندی خپل د سر په ویښتو کی لاس تیر کړو او ماته یی راوکتل.

ذوالفقار- پرون ماښام خو کوم عجیبه شئ دی ونه لیدو؟
په ورختای می وویل: څنګه عجیبه شئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبیر- دا ما تاته دومره نصیحت وکړو چې په آرامه ورته ووایه..!
ذوالفقار- ما اوس څنګه وویل؟
- څه شوی ماته هم ووایست؟
زبیر- آرام واوسیږه کوم بده خبره نده برعکس ښه خبر هم دی؟
ذوالفقار په یوسخند وویل: هو ښه خبر دی؟ بیخي زبردسته خبر دی.
- څه خبر دی ماته هم ووایست؟
زبیر- پوی شو چې چا ته وهلی یی؟
- چا؟ سوک وو؟
زبیر په بنده، بنده ژبه وویل: پیری.....

د زبیر په خبره د ډیر ویری ښخه فکر فشار می ښکته شوی، او ځانته می شور نشو ورکولی چې ذوالفقار ژر وویل: تراوښه ډاډمن نه یو یواځې یو ګمان دی.
په ژرغونی غږ می وویل: او.. او که رښتیا وه بیا څه؟
زبیر- که رښتیا وه ستا لپاره خو بیخي ښه خبره ده؟! یو پیری دی او غواړی تا یو څه وویره ویی! او ته باید خوشحاله اوسیږی چې کوم لیونی قاتل ستا پسی ندی.
ذوالفقار- د زبیر خبره بلکل صحیح ده که کوم پیری واوسیږی دا خو بیخي راحته خبره ده.

- د څه راحته خبره ده؟ هاا؟ که یو پیر زما پسی ویی یعنی بیخي شانس یی نشته چې راګیر یی کړو؟
زبیر- چا ویل چې نشته؟ ګوره که پیری ویی په دوه دقو کی خبره خلاصه ده.
- هغه وخت څنګه؟
زبیر- ما خپل د یو ملګری ښخه آوریدلي چې دلته نږدی یو غټ مولوی اوسیږی چې پیریانان حاضره ویی؟ ورته وایی تیل داغ مولا!؟
- تیل داغ؟
زبیر- هو لکه چې دا مولوی پیریانان سوزه ویی؟ که ستا د هم پیری ویی هغه درته ستونزه حل کوی.

- یو هیری چې زه د داسی مولیانو ښخه کرکه لرم؟
ذوالفقار- بنده کړه خوله دی، زما خو نن زړه وو چې لاړشو خو افسوس زبیر وایی نن

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشته سبا راځی، موږ هم سبا ځو او دا خبره خلاصه وو.
-تاسو د کوم ځای پوی شوی چی دا د پیری کار دی؟
ذوالفقار- پرون ماذدیگر تا خپله ونه ویل؟
- خو تا پرون ماذدیگر باور ونکړو!؟ اوس بیا ڼنګه قبول دی کړو؟ په ویډیو کی خو کوم شئ نه وو؟

زبیر- پیریان په ویډیو کی نه ښکاره کیږی هوښیار صیب!
- نو تاسو ڼنګه یو ځل زما خبره ومنل؟
ذوالفقار- لکه چی ښه کار مو ونکوو چی ستا خبره مو ومنل؟ که ڼنګه؟
- نه هسی پوښتنه می کول.
ذوالفقار- هسی پوښتنی مه کوه، کنه هسی به دی خوله ماته ویی!

ذوالفقار بیحده په غوسه معلومیده پدی خاطر نور څه می ونه ویل او چوپ شوم. د زبیر په خبری می بد احساس درلود، دا چی ویی ویل تیل داغ مولا! هیڅ می زړه نغوښتی چی ورشم فکر می کوی پر بدن می اور بل دی یو دقه کی داسی سره تبه می شوه چی زبیر او ذوالفقار چی هرڅونه دوا درمل راکړل فایده ونکړه، فکر می کوو چی په دوزخ کی یم پدی یخ کی د ډیر تبی څخه راباندی خوله بهیده د سر درد می هم زیات شوی وو.

زبیر- زه خو وایم چی دا ټول د پیریانو کار دی؟
ذوالفقار- څه وایی؟
زبیر- ګوره همدا چی وه مو ویل تیل داغ مولا ته دی وړو دده حالت خراب شو؟ باور وکړه دا د پیریانو کار دی ترڅو پدی کارونو موږ شا ته کړی خپل د خبری څخه..!
ذوالفقار- که دسی خبره وی مجبور د هغه مولوی څخه یې مخکې یو بل ته ویسو؟
زبیر- ته بل کوم دسی سم مولوی پیژنی؟
ذوالفقار- مولیان خو لږ ندی د کوټې په شمار زر دانې په هر کوڅه او مسجد کې ناست دی..

زبیر- خو فرق لری باید ضرور یو سم مولوی وی کنه دا نور هسی د پیسو غله دی جادوګران دی نه مولیان..
ذوالفقار- صبر زه خپل ملګری ته زنګ ووهم څو وقته مخکې ما ته د یو مولوی زیات

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعریف کوی، که معلوم وو ورته د همغه آدرس به واخلو او لاړ به شو.
زبیر- اممم دا هم ښه خبره ده که یو دوه نفره مولوی وپیژنی ضرور ښه مولوی دی..

ذوالفقار موبایل راوخیست او خپل ملګری ته یې زنګ ووهې، زبیر هم زما اندې ته راغې او زما په سر چې د اور پشان سوړ وو لاس کیخودو، ما دهغوی خبری آوریدل خو دومره توان راکي نه وو چې سترګي خلاصی کړم او کوم خبره دی وکړم، نور د درد څخه خبره اوښتی وو بدن مې یو شانتې بې حس شوی وو..! د څو دقو وروسته ذوالفقار لکه چې خپل د ملګری څخه آدرس واخیست، او زما څنګ ته راغې او کرار یې ماته غږ کړو.

ذوالفقار- طاها ..!
د ذوالفقار په غږ په سل زور او زحمت مې لږ خپل سترګي خلاصي کړی او د هغه ورختا او پریشانه څهری ته مې وکتل، چې هغه زما په مخ خپل لاس کیخودو، او کرار یې وویل: تبه لری ښه یې؟
یواځې د سترګو په پټو ولو او خلاصه ولو مې ورته د هو جواب ورکې چې ذوالفقار لځایه پورته شو او د دهلیز څخه د وتلو په حال یې کې زبیر ته وویل: زه موټر چالانده کوم تاسو راشی.

زبیر راسره مرسته وکړل لځایه پورته کړم په ګنګس انداز د هغه پسی کشیدم، د کور څخه چې ووتلو ذوالفقار په تلوار د موټر څخه راښکته شو او زه یې شاته سیټ کی کینولم، موټر حرکت وکړو او هر سومره چې هغه تاکلي ځای یعنی د مولا کورته نږدی کیدو هغومره زما حالت خراب کیدل، فکر مې کوی نفس نشم اخیستی موټر د یو شنه رنګه غټ دروازی مخکې ودریدی، او ذوالفقار د موټر څخه تا شو، دروازه یې وټکول، څو دقی د کور مخکې د هغه چا سره چې دروازه یې خلاصه کړی وه خبری وکړل، او بیرته د موټر خواته راغې، زما د خوا د موټر دروازه یې خلاصه کړه او زه یې د اوږی څخه ونیولم ترڅو مرسته وکړی تا شم د موټر څخه...

خو ما نه غوښتل لاړشم هغه کور او هغه مولوی ته! بد احساس مې درلود او فکر می کوی هلته که لاړشم مشکلات می زیات کیږی؟ دا اصل کی احساس نه وو! بلکه داسی چې یو سوک راته وایې "طاها هلته مه زه خبره خرابه کیږی!" ذوالفقار چې کله زما مقاومت ولیدو په حیرت یې وویل: ولې نه راتا کیږی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زه نه ځم.
ذوالفقار- ولې؟
- بد احساس لرم خیر دی راځی بیرته کورته لاړشو زه بنه یم.

زما په خبرې ذوالفقار زما اوږه ایله کړه او په پریشانه حال یې راوکتل خو زبیر وویل: دا چې ته هرسونه مقاومت کوی طاها هغومره زموږ شک صحیح ثابت کیږی.
- پخدای پیری میری نشته، زما تبه ده راځی ډاکتر ته لاړشو..(دا لفظ می دومره په عاجزی وویل او ذوالفقار خواته می وکتل چې هغه سترګو کې ماته زړه نازړه توبی ښکاره شو! غوښتل مې د فرصت څخه استفاده وکړم او ذوالفقار قانع کړم ترڅو د مولوی لاځایه ډاکتر ته لاړشو چې زبیر وویل:

زبیر- اوس خو راغلی یو دوه قدمه زحمت باسو، او دا شک مو هم لمینځه وړو که پیری نه وو بیخی ښه خبره ده وړو دی ډاکتر ته سنګه ذوالفقار؟
د زبیر په خبره ذوالفقار ماته راوکتل او بیا یې په پریشانه حالت خپل ویښتیانو کې لاس ووهې او ویې ویل: د زبیر خبره صحیح ده اوس خو راغلې لاړ به شو..

ما چې هرسومره زاری وکړل په هغوی دواړو باندی تاثیر ونکړو، او زه یې په زوره د مولوی کورته ننباسلم..

یو 23 کلن ځوان چې غنم رنګه څهره،تور بانه او توری وریځې وه نه ډیر ښایسته او نه هم زیات بدرنګه څهره درلود. موږ یې کور خواته رهنمای کړو دری سره یو کور ته ننوتلو کوچنې کور وو دومره غټ نه وو، یو څلور پنځه متره دهلیز وو. یو آشپزخانه او دری کوټې چې د یو کوټې دروازه خلاصه وه! دهلیز کې شاوخوا نالې هوار کړی وه، موږ هم لاړو یو کونج کې کیناستو، زموږ څخه بغیر دری څلور نور نفران هم دهلیز کې ناست وه! لکه چې دوی هم د کوم مشکل لپاره راغلې وه! څلور سرو تور کالې او ژیړ لونګې وهلې وه؟ او د هغه کیری او واسکټونو څخه معلومیدل چې اطرافي خلک دی .!

دومره بد احساس مې درلود که زما لاس کې وایې هغه دقه د هغه کور څخه تختیدم خو زبیر مې یو خوا او ذوالفقار مې بل خوا ته ناست وه او زما د هر رکم حرکت څخه یې مخ نیولی وه! هغه ځوان هلک د هغه خلاص کړی دروازی خواته ولاړی او څو دقې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته چې بیرته راغې نو موږ ته یې وویل: تاسو اول ورشئ پاچا صیب تاسو ته پتمه دی..
#شهاب🌒 :
د هغه هلک په خبره ذوالفقار لځایه پورته شو او زه یې هم ځان سره کش کړم، هیس مې زړه نه غوښت خو مجبوری د ذوالفقار او زبیر پسې هغه کوټې ته داخل شوم، مخامخ د کړکی لاندی نالي باندی یو د زیات عمر بوډا چې چندان نورانی څهره هم نه درلود په اوږدی ګیری او یو بالښت چې مخامخ ورته اینودل شوې وو او یو کتاب ورباندی وو ناست وو! زموږ په راتلو یې کتاب بند کړو او موږ ته په کتو شو، دری سره د هغه څخه لرې په څنګ نالي کیناستو، او سترې مشی مو وکړل البته ما دومره کرار سترې مشي وکړل چې زما پر ګمان هغه به بیخی زما غږ آوریدلي لا نه وی..!

ذوالفقار- اصل کې خبره دسی ده مولا صیب...( هغه بوډا د ذوالفقار خبره پرې کړل او ویې ویل: پاچا صیب..!( ذوالفقار لږ ورته وکتل او بیا یې وویل: هو ... پاچا صیب اصل خبره دسی ده چې دا څو وخته کیږی زما وراره باندی عجیب غریب کارونه کیږی داسي چې وینې( ذوالفقار زما لاس او سر ته اشاره وکړل) ضرر او نقصان یې هم ورته رسه ولې یو نفر تاسو موږ ته معرفي کړی که مهرباني وکړی وګوری څه مشکل دی؟

پاچا صیب- ستاسو وراره پیژنم.
د هغه پاچا دی؟ مولا دی؟ قاری دی؟ هر بلا چې دی، د هغه په خبره په حیرت مې وروکتل ډاډمن یم چې ما دا انسان خپل په ټول عمر کی مې هم یوځل ندی لیدلی! ښه په ځیر، ځیر ورګورم چې زبیر وایې: د کوم ځای څخه یې پیژنې؟
پاچا صیب- په اړه مې آوریدلي. کولي شې یو د هغه ستونزو څخه چې در پیښ شوی ماته قیصه وکړی ښاغلي طاها خان..!

د هغه پاچا پدی خبره چې زما نوم یې واخیست د ذوالفقار خواته مې وکتل، چې ذوالفقار په حیرت وویل: ما خو یاد ته نه راځي چې د طاها نوم مې دی تاسو ته ویلي ویې؟
د ذوالفقار په خبره پاچا صیب نری شانتې مسکا وکړل او ویې ویل: ځوانه زه د ډیر خبرو څخه خبر لرم..
زړه مې طاقت ونکړو او ومې ویل: تاسو چې زما په نوم خبر یاست او دومره معلومات لری، نو پر ما چې کوم چل شوی پر هغه به هم خبر اوسیږی!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خبره مې وکړل او په شکمن نظر مې ورروکتل هیس مې دا نفر په زړه ښه ونه لګیدی او بد احساس مې د هغه د سترګو د نظر څخه پر ټول وجود خپور کیدی، هغه ماته راوکتل او پداسي حال کي چي تراوسه همغه شیطني او خبیث مسکا پر شونډو وه کرار یې ماته وویل: پریږده واضح درته ووایم څوانه! کوم خبری چي ما آوریدلی او تر ما را رسیدلي د هغه خبرو او قیصو څخه چي پر تا شوی شاید فرق ولری؟! او ما ته شاید غلط را رسیدلي وی!؟ نو ته راته خپل قیصه وکړه چي زه داډمن شم..!

د هغه پدی خبره په نه زړه مې د رامخته شوی عذاب څخه لړ ورته وویل، زما د خبرو په وخت کي هغه خپل کتاب خلاص کړی وو او هغه ته یي کتل نه پوهیږم د څه شي کتاب وو؟ قرآن کریم او یا بل کوم داسي تفسیر یا کوم علمي کتاب خو ماته نه ښکاره کیدی؟! پر جلد د کتاب هیس شي نه وو لیکلی ساده تور پوښ یی وو! زما د خبرو د خلاصیدو وروسته ذوالفقار وویل:

ذوالفقار- ښه نو پدی رامخته شوی کار تاسو څه فکر کوی چي آیا دا پعذابه ول د پیریانو کار دی؟
پاچا خپل سر د کتاب څخه پورته کړو او پداسي حال کي چي خپل پر ګیره یي لاس تیره ویي وویل: په ډیر احتمال او ګمان هو ... د پیریانو کار دی ضرور کوم کار دی کړی..!؟
زبیر- څه کار؟
پاچا- د آدم (ع) د پیدابنت وخت کي خدای د پیریانو او انسانانو په مینځ کي یو پرده او حائل جوړ کړو! ترڅو مونږ د هغوی او هغوی زمونږ د دنیا څخه لری اوسیږی! تا ضرور یو کار کړی او هغه پرده او حائل دی لمینځه وړی..!

- خبره همدلته ده! زه بیخي نه پوهیږم چي ما څه کار کړی چي هغوی زما پسي دی؟ زه غواړم د هغوی د شر څخه خلاص شم..!
پاچا- که غواړی په دلیل یي پوه شي نو رامخکي شه څوانه ..( پاچا خپل و مخ ته اشاره وکړل او ددی خبری سره سم یي خپل د مخ بالښت او د هغه په سر کتاب یي پورته کړو او خپل څنګ ته یي کیخود ذوالفقار په سترګو اشاره وکړل ترڅو پاسیږم، په نه زړه د پاچا و مخ ته کیناستم

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه یو څه نور هم رانږدې شو، او خپل لاس یې زما پر سر کیخودو او ما ته یې وویل تر څو سترګې پټې کړم، په نه زړه مې د ذوالفقار خواته وکتل چې هغه د سترګو په پټولو او خلاصه ولو راته وویل چې د پاچا خبره ومنه؟ په سل نه زړه مې سترګې پټې کړل او هغه شروع وکړل په دم کولو او چوف کولو، تقریبا یو دوه دقې به تیرې شوې وه چې د سترګو د پردې شاته مې بیحده تیز روښنایي احساس کړل داسې لکه چې یو چا دې زما و سترګو شاته برق روښانه کړې وي؟

غوښتل مې سترګې خلاصې کړم خو د پاچا غږ مې واورېدې چې ویې ویل: سترګې مه خلاصه وه.( د هغه په خبره مې سترګې همغسې بندې وې چې دا ځل یو دم احساس مې وکړو د ځمکې څخه په پورته کیدو یم! بغیر لدې چې د چا لاس احساس کړم فکر مې کوی د ځمکې څخه جلا شوم! د ډیر ویرې څخه مې د پاچا خبره لیاده ووتل او سترګې مې په وحشت خلاصې کړې! او د مخامخ منظرې په لیدو د ډیر ویرې او وحشت څخه مې خوله خلاصه پاتې شوه..!

کوټه کې تکه توره شپه وه، نه پاچا وو نه هم ذوالفقار او زبیر ..! هیس سوک نه وه یواځې زه وم! کوټه بیحده تیاره وه داسې لکه چې شپه وي؟ ځکه بیرون هم تیاره وه په ډار او وحشت مې ذوالفقار او زبیر ته ناری وهل شروع کړل خو غږ مې له ستوني څخه نه وتې! هیس شي مې نسو لیدلی کامل توره شپه وه، غوښتل مې لځایه پاسیږم او د دې لعنتي کوټې څخه ووځم او ذوالفقار و زبیر پیدا کړم خو پښو مې هم یاری نکول! داسې لکه چې فلج شوی اوسیږی د ډیر ویرې او وحشت څخه ژړا ته نږدې شوی وم

چې په هغه تکه توره شپه کې د دروازې د خلاصیدو آواز مې ترغوږ شو په تلوار مې هغه خوا ته وکتل چې یو غټ پټ چهار شانه سړی چې څهره یې سم نه معلومیدل او پوره سر تر پایه یې تور هغه هم بیحد عجیب سم ددې عربانو کالو پشان چې تر پښو پورې سپین جوړه اچوی همغه ډیزاین خو په تور رنګ کې وه اغوندلې وه، مخامخ د دروازې خولې ته و دریدی او زما په لیدو یې سر ښې او چپ طرف ته وخوځه ویې او په قهرجن لهجه چې بیحده غږ یې ډارونکې و وویل: ما درته وویل مه راځه طاها....!

د هغه د غږ سره سم خپل پر مخ د یخ اوبو پر شیندلو په خود شوم او سترګې مې خلاصې کړې، سر مې د زبیر په غیږ کې ایخودلې وو او پروت وم؟! ذوالفقار د قهر او غضب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځه په سرو سترګو زما اندې ته ناست وو او اوبه يې په لاس کې وه، د زبير په مرسته کيناستم ټول بدن مې بيحد زيات درد کو او د ټولو ښځه زيات چپ لاس ګوتې مې..! خپل لاس ته مې وکتل چې د حيرت ښځه مې سترګې خلاصې شوې هغه بل لاسو خو مې مات وو او ددې لاس فکر مې کوې ګوتې مات شوې رنګ يې هم شين وو؟!

زما د کيناستلو سره سم هغه پاچا چې تراوسه لګيا وو خپل د کتاب ښځه يې يو شئ ليکل زما خواته وکتل او په کلک لهجه يې وويل: ما درته وويل سترګې مه خلاصه وه (بيا زما د لاس ګوتو ته چې تک شين شوې وه او داسې درد يې کوی لکه چې مات شوی اشاره وکړل او ويې ويل: که سترګې دی نه وايې خلاصې کړی زه هم نه مجبوريدم د زور ښځه کار واخلم.. په هر حال بنه وو مشکل دی پيدا شو ..

په کنکس انداز مې زبير خواته وکتل چې هغه هم زما پشان په کنکس او ويريدلی حالت وويل: دربادی حاضر يې کی (د زبير په خبره سترګې مې د حيرت او وحشت ښځه خلاصې پاتې شوی چې هغه کرار وويل: يو ښاپيرې وه!
- څه ...!؟

زما د حيرت ښځه په ډک غږ زبير وخندل او ويې ويل: نه چې ډير ملکوتي ښايست لری د انسانانو لځايه پيريان دربادی مين کيږی ..
- بلا بلا انسان پشان خبری وکړه څه چل وو.؟
زبير- خو درته ومې ويل وی..! ښاپيرې دربادی مين شوی وه، هغه د پايزيب شرنګ د هغې وو.
- دا ټول کارونه دهغې وه؟
زما جواب دا ځل ذوالفقار په غوسه راکړی او بد بد يې د هغه پاچا خواته وکتل: نه تراوسه موضوع صحيح نده معلوم.

- څه مطلب؟
زبير- مطلب دا چې هغه د پايزيب شرنګ، ماښام لخوا د بدن بې حرکت کيدل دی د خوب وخت کې او ځينې نور کارونه ددی اغلې ښاپيرې وه.! خو..
- خو څه؟
زبير- خو وهل ددی کار نه وو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



- یعنی هغه کوم د انسان کار وو؟
ذوالفقار- نه.
زبیر- اممم هغه د کوم بل پیری کار وو.

- یعنی یو وخت کې زما سره دوه پیریان وه؟
پاچا- دوه نه بلکې شاید یو ډله؟!
په حیرت او ویرې مې د هغه پاچا خواته کتل چې ذوالفقار په غوسه پاچا ته وویل: اوس یو کار وکه البته دسی کار چې سرانجام یې( زما لاس ته یې اشاره وکړل) داسې نه ویې یو دم وکه چوف وکه هغه پاتې پیریان هم راوغواړه او د طاها ښخه یې لرې کړه... خو دا ځل د اول ښخه وایم حق نلری دا مردار قلمونه دي د طاها په کوتو کې ننباسې او خوږ یې کړی..

د ذوالفقار په قهرجن خبرو تازه په قیصې پوی شوم چې زما لاس کوټې ولې داسې شوی..! ما لیدلې وه ځینې مولیان د پیری د حاضره ولو یا هم د بدن ښخه د باسلو لپاره یې د هغه انسان بدن ته چې کوم چې پیری پکی دی وهې تر څو درد یې پیری احساس کړی او لاړ شی.! لکه چې متاسفانه پر ما هم همدغسې چل کړی وو دا پاچا ..!

پاچا- زه اوس دا نور نسم حاضره ولې..!
زبیر- ولی کوم مشکل دی؟
پاچا- دا خو یو دانه ندی چې زه حاضر کړم او تاسو خو اوس ولیدی چې دا یو دانه یې دومره بد کلغ( ضدی) وه نو دا نور به یې سنګه وی؟
ذوالفقار په غوسه باندی خپل سر وینیتیانو کې لاس تیر کړو او په بې حوصله لهجه یې وویل: اوس چاره څه ده؟
پاچا- د اوس لپاره زه هیس کار نشم کولی، داسې نکیری چې زه یو، یو دانه دی حاضر کړم او قسم ورکړم چې نور دا ځوان پریږدی..! جنیات هسې یو سوک نه پعذابه وی ضرور یو دلیل باندی دا ټول ستا پسې شوی..!

- په څه دلیل ما څه کړی په دوی؟
پاچا- زیاتر هغه کسان چې پیریان یې پعذابه وی ددي بناپیر او مینې داستان ښخه چې تیر شو، ضرور تاسو کوم ضرر او نقصان هغوی ته رسه ولې ..؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبیر- طاها نو څه کار دهغوی سره کړی؟
پاچا- زیاتر کسانو چې پیریان زخمیان کړی یا ورته نقصان رسه ولې هغوی خپل لا ندی وربانډی خبر..! مثال ناساپه شپه کی بغیر د بسم الله ویلو څخه د باندی حویلی ته ځی یا هم چاقو یا بل کوم تیز شې یو خوا ګوزاره ویی یا سری ګرمې اوبه یو ځای بغیر د بسم الله ویلو توی کوی، په یو پیری به شاید هغه شیان تا ګوزار کړی وی..! او هغوی به دی زخمې مړی اوسیږی؟

سمده چې ته هغوی نه وینې خو هغوی شتون لری او تا وینې! هغوی هم جسم لری خو بیحده نرم او لطیف دی د همدی لپاره کولې شې هغوی خپل جسم پټ کړی..! شاید تا هم ختا او بی فکر کی هغوی ته زیان رسه ولې وی او اوس هغوی هم غواړی خپل قصد واخلې!

ذوالفقار- چاره څه ده؟
پاچا- زه باید خپل د ملګرو څخه مرسته وغواړم ترڅو راته دلیل معلوم کړی.
زبیر- ستاسو ملګری چیرته دی؟ کولې شی زنګ ورته ووهی ترڅو زموږ مشکل لږ ژر حل کړی!
ذوالفقار- د پیسو غم مه کوی زه ستاسو د ملګرو پیسی هم درکوم تاسو یواځی دا زموږ کار ژر حل کړی..
پاچا- اصل کې زما ملګری داسې ندی چې په زنګ وهلو یې راوغواړم! هغوی هرکله چې زړه ویې راځی..

د هغه خبری بل رکم وه داسې لکه چې سر عام یې وویل زما ملګری پیریان دی نه انسانان! د هغه د دی خبری په مطلب طما په نظر دوالفقار او زبیر هم پوی شو چې په حیرت یې وروکتل هیس بنه احساس مې و دی موضوع ته نه درلودا! او د هغه د دی خبری په آوریدو خو بیخی بد احساس مې پیدا کړو..

زبیر- اوس موږ څه وکړو داسی خو نکیږی چې همداسې لاړشو او هغه پاتی پیریان بیا د طاها پسی راشې! نکیږی اوس یې یو دانه راوغواړی؟ یا هم کوم شې موږ ته راکړی تر هغه وخت چې ستاسو ملګری راځی او تاسو ته ددی کارونو دلیل راوړی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا- يو شي ورکوم ترڅو د څو ورځو لپاره کوم پيری يې پعذابه نکړی..
ذوالفقار- بخښنه غواړم... دا ستاسو ملګری تاسو نشي راغوښتی؟
پاچا- نه.

د هغه د نه په ويلو نور موږ څه ونه ويل، هر دقه مي بد احساس زيات کيدو زړه مي غوښتل لاړشم د هغه ځای څخه، هغه خپل د کتاب څخه يو څو ورقی زموږ خواته ونيول او ويې ويل: دا ستا لپاره دی.
ورقې زبير ورڅخه واخيتسل قات کړی وه! زبير غوښتل چې خلاص يې کړی خو هغه وويل: اوس يې مه خلاصه وی.. نن ماښام په دولس بجو اور بل کړی کله چې اور په مړ کيدو وو نو دا دوه ورقې په انګار کيدی چې وسوځيږی، او هغه دوه ورقې چې شاته يې سره کرښه مې ويستلې هغه د کور په يو کونج کې دفن کړی.

- مننه.
ذوالفقار- تاسو دواړه لاړشې زه هم اوس درځم.
د ذولفقار په خبری اولې نفر زه وم چې د هغه منحوس ځای څخه ووتلم، بيا راپسی زبير راغې، موږ دواړه موټر کې د ذوالفقار راتلو ته په تمه شو، چې څو دقې وروسته ذوالفقار په تروش تندی را ووت او موټر کې کيناستي.
- ولې دی دومره وخت تير کړو؟
ذوالفقار- خپل شماره مې ورکړل او دهغه ده مې هم واخيست که ضرورت شو ورته زنګ ووهو.

- خو زما هيس خوښ نشو.( دا خبر مې وکړل او خپل د لاس ګوتو ته چې بيحد زيات يې درد کو و مې کتل چې زبير وويل: که لاس دی ډير درد کوی لاړشو ډاکټر ته.؟
- ضرورت نشته بنه يم. او هو ته بايد ما ته ټوله قيصه وکړی، چې سنګه چل وو؟
زبير په خندا وويل: صبر کورته ورسيږو سم درته د ليلا مجنون داستان تعريف کوم.
- بلا.
زبير- هغه خو ته لری هغه هم بناپيری بلا ..

- زبير زما پر عصابو مه ځه زه تراوسه پدی خبری کې شک لرم چې هسې نه خپل کوم پيری ميري ماته راستولې نه ويې؟ تاسو هم واوريدل چې ويل يې ملګری لرم ..؟ هغه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیریان؟
زما په خبری ذوالفقار د موټر د هینداری څخه راوکتل او ویې ویل: طاها! که وغواړی بیځایه خبری وکړی غاښونه دی په خوله کې در مات کوم! تراوسه موږ د جنرال شا نیولې وه چی تا دا کار کړی خو اوس چی هغه ستا لیلا حاضره شوه خبره معلوم شول باید په تمه اوسیږو چی پاچا صیب څه کوی؟

زبیر- ربنتیا ولی هغه د مولوی صیب پر ویلو تندی تروش کړو او ویې ویل ماته پاچا صیب ووایه؟
ذوالفقار- ولاکه زما سر خو نشو خلاص پدی کار یې ..!
- هسې چینجي درلود..
زبیر- شاید نوم یې پاچا وو؟ او د مولوی لفظ یې نه خوښیدی چې ورته استعمال کړی؟

یو عجیب غږ زما د چپ طرف څخه وویل: پاچا اصل کې د سیدانو له ډلې څخه ویې "سیدان د حضرت محمد"ص" د نسل اولادی ته وایې" او دوی د مولوی لفظ پدی خاطر نه خوښه ویې ځکه دوی وایې زموږ رتبه د مولیانو څخه پورته ده! هغوی حتا د مولیانو پسی د لمانځه شاته لا نه دریږی!( په ویری او وحشت مې خپل اندی ته وکتل چې چا دا خبری وکړل؟ خو هیس سوک هلته نه وو؟)
په لړزانده غږ مې وویل: تاسو هم واوریدی؟
زبیر- څه؟
-دا غږ؟
ذوالفقار د موټر د هینداری څخه په مشکوکه نظر راوکتل او ویې ویل: کوم غږ؟

- ه... هم ... همدا چې وویل"پاچا اصل کې د سیدانو له ډلې څخه ویې او دوی د مولوی لفظ پدی خاطر نه خوښه ویې ځکه دوی وایې زموږ رتبه د مولیانو څخه پورته ده! هغوی حتا د مولیانو پسی د لمانځه شاته لا نه دریږی!

ذوالفقار او زبیر په حیرت راوکتل او زبیر په همغه حیرت وویل: دا څه وایې؟ چا درته دا خبره وکړل؟
- یعنې تاسو وا نه وریدل؟
ذوالفقار- نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبیر- نه ما ستا د خولې اول ځل دی دا الفاظ د پاچا او مولوی د توپیر په اړه آورم ..!
د ډیر ویری څخه مې رنګ وپریدی، چې ذوالفقار وویل: هغه تعویذات یې راکړی شاید دهغه له سبب دوی داسې ځانونه تاته ښکاره کوی صبر ماښام یوځل هغه تعویذات د پاچا صیب په ویل شوی طریقه استعمال کړو بیا دا ټول شیان ختم کیږی آرام اوسیږه.

د ذوالفقار په خبره زړه انداز لا د ویری څخه مې کم نشو، خو نور څه مې ونه ویل او خاموش شوم، ذوالفقار موږ دواړه تر کوره ورسه ولو او خپل لاړی ترڅو ماښام لپاره سودا واخلې، په لړزانده او ویریدلی قدمو د کور خواته روان شو.. هغه د پاچا راکړل شوی کاغذونه مې اړول راړول، زړه مې غوښت خلاص یې کړم او وګورم څه یې پکې لیکلی؟

- زبیر وایم که دا کاغذونه خلاص کړم کوم مشکل خو نلری؟
زبیر چې زما څخه لږ لری د دتلویزیون خواته ناست وو او موبایل کې لګیا و ویې ویل: مه خلاصه وه ما آوریدلی تعویذات چې خلاص شې اثر یې ځې! او هو و دی نه لیدل پاچا صیب زه هم د ورقی د خلاصه ولو څخه منع کړم!
- نه پوهیږم ولې خو هیس مې خوښ نشو دا پاچا ...
زبیر په خندا وویل: مرکې ته دی خو ندی راغلې چې داسې وایې! ته دعا کوه ستا مشکل حل کړی نور بیخی مه ورځه هغه خوا ته..

- خدای دی وکړی حل کړی مشکل.
زبیر- حل کوی هسی ګوره هغه پیری تاته وویل د پیغمبر "ص" د اولادی څخه دی او سیدان دی! نو ضرور سم سړی دی؟
د زبیر په خبره هغه غږ مې یاد ته راغلو چې دا خبری راته وکړل د هغه په غږ کې یو شانتې پسخند وو لکه ریشخند باندی چې دا خبری کوی؟

- ربنتیا زبیر تا ماته ونه ویل چې سنګه چل وشو هلته د پاچا کور کی؟
زما په خبری زبیر په خندا خپل ځای کې کیناست او ویې ویل: اخ افسوس چې ذوالفقار په غوسه وو او اجازه یې رانکړل ویډیو ونیسم کنه سم هندی فلم وو ..
- بلا بلا سنګه بیا خوشحال دی.
زبیر- یعنی باور وکړه طاها که ستا لځایه بل هر سوک وایې ما فکر کو چې هسې ټګې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوی او پیری میری نشته، یعنی داسي درب وغورځیدی چی زه او ذوالفقار هک حیران شو! دوه دقی لا تیر شوی نه وه چي ټول بدن دی په لرزی شو بیحده بد لرزیدی لکه دا میرګی چطط نیولي اوسیړی؟ ذوالفقار غوښتل تا پورته کړی خو پاچا صیب اجازه ورنکړل

تقریبا د دوه دقو وروسته ناساپه خپل ځای کي کیناستي سترګي دی هم خلاص کړی پاچا صیب پوښتنه وکړه، سوک یې؟ ما ګمان وکړو اوس به ووایي زه یم طاها! خو تا وویل ...( په هیجان او حیرت مي غوږ نیولي وو د زبیر خبرو ته هغه چي خاموش شو ومي ویل: بښه څه مي ویل؟

زبیر- تا نه ویل هغه ستا لیلا ویل( زبیر زما د هغه وخت پیښي وکړل او ویې ویل: زه فلانکي یم..! یو داسي عجیب نوم یې ځانته واخیست طاها چي ما بیخی وا نه وریدو؟ او بیخی پوی نشوم وربادی زیات عجیبه وو، د هغه څخه وروسته پاچا صیب ورڅخه پوښتنه وکړل چي ولي دا ځوان پعذابه ویې او څه ورنه غواړی؟ ( زبیر خپل د خبری دی ځای کي په هیجان وویل: بغیر لدی چي خبره کش راکش کړی ویل زه وربادی مینه یم! هر کار ورته کوم هر شي وغواړی ورته راوړم...

زبیر دومره په هیجان دا خبری کول چي زما هم شوق او خندا راغله او ومي ویل: ربښتیا وایې؟ همداسي وویل؟

زبیر- پخدای باور وکړه همدغه یې وویل.

- ولای دی دنیا ته مي امید بیدا شو که نور نه ویې یو بښاپیری خو حاضره ده زما لپاره هر کار وکړی ...

زبیر تر ماښام د هغه وخت چي پر ما پیری حاضر شوی وو او زه بی خود شوی وم قیصی وکړل، او دومره په شوخی او ټوکی هغه موضوع بیان کړل چي ما او ذوالفقار دواړه یې په خندا مړه کړو... تر ماښام دولس بجو دری سره ویښ و دولس بجي چي پوره شول حویلي ته لاړو او ذوالفقار یو ووړوکي اور بل کړو او هلته دری سره کیناستو کله چي لرګي انګار شول

نو زبیر وویل: کاش کباب مو پوخ کړی وایې!

ذوالفقار- لکه حامله داره ښځه پدی نیمه شپه کیدی کباب ته زړه وشو؟

زبیر- یواځي د حامله داره ښځو زړه کیږی؟ موږ زړه نلرو؟ هسی ښایسته د لرګو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوځیدو چړک،چړک دی پدی باندی یو څو سیخ کباب وایې هی هی نو...
ذوالفقار- دا خبری پرېږدی پاسه طاها..
- ساعت څو دی؟

ذوالفقار- 12:1 دقیقه پاسه خلاص یې کړه بیا په انګارو یې کیږده هغه سره کرښه چې وربانډی ده هغه دفن کړه پوی شوی؟
- سمده.
هغه دوه کاغذه مې خلاص کړه ددی څخه مخکې چې ورواچوم ور ومې کتل چې څه پکی لیکلی؟ زبیر هم زما څنګ ته راغلو ترڅو وګوری څه دی!؟ عجیبه شیان پکی رسم شوی وه! اعداد وه کرښی وه علامی وه حتا شکلونه وه! موږ د هغه شیانو په کتو وو چې ذوالفقار وویل: انګار مړ شو څه مرګ کوی تاسو دواړه ژر کوی..

د هغه په غږ د هغه عجیب لیکل شوی شیانو څخه مې نظر واخیست او په انګار مې کیخودو، همدا چې کاغذ اور واخیست یو چیغه مې د حویلې د کونج څخه وآوریده! یو د ښځې چغه وه! په تلوار مې هغه خواته وکتل خو هیس سوک نه وو! زما په ورختا کتلو زبیر وویل: څه شوی؟
- تاسو غږ وا نه وریدی؟
ذوالفقار په مشکوک انداز وویل: د چا غږ؟
- د یو ښځې چیغه وه!

ذوالفقار او زبیر یو بل ته په حیرت وکتل او زبیر ما ته په کتلو وویل: شاید د تعویذ اثر وی او هغه بناپیر سوځیدلی وی؟
ذوالفقار- دا خبری پرېږده شابه دا دوه نور هم هلته د حویلې کونج کې دفن کړه.
ذوالفقار چې د حویلې کوم کونج خودو هغه تکه توره شپه وه! او ما غږ هم د همغه طرف څخه آوریدلی وو نو د ویری څخه مې جرعت نکوی هغه طرف لاړشم او ذوالفقار ته مې وویل: ته ورشه دا هلته دفن کړه.
ذوالفقار- زما په خیال ته یې باید خپل پر لاسونو وکړی ترڅو اثر وکړی؟

د هغه په خبره مجبور کاغذ مې را واخیست او روان شوم، ذوالفقار او زبیر هم زما پسی راغله لکه چې یوه شول زه ډاریدلې یم؟ زبیر خپل د موبایل برق روښانه کړو ترڅو لږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ړنا شي ما هم ژر هغه کاغذ دفن کړو او شکر دا ځل مي کوم عجیب شي وا نه وریدی.
زبیر- ستاسو په نظر دا کاغذ ابری تولي کړو یا لاس ورته ونه وهو؟
ذوالفقار- پاچا صیب د ابرو په اړه یې څه ونه ویل نو کوم مشکل به نه وی، پاک کړه او لری ختا کړه.

دشپې یوه بجي شاوخوا وه چي د حویلي څخه نور میلمه خانې ته داخل شو هسي ما ویل همسایه ګان فکر ونکړی چي پدی نیمه شپه غله راغلي که څنګه چل دې چي دا دری نفره حویلي کی ګرځي راګرځي؟ دری سره خپل ځایونه واچول ما خپل ځای داسې ځای واچوی چي شاته مي دیوال ویې او مخ د دروازی خواته ویې نه پوهیږم دا څو وخته مي زړه کي ویره ولیدلي وه او هغه ځای می خوښ کوی او ویده کیدلم کوم چي شاته راته دیوال موقعیت ولری داسې می د امنیت احساس کوو..

سر مي بالښت ته رسیدلي نه وو چي ویده شوی وم د خوب حالت کي وم چي احساس مي کړو یو نفر مي سنګ ته کیناستو؟! او داسې لکه چي خپل ځان لږ زما خواته کوږ کړو! ددی کار په ویری او وحشت مي سترګی خلاصي کړی چي و مي لیدو ذوالفقار یو غټ چاقو په لاس کي زما سنګ ته ناست دی..

- څه کار کوی ذوالفقار؟
ذوالفقار- بخښنه کوه راویښ مي کړی، اصل کي ستا شاوخوا مي خط باسو پر چاقو باندی.
- د څه لپاره؟
ذوالفقار- هغه پاچا صیب ویل کله چي ته ویده یې ستا شاوخوا یو چاقو د کربنې باسلو پشان راکش کړم ترڅو پیریان دی په خوب کي یعذابه نکړی.
- منه خو اوس دی راویښ کړم که اجازه راکړی پاسم..

دوالفقار- لا تړواسه وختی دی لا د سهار آذانونه یې لا ندی کړی..
- خو زما خوب دی وپره ویې..
ذوالفقار- بیا هم بخښنه کوه.
څه مه ونه ویل او دا بل څنګ باندی پریوتم ذوالفقارم څو ثاني وروسته، زماد سنګ څخه پاسیدی، د ربښتیا هم چي ذوالفقار زیات حوصله درلود سهار د مولا آذان مخکي را ولاړسوی ترڅو زما شاوخوا په چاقو کربنه وباسي ترڅو زه نور خوب کي ونه ډاریږم...

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره درونډ ویده شوی وم چې سهار د څو نفرو د خبرو کولو په حال راویښ شوم غږ مې وپیژندی د بابا وو؟

بابا- څه شوی وربانډی؟
ذوالفقار- ه ... هغه هیس د یو موټر سره یې تصادف کړی وو.
بابا- ولی دی هغه وخت ماته زنګ و نه وهی؟
ذوالفقار- فکر مې نسو لالا..
بابا- سنګه فکر دی نسو ذوالفقار دا که خدای نکړده یو شئ وربانډی شوی وایې سبا ورځ تا ماته جواب راکولی سو؟؟

بیحده غوسه راغلې وه په کلو کلو بابا زما پوښتنه نکوی او اوس خپل دا بی لیاقتي او بي مسولیتي ګناه په ذوالفقار اچوی! دومره عصبی وم چې بغیر لدی چې خپل مات شوی لاس او سر ته کوم پام وکړم په یو خیز خپل ځای کې کیناسنم، زما په پاسیدو هغوی راوکتل زړه مې غوښتل یو څه زړه تش کړم پر بابا او یو څه خبری ورته وکړم خو د ذوالفقار سترګي چې ویل طاها دا کار ونکړی د جنګ کولو څخه منع کړم لکه چې ذوالفقار پوی شوی وو چې زما زړه یو جنګ غواړی چې داسې راکتل؟!

بابا په ځیر ځیر راکتل خو ما بغیر لدی چې حتا سلام ورواچوم د کوټی څخه مې غوښتل ووځم چې د هغه غږ مې واوریدی چې ماته یې وویل: سلام دی چیرته ولاړی؟
د هغه پدی خبره مې مخ وروګرځه وی دوه سترګي ماته نیولي وه! د هغه څخه مې نظر واخیست ذوالفقار ته مې وکتل هغه ده سترګو په اشاره زه آرمتیا ته دعوت کړم، بغیر لدی چې څه جواب ورکړم د کوټي څخه ووتلم په تلوار خپل کوټی ته ولاړم خپل کالي مې په یو زحمت بدل کړل په هغه کور کې اوسیدل چې بابا حضور لری ناممکن کار دی ناممکن، غوښتل مې د کوټي څخه ووځم چې ذوالفقار را ننوت.

ذوالفقار- چیرته پخیر داسې جوړ کړی روان یې؟
- زبیر چیرته دی؟
ذوالفقار- ستا د پلاز په راتلو هغه ژر لاړو.
- زما په ګیر به رانشی دا ناځوانه زه یې پریخودم یواځی ځان الفرار...

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذوالفقار- ما ورته اجازه ورنکړل تا راوبین کړی.

هیس مې ورته ونه ویل او د کوټې د دراوزی خواته روان شوم چې ذوالفقار د اوږی څخه ونیولم البته دومره کلک نه یواځې ددی لپاره چې زما د تلو مخنیوې وکړی کرار یې ونیولم خو ناساپه دومره اوږی مې درد وکړو چې بی اختیاره مې د خولې څخه اخ ووت!
ذوالفقار په ورختای وویل: څه وشو؟
- هیس اوږه مې ناساپه په درد شوه.
ذوالفقار- ته ښکاره کړه.
- ضرورت نشته پرېږده..

ذوالفقار بغیر لدی چې زما خبری ته توجه وکړی اول خو زما د کالو لستوني پورته کړو ترڅو هغه ځای چې درد کړی وو وګوری خو کله چې د لستوني په پورته کولو هغه ځای نه ښکاره کیدو نو په یو ناساپه حرکت کې ذوالفقار زما کمیس زما د سر وباسې..! دهغه پدی کار د شرم څخه مړ شوم خو هغه بغیر لدی چې ماته کوم توجه وکړی زما اوږی ته په کتو شو پر اوږه باندی مې یو غټ شین ټپ وو! ولی زما خپل ورته فکر نشو؟

ذوالفقار په حیرت وویل: دا څه شوی؟
- ما هم تازه ولیدو شاید پر کوم شي لګیدلې یم او هغه دقه مې فکر ندی شوی..
ذوالفقار- خر خو نه یې چې دومره کلک ولګیږی او دومره ټپ وکړی زخم او ته خبر نشي؟

هیس مې ونه ویل چې ذوالفقار یو څو ثاني نور هم هغه ټپ ته په تروش تندی او ځیر ځیر وکتل، زه بیحده خجالتې او شرمندوک انسان یم او دا چې داسې د ذوالفقار مخ ته ولاړ وم کیلو کیلو وزن مې کم کړو، ذوالفقار چې د هغه ټپ څخه نظر واخیست تازه زما د شرم څخه سور مخ ته یې فکر شو! یو وریځ یې پورته کړل او په حیرت یې راوکتل بیا لکه چې تازه سر یې خلاص شو چې څنګه چل دی! چې زما کمیس یې زما خواته ونیو او د کوټې څخه ووت.

ما هم خپل کمیس واچو او په تلوار د کور څخه ووتم، زبیر ته مې زنګ ووهو او ورته مې وویل چې زه پوهنتون ته روان یم راځه، دا یو هفته کیدل چې نه وم تللی حالت مې بیحده

(c) ketabton.com: The Digital Library



خراب وو ظاهر حالت یادوم یو لاس په ګچ کې دویم لاس تک شین سر هم مات رنګ هم ډاډمن یم چې د ګچو پشان تک سپین وو! خو چاره نه وه اخری کال مې وو هر رکم جبر او خواری که وه باید، دغه سمستر مې هم خلاص کړی وایې، پوهنتون لاره کې داسې احساس مې درلود چې یو سوک مې تعقیب کوی؟ خو چې شاته کتل مې هیس سوک نه وو؟!

زما د رسیدلو سره سم زبیر هم راورسید! لکه چې موټر کې راغلی وو ځکه د زبیر کور د پوهنتون څخه لری وو او دومره ژر پیاده نشو راتلی، زما پر لیدو زما طرف ته راغلو.
زبیر- سلام
- مرګ.
زبیر- وبخښه باور وکړه ما غوښتل راویبن دی کړم او د هغه ځای دی وباسم خو ذوالفقار ویل مه راویښ کوه.
- زر ځله مې تاته ویلې چې کوم ځای کې چې زما پلار وی هغه ځای څخه ځان هم باسه ما هم! خو ته نامرده یواځې تختیدلی وی..!

زبیر- ومې ویل کنه ما غوښتل هغه ځای څخه دی الفرار کړم خو هغه لیونی کاکا دی اجازه رانکړل.. څه خو یې ونه ویل ستا پدی شانتی لیدو؟
- باور کوی په ذوالفقار یې پټکې کول چې ویلی مو زه نه یم خبر کړی؟ یو ځل فکر نکوی چې زه د هغه زوی یم او هغه زما پلار دی او باید زما احوال د هغه سره وي نه دا چې د ذوالفقار څخه یې واخلې؟!
زبیر- خوشې عصاب دی خبرو ته مه خرابه وه.

نور څه مې و نه ویل خو زړه مې خفه وو د بابا څخه د هغه د بی فکری څخه د هغه د بیځایه خبرو او کارونو څخه، پوهنتون ته په ننوتلو ټول هغه کسان چې مثال ما لړ لړ پیندل او صنفیان مې په حساب راتلل زما د حال پوښتنه یې کول! په حیرن مې زبیر ته وویل: دا ولې ټول داسې پوښتنې او د صحت غوښتنه ماته کوی؟
زبیر- یو ته بی احساس یې او د چا مرګ او ژوند درته مهم ندی، د هغه ورځ په صبا چې ته پیریان صاحبانو ډبولې وی زه راغل اول پوهنتون ته او د مدیر څخه مې اجازه واخیسته او ومې ویل چې تا تصادف کړی موټر سره او نشې راتلې! هغه استاذ باندی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا څو وخته ته ګران شوی نه یې هغه ګنجې!( همغه چې زبیر ویلې وه

طاها د طب پوهنځی محصلینو نوټونه لیکلی او طاها یې د استاد مخکې د فلم هیرو جوړ کړی وو همغه ورته یادوی.) هغه ټول پوهنتون خبر کړی وو چې یو لایق او با استعداد او فلان کرده و بستان کرده محصل می تصادف کړی او ورته دعا وکړی چې خدای شفا ورکړی، بس ټول پوهنتون خبر شو چې جناب طاها خان مریض دی! نوځکه اوس درته دا ټول دی د صحت او سلامتی پوښتنه کوی...

په حیران نظر می د زبیر خبرو ته غوږ نیولی وو بیا مې په خندا وویل: خبر نه وم دومره مینوال لرم.
زما په خبری زبیر هم وخندل او ویې ویل: دا لنډغران ایله کوه هسی یو خاص مینواله هم لری هسی ماته یې دومره ډیر وویل چې ستا شماره ورکړم خو ما ورنکړل.
- سوک؟
زبیر- اغلي میشا...
- بلا ... بلا... بنه ده چې ندی ده ورکړی شماره کنه ژوندی مې پوست کولې.
زبیر- بس بی لیاقت انسان یې څه درته ووایم، او هو ربنتیا که ووایم ما شماره ورکړل خو ورته مې وویل تر یو دوه هفتو ورته زنګ مه وه چې حالت یې بیخی خراب دی او د موبایل جواب نشي درکولی.

د زبیر پدی خبره و درېدم او مخ مې ور واړه ویې چې هغه هم په خندا وویل: داسې مه راګوره زه ستا د راتلونکي په فکر کې یم هسی نه مجرد مړ شی د یو ملګری په صفت زه باید ستا کور در جوړ کړم، هسی هغه کاکاګانو او پلار څخه دی خو کوم خیر نه درسیږی...
غوښتل مې یو دوه دری بوکس خو ورکړم چې لږ زړه مې وربادی یخ شوی خو افسوس یو لاس مي مات و او بل هم دومره درد کو چې د هغه پر وهلو درد ماته راتلو نه هغه ته ..! یواځې کنځل مي ورته وکړل او صنف ته داخل شو صنف کې هم داسی بد حال شو زما په راتلو!! زه د ربنتیا هم نه وم خبر چې زه دومره مینوال لرم ولای!

د استاد په راتلو هغوی زه پریخودم ما د هغوی نومونه لا زده نه وه نور خو لری! هسی د هر چا جواب کې می یواځې مننه،خیر ویسې، دا ستاسو مهربانی ده، او داسی بیځایه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوابونه مې ورکول... د درې ساعت د استاد بیخایه خبرو آوریدو وروسته چې ماته یې سر درد راواچو درس وخت خلاص شو او موږ هم د پوهنتون څخه پر وتلو شو، د پوهنتون و دانې څخه وتلې وو چې د یو جنې غږ مو د شا لخوا واورید چې ساه،ساه یې وهل او معلومیدل چې ډیر حد زموږ پسې رازغاستلې دی و دریدو، زینت او د هغه ملګرې میشا وه!!

د هغې دواړو په لیدو خو ما هیس ښه احساس نه درلود زړه مې غوښت ژر نر ژره د هغه ځای څخه لرې شم خو زبیر په خلاص تندی او د خندا څخه په ډکه خوله یې وویل:
سلامونه او نیکې هیلې اغلو ښه یاست؟ کوم امر خدمت مو زموږ عاجزانو سره وو؟؟
زینت- هو هغه موږ د اغلې طاها حالت غوښتل پوښتنه وکړو، ځکه څو ورځې مخکې تاسو ویلې وه چې تکړ یې کړی!
زبیر زما سر او لاس ته اشاره وکړل او ویې ویل: که دا لاس او سر یې په نظر ونه نیسو نور یو دم سنګه چې ګوری رک روغ دی ماشالله.

د زبیر په خبره زینت زما خواته راوکتل او ما د میشا کرار غږ واورید چې د ځان سره یې وویل: د خدای شکر چې ښه دی.. خدایه شکر دی..
زه لا د میشا د خبرې په حیرت کې وم چې زینت وویل: طاها وررور شفا دې وی.
د هغې د وررور په لفظ خفه خو نشوم ځکه ما خو کوم د واده پریکړه نه درلود ورسره خو راته عجیبه وه چې هغې راته وررور وویل؟! یو څه راته جالب معلوم شول دهغې دا لفظ خو کرار مې ورته وویل: مننه ستاسو د پوښتنې څخه، که کوم کار مو نه ویې موږ به نور لاړشو هغه زما سر لږ درد کوی..

ما اصل کې سر دومره هم درد نه کو او یواځې مې بهانه راوړل چې هغوی لاړی شی خو زبیر په ورختای وویل: ولې دی سر درد کوی؟ که ډیر درد کوی راځه ډاکتر ته دی ویسم، هسی هغه ډاکتر وویل تر یو دوه هفتو مطلق کامل استراحت وکړه خو ته خیرن په دریم ورځ راروان شوی پوهنتون ته..
میشا- هو ښاغلی زبیر ربښتیا وایې که سر مو زیات درد کوی دلته نږدې یو شفخانه شته هلته به لاړشو..

د میشا په خبره نور مې هم عصاب خراب شول زبیر خواته مې داسې بد بد وکتل چې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم تازه پوی شو چې ما هسې یهانه راوړل نو ځکه په تلوار یې وویل: نه نه هغه رښتیا ډاکټر یې ویلې وه چې د شور ماشور څخه یې لرې وساتی نن د استاد خبرو او دلته دا بیرون چغو پوغ وربادی فشار راوړی کورته لاړشو استراحت وکړی ښه کیږی، ستاسو اغلو څخه زه د زړه د تله بخښنه غواړم خو موږ باید لاړشو تاسو خپله هم وینې چې د طاها حالت لږ ښه ندی..

د زبیر په خبره دواړه انجونو په تلوار هو هو وویل او یوڅه نور خبری هم وکړل چې ما یوه خبری ته یې لا سم دقت ونکړو او سر مې ښکته نیولې وو د هغوی دواړو په تلو موږ هم حرکت وکړو د زبیر د کور په خوا لاره کې می هم زبیر ښه سپک کړو، او هغه هم یوائې ویل..

زبیر- خاوری دی د میشا په سر شي چې ستا پشان بد اخلاق باندی زړه بایللی... اخیر ته څه لری..؟ نه یو ملکوتی ښایست او ځوانې لری نه هم کوم مال او دولت لری چې زه ووایم ستا د پیسو لپاره داسی د مین توب دعوا کوی نه حتا یو سم اخلاق لری.... هسی رښتیا وایې چې مینه ړانده ویې...
- خوله دی بنده کړه...
زبیر- باور وکړه طاها بیحده خوش نه باید ووایم خر شانس یې یعنی هم دربادی پیریان مین کیږی هم دربادی انسانان؟ اخیر د کوم مولا څخه دی تعویذ اخیستی ماته هم آدرس راکړه...

د زبیر په خبرو ما یوائې ورته خندل، هغه داسې په تاسف او نامیدی دا خبری کول چې ماته خندا راتلل، د نیم ساعت وروسته د زبیر کورته ورسیدو، د هغوی کور یو دوه منزل لوکس کور وو! هسې د زبیر پلار ډیر بیسه داره انسان وو زما په نظر تجارت یې درلود خو نه پوهیږم د څه؟ دواړه ننوتلو او زبیر زه مستقیم خپل کوټې ته چې په دویم منزل کې وه پورته کړم، څو ځله چې راغلې وم زبیر زه خپل کوټې ته وړم نه میلمه خانې ته؟ یوځل مې ددی کار پوښتنه ورڅخه وکړل نو هغه وویل ته خپله وایې میلمه خانه! نو تخو میلمه نه یې ماته!

د زبیر کوټې ته ننوتلو زبیر د باندی ووت ترڅو ګوری غرمه څه پاخه کړی؟ او زه یوائې پاتې شوم. د زبیر کوټه بیحده سم موقعیت یې درلود یو غټه کړکی درلود چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې حویلۍ خواته خلاصیده او شنه فضا ورڅخه معلومیده یو تشناب او هر هغه شي چې د یو انسان د هوساینې لپاره پکار دی لکه اوبه، برق، چارجر د موبایل، وایفای او خلاصه چې د خانانو ژوند وو بخیلې خو نکوم بلخصوص د زبیر سره خو یې بیخي نکوم نوش جان یې خدای دی ددی څخه لازیات ورکړی په زبیر مې پیرزو ده، خو څه کیدل که ددی شیانو نیم... نیم نه یواځې یوځای وایې چې ما بغیر د کوم منت څخه هلته ژوند کړی وایې سومره خوند به یې کړی وایې!

په همدی فکرونو کې وم چې زبیر راغي زما پر لیدو یې وویل: کوم خبری ته دسې چرت وړی یې؟

- زړه مې غواړی یو تنها کور ونیسم.

زبیر- ای اپرین اوس تازه زما خبری ته راغلې ما درته اول کې وویل چې یواځې کور واخله.

- اخیستل نه ... نیول کرایه یا هم ګرو کول، د اخیستلو توان نلرم.

زبیر- دا هم ښه خبره ده خو دا راته ووایه څنګه ناساپه کور نیولو ته دی فکر شو؟ چا خو درته څه ندی ویلي؟

- څوک به څه ووایي؟ د ذوالفقار کور دی خپل خو سل کال وروسته هم ولاکه یو بد خبره یا د تلو راته ووایي خو نور نکیږی...

ذوالفقار کور کې 24 ساعت زموږ خپلوانو چاپه اچولې او زه نور د هغوی د بیځایه خبرو آوریدو توان نلرم، زبیر کرار کرار په ګرځیدو شه که کوم کور دی پیدا کړو په کرایه باندې یوه کوټه هم ولری زما لپاره بس دی، کوښښ وکړه کرایه یې کمه وی د 1500/1000 څخه زه زیات کرایه نه ورکوم ویلې مې وی.

زبیر- اممم شاید پیدا شي په همدغه قیمت چې تا وویل.. رښتیا ادی غوښتل راشي یو ځل تا وګوری هسې ما تولو ته ویلې وه چې تا تکر کړی نو ځکه ادی درته په تشویش وه..

زبیر دا خبره وکړل او د کوټې دروازی خواته لاړو د زبیر مور نوم خو یې نه پیژنم خو ډیره ښه ښځه ده بیحده سم د زبیر پشان ده مهربانه او همدا عمر کې لا شوخی معلومیږی بیحده نرم زړه ښځه وه، دوه دقو وروسته زبیر خپل د مور سره راغي زه ژر په تلوار یې و مخ ته پورته شوم، ستړی مشي مو وکړل هغې راڅخه زما د حال پوښتنه وکړل تقریبا لس پنځلس دقی ناسته وه، د هغه څخه وروسته ولاړه او د تلو مخکې وویل ډوډی دراستوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواړو ته د ماذدیکر خواته ذوالفقار زنګ ووهې...

ذوالفقار- الو طاها چیرته یې؟
- زبیر کور کې یم...
دوالفقار- غرمه خو هم تیره شوه نور نو څه کوی راځه کورته..
- بابا لاړی؟
ذوالفقار- نه لا دلته دی.
- نو زه نه راځم.
ذوالفقار- ځان څخه ماشوم مه جوړه وه طاها وایم راشه یعنی راشه....
- ترڅو چې بابا هلته دی زه قدم لا هلته نه درځم..

ذوالفقار بیحد زیات ټینګار وکړو خو ما وویل"نه" ذوالفقار هم چې کله پوی شو زما جواب نه بدل کیږی یو څو ګوابنونه یې راته وکړل او موبایل یې خاموش کړو، د ماښام ډوډی خوړلو وروسته د زبیر سره مې مجلس کو چې هغه وویل: رښتیا طاها اختر ته دی کالې کړی؟
د زبیر په خبره په حیرت مې وویل: اختر ته څومره وخت پاتی چې ته زما څخه د کالو پوښتنه کوی..؟
زبیر- زما په نظر دوه هفتې به پاتی وی،! هسې دوه ورځې وروسته پوهنتون رخصت کیږی بیا لخیره تر دوه هفتو ورڅخه بیغمه یو..

- ما بیخی اختر ته فکر نه وو! ما ویل شاید یو دوه میاشتې به ورته پاتی وی؟!
زبیر- ته نو بیخی تکړه یی د دی خبری څخه دی معلومیږی چې اختر ته دی کالې مالې ندی کړی؟
- ته بیکاره پاتی یی کالې چیرته وه؟ ما اختر لا یاد کی نه وو!
زبیر په هیجان او شوق وویل: راځه ددی اختر په خوشحالی کی یو نوی بدلون وکړه.
- لکه څه؟
زبیر- لکه راشه زه دی دا ګډی وډی وریځې یوڅه سم کړم ..؟!
- مننه خو زه نغواړم خپل وریځې د ښځو پشان نری کړم.

زبیر- بلا د ښځو پشان، حدیث شریف کی راغلی پاکوالی د ایمان نیمه برخه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



- یعنی وریځی اخیستل ستا په نظر پدی حدیث کی شامل دی؟
زبیر- عه څومره بیځایه خبری کوی په پاکوالی کی ټول څیزونه شامل دی که هغه د مخ وپی که د....
- بلا بی ادبه.
زبیر- یو دا نن ته اجازه راکړه زه دی وریځی سم کړم، قسم خورم چی یواځی څو تاره ګډوډ یی اخلم نور لاس ورته نه وهم.
- امکان نلری
زبیر- که خراب شول زه دی توان درکوم.

- که خراب شول زه توان څه وکم؟
زبیر-خیر دی طاهاا!!
دومره په عاجزی وویل چی زړه می ورته وسوزیدی، او ځان سره می وویل یو دا ځل د زبیر د زړه لپاره یې ومنه.

- زبیر خپل په لاسو دی دفن کوم، زه اوس په کوم مخ د خلکو سترګو ته وګورم؟
زبیر په خندا وویل: دا څلور کاله کیږی دا می آرمان وو چی ستا ګیره وخریم نن خپل آرمان ته ورسیدم.
باور می نکیږی داسی کار یی کړی ویی؟ وریځی سم اخیستی وه داسی چی بیخی نه معلومیده چی لاس وهل شوی یکی؟ خو زما دوه تاره ګیره باندی پوره پاکی تیره کړی وه؟

- تا څنګه داسی کار وکوو؟
زبیر- پخدا چی د هغه دوه تارو څخه بهتره شوه، دوه دری ورځی وروسته چی تکه توره ګیره دی راغله او تا پکی لاس تیر کړو! هغه وخت ماته دعا کوی. او وایی کاش زبیر ته مي وخته اجازه ورکړی وایی!
- ورک شه زما د سترګو څخه.

هغه دوه تاره ګیره دومره هم نه وه خو بیا هم زما په نظر بیحده زیات معلومیده! او اوس مي داسی احساس کوو چی لوڅ لغړ یم! داسی لکه چی یوشئ می کم شوی ویی؟! یو متل دیي وایی: خود کرده را تدبیری نیست. پر ما هم هغه چل وشو پر ما څه جبر وو چی دده شیطان خبره می منل؟ اوس چی ومي منل همدا مي حق دی، نور می د زبیر سره جارو

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنجال ونکړو او هغه هم په نه کنټرول کیدونکی انرژۍ چې خپل د شرورارنه پلان پر عملی کولو یې لاس ته راوړی وه، په خوشحالی زما خواته کتل او خندل یې ..؟!

د زبیر د هغه کارنامې وروسته چې دری ساعت زه لګیاوم او کنځل مې ورته کول او هغه خندل د شپې د 3:45 شاوخوا وه چې د ویده کیدلو اراده مو وکړل د عادت مطابق زه د کوټې کونج داسې چې شاته مې دیوال اوسیږی ځانته مې ځای انتخاب کړو زبیر هم زما څخه یوڅه لری خپل ځان ته ځای واچو او ویده شو، شاید د ویده کیدلو څخه مې لس پنځلس دقی تیر شوی وه او تازه مې زړه ډوب شوی وو، چې د یو نفر د پښو خرش، خرش مې تر غوږ شو! داسې لکه چې یو نفر کوټه کې روان وی؟ اول مې ګمان وکړو چې شاید زبیر اوسیږی؟ خو کله چې خپل سنګ ته مې د هغه کس راتلل احساس کړل په وحشت مې خپل سترګی خلاص کړی..!

په ویره او ډار مې د کوټې شاوخوا وکتل خو هیس شي راته نه ښکاریدی ناساپه خپل اندی ته مې یو شي ته فکر شو ورقې پشان راته معلومیدی! ډاډمن وم د ویده کیدلو مخکې ما داسې کوم شي نه وو لیدلی خپل څنګ ته؟! په نه زړه مې لاس اوږد کړو او هغه ورقه مې راوخیست، توره شپه وه څه نه معلومیدل مجبور خپل د موبایل ګروپ مې ورته روښانه کړو ترڅو وګورم دا نو څه دی؟ چې د هغه پاچا صیب د راکړل شوی کاغذونو پر لیدو مې د ویری او وحشت څخه زاره وچودل

او بی اختیار مې په لوړ غږ وویل: خدایه خیر...
زما پر غږ زبیر په ورختای د خوب را پاسیدو او د څه خبره څه خبره ده پر ویلو یې د کوټې برق روښانه کړو، ما د ډیر وحشت څخه هیس نشو ویلې او همغسې کاغذ پر لاس ناست وم چې زبیر په تلوار ځان تر ما را ورسه وو.

زبیر- څه شوی طاها ښه یې؟
هیس مې و نه ویل یعنی دومره ویریدلی وم چې خبره مې نشو کولې یواځې هغه کاغذونه مې د زبیر خواته ونیول چې هغه هم ډیر ژر پوی شو او په کرار غږ یې وویل: دا مګر موږ د ذوالفقار د کور حویلې کې دفن کړی نه وه؟؟
د هو پشان مې ورته سر وخوځه وی چې زبیر زما د ویری په لیدو د دلداری راکولو لپاره وویل: شاید دا کاغذونه د همدی لپاره وه! یعنی ته یې دفن کړی او هغه پیریان دی تاته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوړی شاید دا یو شانتی د صلح و آشتی مسج وی!

- خو ماته د جنګ ښکاری..!
زبیر- څنګه؟
- ما ته داسې ښکار چې غواړی ووایې ستاسو تعویذونه پرموږ کووم کار نکوی... یو شانتی ګواښ کول ماته معلوم کیږی؟
زبیر- بیځایه خبری مه کوه لږ خیر هم وایه... ته د کوم ځای یو هیری چې دسی مطلب یې دی؟
لځایه پاسیدم زما د پاسیدو سره زبیر هم جیګ شو کاغذونه مې د زبیر لاس ته ورکړل او خپل د تشناب خواته روان شوم د تلو حال کې مې وویل: د هغه ځای څخه چې کاغذونه یې پر مرداریو لړلی!

زما په خبر زبیر ژر کاغذونو ته وکتل او تازه یې پام شو چې هغه کاغذونه په ... زبیر خبری کول خو زه تشناب ته ننوتلم خپل لاسونه مې پریول احساس مې کوی د بدن حرارت مې پورته شوی! لکه چې تبه لرم خپل پر مخ مې هم اوبه واچول خو هیس فایده یې ونکړل، یو دقې لپاره مې چې سر راپورته کړو په هینداره کې می خپل شاته یو تور دود ولید په تلوار می شاته وکتل خو هیس نه وه! دومره و ډار شوم چې ژر د تشناب څخه ووتلم زما د وتلو سره سم زبیر په قهر او غوسه تشناب ته ننوت ترڅو خپل لاس ومینځی

د څو دقو وروسته چې راووت نو تازه یې زما پریدلی رنګ ته پام شو او ویې ویل: څه شوی طاها؟
- فکر کوم کرار کرار لیونې کیږم..
زبیر- کو... کوم شئ دی په تشناب کې ولید؟
- پریږده دا خبری نیمه شپه ده بهتره به دا وی چې ویده شو( خپل ځای خواته لاړم او پریوتم د کمپل راکش کولو حال کې می زبیر ته وویل: که خوب کې کوم پیری میری مړ کړم خپل حق راوبخښه هغه فلمو خبره حق دی راته حلال کړه...

زما په خبری زبیر په خندا وویل: ته و خدای زما کور کی مړ نشې که دربا‌ندی خدای نکرده زما کور کې کوم شې وشو ذوالفقار مې و لاکه اوه نسل رایله کړی..
په ظاهره دواړو خندل او ټوکی مو کول خو اصل کی دواړه د مرګ تر حده ویریدلی وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبیر هم خپل ځای کی پریوت خو دا ځل مو د کوټی برق خاموش نکړو... سهار اوه بجو شاوخوا وه چې د خوب څخه پاسیدو د زبیر مور وخت صبا ناری تیار کړی وو مور ته، او ما هم د کلو وروسته یو ورځ صبا ناری وکړو او بیا د زبیر سره د پوهنتون خواته روان شو، کله چې پوهنتون ته ورسیدو نو زموږ د ټولګي یو جنې

هم صنفي می ولیده چې زموږ دواړو په لیدو په تلوار لاړه باید ووایم وتختیده، د هغې په دی کار ما په افسوس سر وخوځه ویې خو زبیر په خندا ورکتل،اول کال چې راغلم پوهنتون ته یواځنې سخترینه مشکل راته انګلیسي وو!؟ هیڅ په سر اوبر باندی نه پوهیدم! پداسی حال کی چی د اقتصاد په پوهنځی 95% فیصده انګلیسی ژبه استعمالیده، او اینجانب انګلیسی صفر! زبیر چی کله زما خرابه انګلیسی ولیده نو وړاندیز یي وکړو چې یو انګلیسی کورس ته لاړشو. کوم کورس ته چی موږ تلو ډیر پرمخ تللی او اثری او لوکس کورس وو! په ډیر بخشونو کی درس ورکو، د انګلیسی څخه نیولی خطاطی، عربی، خوش نویسی، سواد آموزی، او هر شئ چی وغواړی.

دری میاشتی هلته تلو چی یوه ورځ متوجه شو چی زموږ د اقتصاد د پوهنځی څخه زموږ همدغه ټولګیواله چې اوس داسې وتختیده دا هم راځی کورس ته! ما ته دومره مهمه نه وه خو زبیر.. زړه نه آرمه کیدی او د هغې څخه یی پوښتنه وکړل چې څه وایست کورس کی؟ جنی هم وویل خوش نویسی! ما ومنل ځکه جنیکانو ته خط بیحده مهم ویی خو زبیر ونه منل زبیر په هغه دری میاشتو کی د کورس مدیر ځان سره ملګری کړی وو، د هغه څخه یی زموږ د همصنفی په اړه معلومات وغوښتل او اخیره کی پوی شو جنی سواد آموزی درس وایی؟ د هغه ورځ څخه دا جنې چې موږ دواړه ووینی لاړه بدله ویی.

زبیر- خدایه شانس هم نلرو! د خلکو صنفیانی پروفیسورانی، ماسترانی دی!؟ او زموږ ده،تازه املاء زده کوی.

- ته د خلکو سره څه کار لری؟

زبیر- زور راکوی دا چی ګورم با استعداده خلک درس ویلی نشی، هغه وخت دا شان بیسواده خلک چی املاء نشی لیکلې د واسطې او رشوت په زور راځی پوهنتونو ته؟!

- د بل چا پسی خبری مه کوه موږ هم چندان نابغه ګان نه یو!

زبیر- خو واسطه مو هم نده لګولی! که نابغه ګان نه یو بیاهم خپل په لیاقت کامیاب شوی یو نه د چا په واسطی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- یو پوښتنه کوم رښتیا وو ایه، فکر وکړه چی تا ته یو کلکه واسطه پیدا شی او تاته ده یو خارجی هیواد بورسیه درکړی ! آیا ته په واسطی باندی هغه خارجی هیواد ته نه تلې؟
زبیر- ضرور تلم.
په ریشخند می وویل: بیا نو ولی داسی خبری کوی؟
زبیر- غوښتل می تا پوی کړم چی نن ورځ د واسطو او رشوت ورځ ده،مهم نده چی ته څومره با استعداده یی؟ مهم داده چی سوک دی شاته واسطه شته کنه؟ نن ورځ د شرکت د صفاکار څخه نیولی د شرکت تر رئیس پوری ټول اول خپل منافع ته ګوری بیا کار کوی. په اوس وخت کی هیچا ته دا خبره مهمه نده چی سوک ګنهکار دی او سوک بی ګناه؟ مهم یوائې پیسه ده او بس.

- مطلب؟
زبیر- مطلب دا کله چی ټول دنیا په واسطو،رشوت، او چهارصد بیست بازیانو روانه ده، ته هم یوڅه ځان ته شور ورکړه! که نور نشی کولی ملګری پیدا کړه، یوه ورځ به دی په درد وخوری؟
- دا اوس نصیحت وو؟ په هر حال زه نغواړم چهارصد بیست ځان څخه جوړ کړم. او هو ته زما ملګری یی او ستا بیا دا ټول شهر، نور ضرورت نه ګورم چی وغواړم د ملګرو پسی وګرځم.
زبیر- ته ډیر ساده یی.
- شاید.

- د رحمان بابا یو شعر دی وایی هر سړی تر خپل مطلبه پوری یار دی! ما د خدای لپاره یار لیدلی ندی.
زبیر- څه معنا؟ یعنی زه ستا سره د کوم مطلب لپاره دوستی کوم؟
پوهیدم چی چندان پورزه نه یم چی مثلا زبیر مطلبی ملګرتیا راسره وکړی، خو د هغه د زوره ولو په خاطر می وویل: امکان لری؟!
زبیر په قهر وویل: ته څه لری چی زه وغواړم ستا سره مطلبی دوستی وکړم؟ ډیری پیسی لری؟ یا د کوم رئیس جمهور زوی یی؟ چی فکر کوی زه درسره مطلبی یاری کوم؟ ها؟ ته څه لری؟
زبیر دومره په قهر وو چی زما خندا راغله

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبیر- بلا بلا مه خانده خر انسان.
- ټوکې مې کول. خفه شوی؟
زبیر- ټوکې؟ دیته ته ټوکې وایې؟

نور مي څه ونه ویل نه پوهیږم ولی ما ټوکي کول خو په زبیر دا خبره بیحد بد ولګیده، صنف ته ولاړو درس مو وواېو بیرته راغلو خو د زبیر تندی همغسې تروش وو! اخیر مجبور ورته مي وویل: ته چي داسي تندی تروش نیس او خفه کیږی زه فکر کوم مقصد دی دا دی چي ستا کور ته درنشم! که دا خبره وی نو خیال دی راحت نه درځم.

زما پدی خبری زبیر د تلو حال کي و دریدی او زما خواته یې مخ راوګرځه ویې، د ډیر قهر او غوسي څخه تک سور شوی وو، داسي لکه ساعتي بم د چودیدو حال کې وو چي یو چا د شالخوا وویل: سلام.
د هغه سلام په غږ د زبیر څخه مي مخ وګرځه او هوو بیا اغلی میشا او د هغه ملګری زینت وه نه پوهیږم دی دواړو ولی زموږ شا نیولی او هی زموږ مخته مخته کیږی؟ سلام مي ورنه جواب کړو او سر مي ښکته واچوی زبیر هم زما د خبرو څخه غوسه وو نو ځکه چندان د خبرو حوصله نه درلود، میشا دوه سترګی ماته نیولی وه تر دی حده نظر دروند شو چي مجبور سر می پورته کړو او ور ومي کتل.
#شهاب🌒 :
میشا- ښه یاست.؟
- شکر ښه یم مننه د پوښتنې کولو څخه مو..!
زینت- هغه موږ غوښتل د پوهنتون څنګ رستورانت ته لاړشو..
د زبیر لاس مي خپل خواته کش کړو او ومي ویل: زبیر بهتره به وی چي نور د اغلو مزاحم نشو کار لری...
میشا- نـــــــــه... یعنی نه زما مطلب خوشحالیږو تاسو هم راشی.
- نه مننه خو مزاحمت نه کو تاسو ته.
زبیر- سمده ځو درسره خو پدی شرط چي تاسو موږ دواړه میلمانه کړی..!

په حیرت او خلاصه خوله مي زبیر ته وکتل دا نو څنګه خبره یې وکړل؟ زینت هم زما پشان ورته کتل لکه چي زړه یې غوښت د زبیر تول غاښونه ور مات کړی..
میشا- هو ولي نه کوم مشکل نشته راځی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبیر خو پوهیږم زما له قصد دا کار وکړو ځکه زما په خبرو غوسه ورغلی وه او داسې خپل قصد زما څخه اخیست خو دی مینځ کی زه میشا ته په حیرت کی وم؟ عجب زړه او جرعت یې درلود زه چی هلک یم ولاکه مې زړه کیږی په کوم جنی دی خرڅه وکړم او ویسم رستورانت ته او د هغی پیسی زه حساب کړم؟ هغه وخت دا حاضره شوی وه دوه هلکانو باندی خرڅه وکړی؟؟ دوه دلیل لری یا خو ډیری پیسی لری؟ او یا هم سم دم بیعقل ده؟ دریم دلیل خو زه نه وینم...!

د پوهنتون څنګ ته چی کوم رستورانت وو هلته لاړو چی د بشریت په تاریخ کې اول ځل یو کار زما په خوښه وشو رستورانت بند وو! د ډیر خوشحالي څخه نیږدی وو وزری وکړم چې زبیر وړاندیزو وکړو د هغه سنګ ته چی کوم بل رستورانت دی هلته لاړشو! میشا دومره کلک وه خپل په درخواست کی ترڅو موږ دواړه میلمانه کړی چی ما هم وویل راځه یو نن ددوی په زړه یو کار وکړه زړونه یې خوشحال شي! رستورانت ته ولاړو تراوسه هیس کله دیخوا نه وم راغلی ښه ښایسته ځای او موقعیت یې درلود زموږ څلور نفرو علاوه یو څو نور انجونی او هلکان هم وه ..

کیناستو میشا مینو( همغه فرمایش ورکولو لیست کتاب کتابچه هر شی وایست همغه) زما خواته را تیله کړو او ویې ویل: فرمایش ورکړی.
مینو مې راوخیست ځان سره مې وویل هسی انجونی دی یو خبره یې وکړل اوس غیرت کې راغلی ښه کار ندی وربادی ځانونه تاوان کړو نو په همدی خاطر مې ارزان بیه ترینه شي پسی په ګرځیدو شوم: زبیر شیر یخ سنګه دی؟
زبیر- ښه دی...
میشا زما د لاس څخه مینو واخیستل او ویې ویل: اوس چې زما میلمانه یاست نو راکړی چې فرمایش هم زه ورکړم..( بیا پداسې حال کې چې مینو ته یې کتل ویې ویل: امممم دری خوراک قابلي پلو یو خوراک ماهیچه او یو هم سور کړی چرګ سنګه دی؟

زبیر- تاسو انتخاب کړل ضرور ښه به وی.
( زه دی خبری ته فکر وړی وم چی دومره فرمایشات؟ هسی نه اخیر کی پر موږ حساب کړی؟ زما ټول جیب کی ۵۰۰ افغانی وه چی دا یو هفته کیږی هیس شي مې ندی اخیستی چی هسی نه پیسی میده شي او رانه مصرف شي!؟ زبیر خواته می وکتل که خبره زموږ حساب ته راغله د زبیر په جیب باور شته؟ زه لا په همدی فکرونو کې وم چې میشا وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګیره مو اخیستی؟

د هغې پر غږ مې ور و ومې کتل یعنی دا اوس پوښتنه وه؟ خو اخیستی مې ده چې نه یې لرم وی!؟ د دی لپاره چې زما خاموشی خپل ځانته په بی احترامی کی حساب نکړی ومې ویل: هو.
میشا- خو ګیره ستاسو سره ښه معلومیدل..!
زما لځایه زبیر جواب ورکړو او ویې ویل: طاها بد راتلل ما ورنه په بیخبر کې واخیستل زه خیر کله چې تکه توره ګیره یې راشي ماته به دعا وکړی.
میشا- اها ما ویل ښاغلي طاها سره دا خبری نه وایي ...!

په حیرت مې وروکتل خو څه مې ونه ویل چې هغې بیا زه مخاطب کړم او ویې ویل: تاسو خوړه زیات خوښه ده؟
زبیر بیا زما لځایه ځواب ورکړو: نه طاها دومره خوړه نده خوښه او نخوری هسی نن لکه چې د بعضی دلایلو له سبب دا فرمایش یې ورکړو..!
میشا- اها ....

د زبیر جواب ورکول زما لځایه لکه چې د میشا خوښ نشو چې نور یې څه ونه ویل! فرمایشات راغلل د ډوډی وخت کې هیچا کومه خبره ونکړل، زبیر په راحت خیال لګیا وو ډوډی تخته کول! خو د میشا دوه سترګې چې زما ډوډی خوړلو ته نیولي وه زما تول اشتها خراب کړل، د تولو څخه مې اول لاس ونیو، هسی قابلی کې دری منه اوښکی وه! هیس مې خوښ نشو او چرګ هم دری من مرچ اچولی وو داسې تریخ وو د خوړلو نه وو! ماهیچه مې لږ وخوړل خو د میشا نظر هغه هم راته زهر کړل زما د لاس نیولو سره میشا وویل:

میشا- لکه چې خواړه مو خوښ نشول طاها جان!
جان! دا اوس ښاغلی طاها وم؟ اوس طاها جان شوم؟ دوه دقی نور تیر شي خدای خبر څه به شم؟ په کرار غږ مې وویل: نه خوښ مې شوه هسی نن ما صبا ناری کړی وو ځکه وږی نه وم.
میشا- تاسو اوښکی ندی خوښی په وریجو کی؟
په حیرت می وروکتل ددی څخه مخکې چې زه کوم جواب ورکړم زبیر وویل: طاها د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوڅکو څخه بد راځی چې وریجو کې اوسیږی نو ځکه یې خپل د مخ څخه اړولی ډوډی خوړلو وقت کې...

زینت- زبیر جان تاسو د طاها وررور وکیل یاست چې د هغه لځایه هې جواب ورکوی؟
د زینت په خبری زما خندا راغله هغې داسې په غوسه دا خبره وکړل خو زبیر په داسې حال کې چې په بیغمه زړه خپل ډوډی خوړل ویې ویل: وکیل خو بیخی آسانه خبره ده زه په طاها باندی د شیدو حق لرم...( د زبیر پدی خبره چې په نهایت آرمتیا کې کړی وه د خندا څخه اوبه مې په ستونی کی بند شول او په توخ وولیدم، چې زبیر په هغمه آرمتیا د ځایه پاسیدو او مثال غوښتل یې ما پر شا ووهی ترڅو اوبه مې د سری غاړی څخه واوړی ظالم د ټولو خبرو قصاد رانه واخیست داسی کلک کلک ووهلم چې میشا اخیر ورته وویل:

میشا- بنه شو نور یې مه وهې ...
سترګې مې د اوښکو ډکی شوی بد بد مې زبیر خواته وکتل چې هغه خندا په خوله بیرته خپل ځای کې کیناست او ډوډی خوړلو ته یې شروع ورکړل همدغه وخت زما موبایل ته زنګ راغلو و مې چې کتو ذوالفقار وو! پاسیدل مناسب راته ککاره نشوه ځکه ټولو راته سترګی نیولی وه بلخصوص میشه مجبرر هملته مې جواب ورکړو.

- الو سلام علیکم.
ذوالفقار- علیک سلام چیرته یې؟ ولی رانغلې؟ ګوره طاها که ووایی زبیر کورته ځم پخدای قسم دا ځل راځم هلته پوست درنه باسم ویلی مې وی..
- رستورانت کې یم ډوډی و خورم درځم...
ذوالفقار- د چا سره یې؟
- صنفیانو سره.
ذوالفقار یو څو ثانې خاموش وو بیا یې وویل: سمده ژر راشه خدای پامان.
- خدای پامان..

د موبایل قطع کیدو وروسته میشا او ملګری داسې مشکوکه انداز باندی ماته راکتل خو ما هم ځان ناګاره واچوی، د ډوډی خوړلو وروسته میشا خپله په خبری ړفا وکړل او حساب هغی وکړو! البته ما د دروغو ډیر ستونه وکړل چې نه زه یې حساب کوم خو شکر هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونه مثل او خپل یې حساب کړل، د زبیر سره مې خدای پاماني وکړل او د ذوالفقار کور خواته روان شوم د زبیر سره د خدای پاماني مخکې مې زیات ورته وویل چې یو مناسب کور ماته په کرایه پیدا کړه نور د ذوالفقار کور کی اوسیدل بیخی سخته وه...

د ذوالفقار کورته ورسیدم په دهلیز کی سوک نه ښکاریده ما هم د موقعیت څخه ګټه واخیسته او ژر خپل کوټی ته داخل شوم ددی څخه مخکې چی کوم مزاحم راشی همدا چې کوټی ته داخل شوم په خوشحالی مې ژر خپل د کوټی دروازه بیخی قفل کړه راغلم چې یو راحته ساه واخلم چي د فرشتې پر لیدو چې هک حیرانه زما د کتابو د الماری سره ولاړه وه او زما کتاب یې لاس کې نیولی وو د هغې څخه زه زیات حیران شوم! دا نو دلته څه کوی؟

هغه لکه چې زما د مات سر او لاس په لیدو حیرانه وه چې نظر یې زما د ګچ شوی لاس څخه نه اخیست او زه د هغی په لیدو هغه هم دلته خپل کوټه کی حیران وم! د څو دقو وروسته هغی په کراره غږ وویل: اوس ښه یې؟ کاکا ویل ټکر مو کړی وو؟

- هو اوس ښه یم..

فرشته- ګیر خراب شوی یی!

- څه؟؟

فرشته- نه... هغه زما مطلب ډیر ډنګر شوی یی.

- ها شاید..

فرشته- خو ډنګر والې او خریل ګیره درسره هیس خوند نکوی ..!

دا چې نن تولو زما ګیری را نیولی وه او نه یې خوشی کول سخت یې راته عصاب خراب کړی وه، هیس مه ونه ویل چې هغی بیا وویل: یو پوښتنه وکړم؟

- څه؟

فرشته- آیا باطن دی هم د ظاهر پشان تغیر خوړلی؟ یا تراوسه همغه پخوانی هلک یې؟

- د خدای شکر اخلاق مې هم بدل شوی نکوری ...؟

فرشته- اممم تر یو حده ښکاری... خو زما هغه پخواني اخلاق دی خوښ وه..

غوښتل مې یو جواب ورکړم دسې د زبیر خبره زدني خو افسوس چې د کوټې دروازی لاستي پورته ښکته شو لکه چې یو چا غوښتل داخل شی خو ما دروازه قفل کړی وه! ژر

(c) ketabton.com: The Digital Library



می د دروازی خواته لاس اوږد کړو ترڅو خلاصه کړم د خلاصه ولو وقت کې می د ذوالفقار غږ واوریدو چې ویې ویل: فرشتې دروازه خلاصه کړه ما حویلې کی طاها ولیدو چیر....( د دروازی په خلاصیدو او زما په لیدو یې وریځې د حیرت څخه پورته واچول، ای لعنت دی پر ما وایې چا ماته ویلې وه دراوزه قفل کړه اوس ټول هسی بیځایه فکرونه کوی چې طاها فرشته په کوټه کی یواځی ګیر کړی وه او دروازه یې هم قفل کړی وه! وای توبه....

ذوالفقار په مشکوکه انداز موږ دواړو ته وکتل په قسم سره ویلی شم د ذوالفقار نظر څخه دسې معلومیده که زما څخه بغیر هر سوک یې دی حال او دی کوټه کې لیدلې وایې بغیر د جنګ او وهلو څخه یې نه خوشې کوی! ذوالفقاز راننوت او پداسې حال کې چې دروازه پوره خلاصه کول په قهرجن لهجه فرشتی ته چې د ویری او وحشت څخه لړزیده وویل: ورځه وګوره مور دی څه کار وو درسره؟

د ذوالفقار په خبره فرشته په چټکو قدمونو د کوټی څخه پر وتلو شوه زه هم د دروازی د مخ څخه لری شوم ترڅو دا به آسانه ووځی د کوټې څخه، د فرشتې د تلو وروسته په بی حوصله انداز په نالې کیناستم چې ذوالفقار د کوټې دروازه بنده مکړه او ماته مخامخ نالې باندی کیناست، تندی تروش وو او ماته یې نه راکتل .. په کراره لهجه مې ورته وویل: باور وکړه ذوالفقار زه بیخی نه وم خبر دا زما کوټه کیده ما دروا...( ذوالفقار زما خبره را پری کړل او ویې ویل:

ذوالفقار- بس که ما ستا په اړه کوم بد فکر ندی کړی چې ته وغواړی توضیح او وضاحت راکړی، زه تا پیژنم..
د ذوالفقار خبرو یو نری مسکا زما پر شونډو راوړه سومره مزه لری دا چې یو نفر درته وایې زه پر تا باور لرم ...
- سوک سوک راغلی بغیر د بابا څخه؟ او ولې بیا راغلې؟
ذوالفقار- ذوالقرنین او وریندار او فرشته راغلی سره ستا د پلار، وریندار تخو زما په نظر ډاکټر د لس ورځو دوا ورکړی وه او ویلی وه چې بیا راوری..
- نو دهغه وخت څخه خو د لس څخه زیات وقت تیر شوی؟

ذوالفقار- د ذوالقرنین کارونه دی انسان څه ووایې؟ یو میاشت وربانډی تیر کړل دوا یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت خلاصه کړی تازه چې درد یې زیات شوی اوس یې راوړل!
- نو څه فایده ددی دوا؟ ستا په نظر به دسی دوا کول کوم فایده ولری؟
ذوالفقار- دوا خو فایده نلری هسی ورینداز د هغه اول ځل څخه چې راغلې وه دا ځل زیات په تکلیف ماته معلومیږی..!

- خدای دی شفا ورکړی، بابا د څه لپاره راغلی؟
ذوالفقار- هسی ستا پلار هم لیونی دی راغلی دوه هفتی اختر ته پاتی وایې زما ملګری دی غویان خرڅه ویې د هغه غوا به د قربانی لپاره واخلو؟ ورته ګډ یم چې تر دوه هفتو به مور هغه غوا چیرته وساتو؟ هسی د اخترا راتلو مخکی به زموږ د لاسه به غوا مردار شوی اوسیږی...
- ښه خبره کوی هغه بل اختر دی یاد دی؟ همغه چې د اختر څخه دوه ورځې مخکې قربانی زما په نظر ستا کورته راوړی وه! سنګه بد حال وو ټول کور څخه دی مردار بوی تلو اوس که دوه هفته مخکی راوړی بیخی نووو...

تر ماښام پوری پوری خپل کوټه کې کیناستم او د باندی ولا نرم او د ټولو څخه جالب خبره دا چې ذوالفقار هم و نه ویل چې راشه! څومره چې فکر کوم دوه دلیل درلود د ذوالفقار غږ نه کول اول دلیل یې زما مات شوی لاس او سر وو، او دویم دلیل هم زما خریل سوی ګیره؟ هسی ګیره خریل زموږ ټول کورنی او قوم کې یو عیب او بد کار وو بیحده بد تر دی حده چې بیخی نفر تر کفره رسه ویې او د طالبانو خبره ښځه وربانوی طلاق ده سوک چې ګیره نلری نو زما په خیال دویم دلیل زیات قوی دی..

د ماښام پوډی ما یواځې خپل کوټه کی وخوړل او بیخی هغه خوا ولا نرم پروت وم، کوټه کی نهه بجو شاوخوا وه سخت خوب می راتلو ګوشکې می غوږ ته اچولی وه او سندره مې آوریدل چې ناساپه د کوټې دروازه خلاص شوه ما فکر وکړو شاید ذوالفقار اوسیږی خو په نهایت حیرت او تعجب کی بابا وو! د کوټې برق یې روښانه کړو او زما په لیدو یې ناساپه تندی تروش سو او پداسې حال کې چې ماته بد بد کتل ویې ویل:

بابا- چیرته ویې د پرون راهیس؟
نه پوهیدم څه جواب ورکړم د بابا دومره کلک او امرانه لهجه ته؟ په کرار مې وویل: د ملګری کورته مې وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بابا- کوم ملګری؟
- تاسو يې نه پیژنی.
زما په خبره د بابا تندی نور هم تروش شو، خو ما حق وويل بابا هیس کله زما ملګری او زما د ژوند په اړه معلومات نه درلودا! اوس زه ورته زبیر ځنګه معرفی کړم کله چې نه يې پیژنی! بابا زما څخه نظر واخیست او خپل پتو يې هوار کړو او په لمانځه و دریدو....

بابا چې مونځ کول شروع کړل زما پر بدن اور بل شو هر لفظ د قران مې چې آوریدی فکر مې کوی د قهر او غوسی څخه په انفجار یم! زړه مې غوښت یو شی پر بابا ګوزار کړم ترڅو نور دا الفاظ د قران ونه وايي، کله چې مې ولید چاره نشته په تلوار د کوټې څخه ووتلم، ټول بدن مې خارښت شروع کړی وو او مجبور په ګره ولو شوم، دومره مې خپل بدن وګره ویې او هغه خارښت وکړو چې ټول بدن مې وینی وینی شو ذوالفقار د میلمه خانی څخه په راوتلو زه يې هغه بد حال کې ولیدم په تلوار زما خواته راغلو او ویې ويل:

ذوالفقار- څه شوی طاها؟
- فکر کوم بدن مې اور واخیست او بیحده خارښت لرم..
ذوالفقار زما لستوني پورته کړو او بیا لړ زما د غاړی خواته وکتل زما په سر يې هم لاس کیخودو او ویې ویل: تبه لری تندی دی سور دی! ضرور کوم شي دی خوړلی او د هغه سره دی حساسیت کړی..
- ما هیس داسی شی ندی خوړلی د همیشه پشان خوراک وو!
ذوالفقار- نو بیا ولی داسي شوی؟

- بابا...!
ذوالفقار- څه مطلب بابا؟؟
مجبور ذوالفقار ته مې ټوله کیسه وکړل د هغه تعویذونو د راوړلو څخه نیولی تر بابا د مانځه دریدو او هغه چل ذوالفقار په تروش تندی راته غوږ نیولی وو، زما د خبرو د خلاصیدو وروسته يې وویل: ورځه زما کوټې ته هلته سوک نشته د اوس لپاره زه هم ځم یو زنګ دغه پاچا صیب ته وهم چی څه وکو؟

د ذوالفقار په خبره زه د هغه کوټی خواته روان شوم، او هغه هم خپل موبایل واخیست او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهلیز څخه ووت، داسې احساس مې کوی چې حتا د سر پوستکې مې لا خارښت کوی!
لکه لیونیانو لګیا وم ځان مې ګره وی، نور راکې توان نه وو د زیات خارښت څخه بیخی ژړا نږدته یې رسه ولی وم چې ذوالفقار کوټې ته راننوت موبایل یې هم همغسې پ غوږ نیولې وو او خبرې کول..

ذوالفقار- هو .... هو پاچا صیب اوس زما ښنګ کیدی څه وکړم؟
نه پوهیږم پاچا څه ورته وویل چې ذوالفقار زما خواته رانږدی سو او پداسې حال کې چې موبایل یې زما غوږ. خواته نیو ویې ویل: خبرو ته یې غوږ. ونیسه یو څو دقې هغه دربانډی دم کوی که د ربښتیا هم د پیریانو اثر وی لمینځه لاړشی...

موبایل مې د ذوالفقار څخه واخیست چې د پاچا غږ. راغلو: آوری؟
- آورم... سلام علیکم.
پاچا- علیکم سلام... سنګه چل دی؟
- نه یم خبر د قران آیتونه مې واوریدل یو دم لکه چې بدن باندی مې یو ذاله موچیو حمله کړی وی داسې مې ټول بدن خارښت کوی..
پاچا- تا ویل تعویذونه یې راوړی؟
- هو ..
پاچا- بل کوم شې نه وو ورسره؟

- نه.. یوازې همغه دوه دانی کاغذونه وه هغه هم په ډیر بد حال..
پاچا- عجیبه ده..
پاچا د موبایل تر شا یو څه ویل او ماته یې یوازې د چف چف غږ. راتلو، کم او زیات 15 دقې دم و چف و کړو خو ټکې هم فایده ونکړه، کله چې دم خلاص شو ویې ویل: اوس بنه یې څوانه؟ لږ. آرام شوی؟
- نه..
موبایل مې د ذوالفقار خواته ختا کړو زړه مې غوښت سم جوړ. کنځل وکړم دغه پاچا ته خو ځان مې کنترول کړو، ذوالفقار هم زما د حال په لیدو د پاچا سره یو څه په تنده لهجه خبرې او خدای پاماني وکړل.

بیا پداسې حال کې چې زما ښنګ ته کیناستې زما لستونې پورته کړو او زما بدن ته په کتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو مخ مې لا خاربنت شروع کړی وو حالت مې بیخی وحشتناکه خراب وه ذوالفقار چې ولید ثانیه په ثانیه حالت خراب کیږی په ورختای وویل: شاید کوم حساسیت وی او د پیری کار نه وی راځه ډاکټر ته لاړشو.

نه پوهیږم ولې خو زړه مې غرق غرق کیدو فکر مې کوی چې فشار مې بیخی صفر شو، په کراره غږ مې وویل: یو پیاله اوبه ....
ذوالفقار په تلوار د کوټې څخه ووت ترڅو اوبه راته راوړی، زه د ډیر ناتوانی په نالی پریوتم بدن مې همغسی خاربنت کو خو نور ما کې کوم توان نه وو چې وغواړم ویې ګره وم، سترګی مې پټی کړی وه چې احسای می وکړو یو نفر مې څنګ ته کیناستو، ما ولی د دروازی غږ وا نه وریدو چې ذوالفقار راغی؟ ځان سره می وویل ضرور د ډیر ناتوانی څخه مې د دروازی غږ ته فکر ندی شوی غوښتل مې سترګی خلاصی کړم...

چې یو نرم او لطیف لاس زما په سترګو کیخودل شو او زه یې د سترګو خلاصولو څخه منع کړم..! هغه لاس دومره نرم او لطیف او نازک وو چې زه الفاظ نلرم د بیان ماته د ښځی لاس نه معلومیدی؟! اخ د یو ښځی لاس لا دومره نازک نه ویې! بیحده لطیف وو! هغه وخت مې تعجب بیحده شو چې یو ډیر بیحده عجیبه نارینه غږ په کرار د قران آیت تلاوت کړل! لهجه یې بیحده عجیبه وه ما قران زیات آوریدلی وو خودا فرق درلود! یو عجمی لهجه باندی د قران ویل دی او بل خپل اصل عربان چې قران وایې هغه بل رکم دی! هغه کیفیت او انداز زیات عجیبه وی او دغه نفر هم همغسی لهجه کول د عربو!

نه پوهیږم ولی خو زه نه ویریدم! پداسی حال کې چې پوهیدم شاید یو پیری زما څنګ ته ناست ویې او هر کار امکان لری وکړی؟ خو زه ورڅخه نه ډاریدم او دا ماته هم عجیبه وه، چې ولی زه د یو پیری په شتون کې د آرمتیا او امنیت احساس کوم؟ نه پوهیږم څومره وخت هغه لاس زما په سترګو وو خو دومره پوهیږم بدن مې عادی حالت ته راتلو! د دروازی په خرپ چې سترګی می خلاصی کړی هیس سوک بغیر زما څخه په کوټه کی نه وه! ذوالفقار پیاله اوبه په لاس کوټې ته راداخل شو، چې زه هم ځای کې کیناستم! زما پرلیدو ذوالفقار په مشکوک انداز د کوټې شاوخوا وکتل بیا یې ماته وویل:

ذوالفقار- ښه یې؟
ددی څخه بغیر چې د ذوالفقار جواب ورکړم خپل بدن ته په کتو شوم زما د بیحده ګرولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه تک سور شوی وو بدن مې خو نور یې خاربنت نکوی! ذوالفقار اوبه راته ونیول هغه مې ورڅخه واخیستل، هغه هم زما څنګ ته کیناست او ماته په کتو شو د اوبو څکلو وروسته مې ورته د هغه کس یا هم همغه پیری په اړه قیصه وکړل، ذوالفقار په پریشانی خپل وینتیانو کې لاس تیر کړو او ویې ویل: هیس سوک د خدای لپاره د چا سره بنه نکوی بلخصوص پیریان! ضرور کوم مقصد لری ددی کار څخه سبا یو ځل بیا څو پاچا صیب ته( بیایي ناساپه وویل: ها یو بله خبره هم امکان لری.

- څه؟

ذوالفقار- دا چې امکان لری شاید دغه پیری چې ستا سره مرسته وکړل اصل کې پاچا صیب راستولی ویې؟! که یاد دی وی ویلی وه پیریان ملګری لرم؟؟

- ماته خو د هغه کار نه بنکاری.. که ستا په خبره پاچا صیـــب دی دومره زور درلود همغه اول کې به یې یو کار کړی وایی...

ذوالفقار- زه نه پوهیږم ستا ولی د پاچا صیب څخه بد راځی؟

- زه خپل هم نه پوهیږم بس بد احساس ورته لرم، د زبیر خبره شپږم حس مې راته وایي چې بنه انسان ندی..

دوالفقار یو څو ثانی راوکتل بیا بغیر لدی چې څه ووایي د ځایه پاسیدو او ویې ویل: همدلته دی ځای واچوه ویده شه زه ستا د پلار ځای ستا کوټه کې اچوم..

ذوالفقار لاړو ترڅو د بابا ځای وربرابر کړی، زه هم همٔلته پریوتم او د هغه لاس په اړه او هغه غږ په اړه مې فکر شروع کړو پاچا ویل د پیریانو بدن او جسم بیحده لطیف دی که غږ مې ورڅخه نه وایي آوریدلی فکر مې کوی بناپیری ده؟ ولی زما سره مرسته وکړل؟ یعنی د ذوالفقار خبره امکان یې شته دا کار پاچا کړی ویې؟ نه پوهیږم ولی خو زړه مې ویلی هغه دا کار نشی کولی! تر ډیره مې دا فکرونه د ځان سره وکړل، ذوالفقار بابا او ذوالقرنین کاکا ته زما کوټه کې ځای واچو او خپل بیرته خپل کوټې ته راغلی زه یې چې فکرکند ولیدم ویې ویل:

ذوالفقار- بیا خو کوم پیری میری ندی درغلی؟

- نه.

ذوالفقار یو کمیل زما خواته راوچوی او پداسی حال کې چې خپل ځای هوار کو ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو بیا ولی دسی فکرمند یې؟
- غواړم ددی ځای څخه لاړشم..
زما په خبری ذوالفقار ځای اچول پریخود او په تروش تندی زما خواته راوکتل: د کوم ځای څخه لاړشی؟
- ددي ځای څخه ستا د کور څخه غواړی یو کور کرایه کړم...

ذوالفقار- ولې؟ چا درته څه ویلي؟ ما کوم خبره کړی؟
- نه خو نور داسې نه کیږی.
ذوالفقار په تروش تندی وویل: څنګه نه کیږی؟
- اخ داسې خو نه کیږی چې یا ستا تر غاړه کم ځان یا هم زبیر، ته هم کار لری ژوند لری هسی زه درته مزاحم یم..
ذوالفقار په غوسه وویل: خوله دی بنده کړه ته مزاحم نه یې بل ځل که مې درڅخه داسی د تلو او مزاحم یم او فلانکی یم خبری واوریدل، سم جوړ فرش کوم دی نور دی زړه.

ذوالفقار دا خبری وکړل او په غوسه باندی خپل د لاس کمپل یې خپل پر ځای ختا کړو او د کوټې څخه ووت! فکر مې نکو دومره به غوسه شې؟! د څو دقو وروسته راغې او بغیر لدی چې زما سره کومه خبره وکړی خپل شا یې ما ته راوګرځه ول او ویده شو! ماهم څه ونه ویل او د ویده کیدو کوښښ مې وکړو نه پوهیږم کله به خوب خپل ځان سره د ناخبری نړی ته وړی وم....

د ذوالفقار د کور د دروازی مخکی ولاړ وم! دروازه خلاصه وه په حویلی کی بیحده شور ماشور و بیګانه خلک په حویلی کی ګرځیدل را ګرځیدل! حیران شوم دا نو سوک دی؟ او د ذوالفقار کور کی څه غواړی؟ کور ته ننولتم هیچا ماته نکتل داسې لکه چې بیخې وینې می لا نه!؟ د حویلي څخه د هلیز ته ننولتم هلته هم همدا حال و ناشنا خلک چې ما بیخې لیدلی نه وه د ذوالفقار کور کې ګرځیدل! د تولو څخه جالبه دا چې تولو یوشان سپین اوږده کالې اچولې وه! ذوالفقار می ولیدې زما د کوتی څنګ ته ولاړ و..!

ځان می تر ذوالفقاره ورسه ویی ترڅو ورنه پوښتنه وکړم چې دا کسان سوک دی؟ او دلته څه کوی؟ همدا چې ورنږدی شوم زبیر زما د کوټی څخه را ووتی او د ذوالفقار په اوږه یی لاس کیخودو او ناساپه دواړه په ژړا شول...! څه خبره ده؟ دوی ولی ژاړی؟ د زبیر او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذوالفقار څخه مې مخ واړوی او خپل کوټې خواته مې وکتل سم راته نه معلومیدی چې سنګه چل دی؟ نو ځکه یو څو قدمه ورنږدی شوم د کوټې مینځ کې یو نفر په سپین کفن کې پیچل شوی پروت وو! دا نو څوک دی؟ مخ یې ورنه پټ کړی وو غوښتل می د هغه کس مخ وګورم چې سوک دی؟ او ولی زبیر او ذولفقار وربالندی ژاړی!

همدا چې یو څو ګامه د هغه کفن کې پیچل شوی کس خواته نږدی شوم یو چا د شا لخوا زما پر اوږه لاس کیخودو...! کله چې مخ مې ور وګرځه ویې نو بابا مې ولیدی..! د تل پشان وو همغه تروش تندی او همغه انداز! خو یو فرق یې کړی و تسبیح په لاس کې نه وه!

بابا- مه ځه ...
- هغه کس سوک دی؟
بابا- دا ټول ستا خیال دی.
- څه؟
بابا- کوشش وکړه راویښ شی ته ویده یې طاهــاا...
- څه؟

د څه ویلو سره یو چا په زوره زما اوږی وخوځه ول، چې زه د خوب څخه په یو وحشت پاسیدم، ساه ساه مې وهل، ټول بدن مې د خولې ډک وو ذوالفقار په پریشانه او ورختا انداز زما څنګ ته ناست وو..
ذوالفقار- خوب دی لیدی آرام اوسیږه..
شاوخو مې کتل فکر مې کو اوس هم هغه سپین کالی خلک د ذوالفقار کور کیدی، د لږ آرم کیدو وروسته مې ذوالفقار ته خپل د خوب قیصه وکړل هغه هم زما د خبرو آوریدو وروسته په پریشانه حال وویل:

ذوالفقار- دا ټول د هغوی مضری او آزار کول دی نور چې وسه یې ونه رسیږی بیا دی دسی په خوب کی ویره وی!
- ستا په نظر څه وکړم؟ داسی خو ژوند نکیږی پخدای دا څو وخته یې پر مرګ راضی کړی یم د دسی ژوند څخه خو یو ځل مرګ سل ځله شرف لری..
ذوالفقار- بیځایه خبری مه کوه سبا به لاړشو یو مولوی ته ..

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زه نور عمر کی پاچا ته نه ځم.
ذوالفقار- مشکل نسته لاړ به شو همغه چې زبیر یاده وو څه ورته ویل؟

- تیل داغ مولا؟
ذوالفقار- هو هو همغه..
- سبا ته بیکار یې؟
ذوالفقار- سهار خواته ځو چې تر غرمې بیرته راشو ځکه زه لړ کار لرم شرکت کې باید ضرور ورشم..
- اهوم محبور قیچي او کیره تاسو لاسونو ته درکړم چې څه راسره کوی...؟!
ذوالفقار- نیک کار کو نه بد ...!

ساعت ته مې وکتل لا توله شپه پاتې وه! اوس تازه 2:24 دقیقې وی!
ذوالفقار بیرته خپل ځای ته لاړو او د ویده کیدلو یې وویل ما هم کوښښ وکړو او دا ځل شکر راحت خوب مې وکړو، سهار اته بجو شاوخوا وه چې ذوالفقار راویښ کړم ..
ذوالفقار- پاسه چې مولا ته ځو.
- دومره ژر؟
ذوالفقار- و مې ویل کنه زه بیا ځم شرکت کې کار لرم نو شابه ژر تیار شه.

ذوالفقار دا خبری وکړل او د کوټې څخه ووت، مجبور زه هم ولاړسوم خپل ځای مې تول کې د کوټې څخه په وتلو باندی زړه نا زړه وم! دا چې هسی نه د بابا یا هم کوم بل چا سره مخامخ شم یو وخت او بیا هغوی دوه سترګی زما خریل شوی ګیری یا هم مات شوی سر او لاس ته ونیسي! بهتره به دا وی چې مستقیم د کور څخه ووځم او حویلې کې لاس او مخ ومینځم او همغسی د کور څخه ووځم! همدغه خبره راته ښه ښکاره شوه بغیر لدی چې دهلیز کی کوم چا خواته وګورم یا سترۍ مشی وکړم د دهلیز څخه ووتلم، مخ او لاس مې ومینځو او د کور څخه بیرون شوم..

کوڅه کې د ذوالفقار راتلو ته په تمه شوم ترڅو موټر راوباسي، دا تیل داغ مولا ته مې هم چندان ښه احساس نه درلود اصل کې ما د تعویذګر مولیانو سره جوړه نه وه! او هیس مې وربانډی عقیده نه راتلل کله ناکله زما پر زیات انتقاد د مولیانو باندی کور کلې راته وهابی ویل! البته زه وهابي نه وم بس دا خرافاتی عقیده مې نه درلود دم او چوف مې منې خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعویذ نه! زه لا همدغه فکرونو کې وک چې د همسایه د کور دروازه خلاصه شوه او جنرال خپله بیرون راووت! د هغه په لیدو و ډار شوم!

هسی د 65 کالو بوډا سړی وو خو بیحده څهره او رفتار یې د انسان زړه کې ډار اچوی زما پر لیدو یې تندی تروش شو، یو څو دقې په ځیر ځیر راوکتل او بیا یې ناساپه وویل: تا ته چا دا عقل ندی در زده کړی چې مشر نفر وګوری سلام واچوی؟
د هغه خبره راباندی بده ولیګده! نو ځکه مې وویل: سلام مشر او کشر نلری رسول الله"ص" به تل په کشرانو سلام اچوی خو افسوس زموږ تولنه کې داسی فرهنګ سازی شوی چې یواځې کشران باید سلام واچوی نه مشران...!

زما په تند لهجه او تند جواب د جنرال وریځې له حیرت څخه پورته شول، او که غلط شوی و نه اوسیږم نری مسکا یې په خوله راغله او دا ځل یې بیا په کنایه وویل: دا تا ته دا ادب هم لکه چې مشرانو ندی در زده کړی چې نه باید د خلکو د کور مخکې و دریږی کوڅه کې دریدل د لنډغر او کوڅه ډبه هلکانو کار دی نه ده یو با شرف او باعزته هلک ..

غوښتل مې یو زدنی جواب ورکړم چې ذوالفقار موټر د کور څخه راوویست زموږ په لیدو تندی تروش څو او غوښتل رابښکته شې د موټر څخه چې ما اجازه ورنکړل او موټر ته پورته شوم ...
- ناوخته شو حرکت کوه.
ذوالفقار- څه یې ویل درته؟
- کوم مهم خبره نه وه هسی لګیا وو.

ذوالفقار لږ په مشکوکه انداز راوکتل چې ما هم ځان ورته نرمال و خودو مطلب هیس ندی شوی،نه مې غوښتل ذوالفقار دی زما په سر د داسی یو جنرال سره لاس او ګریوان شی، او خدای نکرده کوم بلا یې پر سر راشی، نیمه لاره کې زبیر هم زموږ س ه یوځای شو..

- نه پوهیږم خو زړه مې وایې دا مولا هم هیس مرسته نشی کولی زموږ سره!
زبیر- دسی مه وایه زه یې ضمانت درکوم دا مولا د هغه پاچا څخه یو پر سلو بهتر دی ما یې زیات تعریفون آوریدلی د ډیر خلکو ستنوزی ورته حل کړی..
- خدای دی وکړی همدغسی اوسیږی، هسی هغه پاچا په اړه هم تاسو همداسی ویل..!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبیر- زه پر پاچا هیس کار نلرم هغه دی کاکا جان معرفی کړی وو، هغه ته ګیله وکړه نه ماته..
ذوالفقار- زما هم کوم جان جانې یار نه وو! هسی یو بل چا آدرس راکړو د هغه څخه مخکې مې پیژندل خو لری نوم مې لا نه وو ورڅخه آوریدلی..!

زبیر- هسی لږ فایده یې وکړل که نور نه ویې پوه خو یې کړو چې دا ټول کارونه د پیریانو دی نه د انسانانو، کنه موږ خو مفته مفته یو جنرال مو ځانته دښمن جوړ کړی وو...
- خو یو تاوان یې هم وکړو.
ذوالفقار- څه؟
- پاچا ته د تلو مخکې یواځی په شپه یا هم په یواځیتوب کې پیریانو ډاره ولم، خو هغه ته د تلو وروسته نه ورځ ګوری نه هم شپه! خوب وخت کې لا کراره مې نه پریږدی نور خو لری...!

همدی خبرو خبرو باندی د هغه مولا چې زبیر معرفی کړی وو کورته ورسیدو، موټر مو کوڅه کې و دره ویې او زبیر د مولا د کور پسی په ګرځیدو شو! لکه چې د کور د دروازی رنګ چې کوم نفر ورته خودلی وو لیاده وتې وو، تقریبا دوه دری دروازی هغه کوڅه کی و ډبول تر څو اخری کور د کوڅی په سر کې چې توره رنګه دروازه یې درلود د مولا کور وو! د مولا د کور دروازه ذوالفقار وټکول څو دقې وروسته یو ځوان هلک چې د 17/16 کالو معلومیدی شنې سترګی او غنم ررنګه څهره درلود دروازه خلاصه کړه..

ذوالفقار- مولا صیب کور کیدی؟
هلک- نه دا دلته مولا نشته...!
زبیر- څه وایې وه هلک ددی خای آدرس ما ته یو نفر راکړی او ویل یې چې دلته داسې تکړه مولا دی او ډیر سم تعویذات کوی..
هلک- ښه ښه هو همدلته دی مهربانی راځی..

د هغه هلک و کار ته ما په حیرت کتل هغه مخکې شو او موږ هم ورپسی کور ته ننوتلو د داخلیدو وقت کې ما زبیر ته کرار وویل: هسی ما ته خو لږ لیون حال خلک معلومیږی! د مولا کور کی ناست دی وایې مولا نشته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبیر- نه پوهیږم ولای ماته خو ملګری زیات تعریف ورڅخه وکړو چې ډیر تکړه مولا دی..!

کوچنی حویلی درلود یو ښایسته د انګورو طاق هم درلود خو وچ وو! دوه منزل کور وو موږ یې همغه اول منزل کې یو کوټې خواته دعوت کړو، کوټه کې هیس سوک نه وه! په نالی کیناستو او د مولا راتګ ته په تمه شو! د کور فضا یې زما خوښه شوی وه او بد احساس مې نه درلود، کوټه کې یو غټ الماری وه چې د کتابو ځخه ډکه وه ټول هم تفسیرونه وه زه د کوټې په کتلو وم چې دروازه خلاص شول او یو د 45/40 کالو سړی چې ګیره یې په نکریزو سره کړی وه او ږ مولایانو مخصوص سپین پاچ( زما په خیال پاچ ورته وایي هغه لونګی ته؟) لونګی تړلی وه کوټې ته راننوت.

زموږ ټولو سره یې د لاس په راکولو ستړی مشی وکړل او مخامخ وموږ ته په نالي کیناست.
ذوالفقار- اول خو دا چې پر تکلیف مو کړی بخښنه غواړو.
مولا- خدای دی نکوی د څه تکلیف تاسو زما میلمانه په حساب راځئ او میلمه د خدای دوس وی.
ذوالفقار- دا ستاسو حسن نیت دی، اصل کې موږ د یو خبری لپاره ستاسو مزاحم شو دا(ذوالفقار ماته اشاره وکړل) زما وراره دی او دا څو وقته کیږی چې عجیب غریب کارونه ورسره کیږی او موږ شک لرو چې د پیریانو کار دی!

د ذوالفقار په خبره مولا زما خواته راوکتل او ویې ویل: دلته راسه بچې..
ځایه پاسیدم او مخامخ ورته کیناستم...
مولا- لاس دی راکړه..
د هغه په خبره اول مې حیرت وکړو! بیا مې ځان سره وویل هسی نه د پاچا کار وکړی او زما لاس کې قلمونه تخته کړی او لاس راته تک شین کړی! لکه چې ذوالفقار هم همدغه فکر وکړو چې ژر یې وویل: تاسو خو قلمونه د طاهاا لاس کی نتباسی؟
مولا- نه ولې؟ تاسو ما ته د راتلو مخکې کوم بل مولوی هم ته تللی یاست؟؟

زبیر- هو پاچا صیب ته تللی وو.
مولا- پاچا صیب؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذوالفقار- هو پاچا صیب.
مولوی- کار یې هم وکړو تعویذات یې؟
- که کار یې کړی وایې نو موږ دلته څه کول؟
مولوی- اممم ربښتیا وایې ... په هر حال زه درته کوم فزیکی نقصان نه رسه وم خیال دی راحت اوسه بچیه..
زړه مې طاقت ونکړو او ومې ویل: نو بیا ولې تاسو ته تیل داغ مولا وایې؟

زما په خبری مولوی په لوړ غږ وخندل او ویې ویل: هسې دا خلکو راباندی دا نوم ایخودلې کنه ولاکه مې تراوسه سوک سوځه ولې ویې ..!
څه مې ونه ویل او خپل راسته لاس مې هغه خواته ونیو چې هغه وویل:نه چپه لاس دی راکړه.

دا ځل مې خپل چپ لاس هغه خواته ونیو چې مولا زما د چپ لاس د شهادت ګوته ونیول او په دم کولو یې شروع ورکړل د مولا د هر چوف سره داسې احساس مې کوی چې لاس مې پر مات کیدو دی! دومره درد یې زیات شو چې غوښتل مې ګوته مې د هغه د لاس څخه جلا کړم خو هغه کلک ونیول...
- اخ...
مولوی- و هو علیٰ کل شی قدیر چوف ....
د هغه د هر چوف کولو سره مې د درد څخه ساه بنده بنده کیده، د ډیر درد څخه ژړا ته نږدی شوی وم. چې د ذوالفقار پریشانه او عصبی غږ مې واوریدو چې ویې ویل: بس یې کړه... نه ګوری درد لری..
زبیر- ذوالفقار هغه یې هم نه وهې وګوره یواځې دم کوی پریږده خپل کار وکړی..

د څو دقو وروسته مولا زما لاس خوشې کړو د ډیر درد څخه خپل لاس مې بغل کې ونیو چې ذوالفقار رانږدی شو غوښتل زما لاس وګوری چې مولا ورته وویل: که د دی حال د لیدو طاقت یې نلری نو د کوټې څخه ووځه، ما درته وویل زه ورته فزیکی درد نه ورکوم.
ذوالفقار- نو دا څه دی؟ وګوره د درد څخه څه رکم شو..
مولوی نری مسکا وکړل او ویې ویل: دا درد معنا دا ده چې دی په وجود کې ناپاک دی..
زبیر- څه مطلب ناپاک دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



مولوی- مطلب پیریان د ده جسم کی داخل شوی! (د مولوی پدی خبره درد می لیاده ووت او د ویری او وحشت څخه مي نږدی وو سکته کړی وایي چي مولوی وویل: خو عجیبه دا ده چي زه نشم حاضر کولی نه پوهیږم ولی؟
ذوالفقار- ولي نشي حاضر کولی؟ پاچا صیب خو حاضر کړل!
مولوی- هسی یو خبره کوم فکر ونکړی چي دا خو مولیان دی او یو مولا د بل مولا خلاف دی او یو بل نه مني او هر چاته ځان بښه ښکاری...اصل کي پاچا بیخی ځان زموږ مولیانو ډله کي نه حسابه وی! که دقت مو کړی ویي!

زبیر- هو بده یي منل لدی چي ورته مولا صیب وواېو ویل زه پاچا یم..
مولوی نری مسکا وکړل او ویي ویل: هسی دا بحث ډیر لوی دی خوشي کوه یواځی دومره وایم چي دغه پاچا چندان ښه نوم او کارنامه نلری!
ذوالفقار- مطلب؟
مولوی- مطلب دی دعوه کوی چي پیریان زما ملګری او تابع دی! پداسي حال کي چي پیری یو آزاد مخلوق دی و هیس کله نه تابع کیږی! هغوی کوم حیوان ندی چي انسانان یي ځانته رام او اهلی کړی! دا خبره د هغه چي وایي ما پیری تابع کړی هسی خبره ده بلکی زه شک لرم چي هسی نه برعکس کار شوی ویي؟

- مطلب پاچا د پیریانو تابع دی؟
مولوی- الله اعلم و مي ویل زه د هغه سره کوم کار نلرم د هر چا عمل د هغه د لاری مل، یواځی دومره وایم چي امکان لری هغه تاسو ته دروغ ویلی ویي!ځکه ډیر خلکو د هغه د لاس ماته شکایت کړی... ربنتیا تاسو وویل هغه پیری حاضر کړو؟

ذوالفقار- هو.
مولوی- ښه نو څه یي ویل؟
ذوالفقار- ویل یي زه یو ښاپیری یم او په (ذوالفقار د سترګو په اشاره زما خواته اشاره وکړل او ویي ویل: طاها مئینه یم.
- البته زه شک لرم پدی خبره کی؟!
ذوالفقار- په کوم خبره کی؟
- دا چي کوم ښاپیری پر ما مینه شوی اوسیږی؟
زبیر په خندا وویل: زما هم باور نکیدی خو افسوس چي تا خپل پر خولي هلته اکرار

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړو..

زموږ په خبرو مولوی کرار وخندل او ویې ویل: پیریان زیات عجیب اخلاق لری شاید د یو چا په تور وینښتیانو مین شی یا هم ګیره یا حتا د هغه انسان په اخلاقو، کله ناکله داسی کیږی چې د یو چا د ویده کیدو په طریق مین کیږی او په ساعتو نو د هغه نفر سر ته کینی چې هغه د خوب حال کې وګوری! هغه زموږ متل دی وایې مینه ړنده ده!
زبیر په خندا وویل: ګوره طاها مولوی صیب هم وایې مینه ړنده ده یعنی تخو چندان شي ...( د زبیر خبره مولوی په خندا پری کړل او ویې ویل: نه زما مطلب دسی نه وو بچیه ماشالله طاها جان ښکلې ځوانی لری ما درته عموماً د پیریانو خوی او خاصیت بیان کړو ..

زبیر غوښتل بیا یو څه ووایې چې ذوالفقار په قهرجنه لهجه وویل: بنده کړه خوله دی نور زبیر ...( بیا یې د مولوی خواته مخ واړوی او په همغه تنده لهجه یې وویل: چاره څه ده؟ زه خو بیخې پوی نشوم چې سنګه چل دی؟ اوس پیری د طاها بدن کی شته؟ نو بیا ولی تاسو نشې حاضر کولی؟ اصل کې دا پیریان د طاها سره څه مشکل لری؟

مولوی- پیری خو شته او د پاچا دا خبره زه منم چې ښاپیری ورباندی مینه شوی وه خو اوس هغه نشته! یعنی نه حاضر کیږی ګوری پیریان په دری ډوله ویې حدیث شریف کې راځی:ثعلبه خشنی روایت کوی او فرمایې چې پیغمبر"ص" و فرمایل: «الجن ثلاثة أصناف: صنف لهم أجنحة يطيرون في الهواء وصنف حيات وكلاب وصنف يحلون ويظعنون» پیریان په دری ډوله دی اول اول هغه ډله چې وزری لری او هوا کې الوتنه کوی دویم هغه ډله چې خپل ځانونه د مار، سپی، او بیشو په ډول ظهاره وی. دریم هغه چې یوځای کې داخل کیږی او راوځی، مطلب یوځای کې نه تینګ کیږی کوم ځای څخه چې باد ننوتلې شی دوی هم ننوځی...

او دا پیریان حاضر کول ډیر سخت وی مطلب د شانس کار وی شاید هغه دقه کې دا موجود وه او پاچا حاضر کړی وی، هوایې پیریان حاضر کول ډیر مشکل کار وی..
ذوالفقار په بی حوصله لهجه وویل: اوس چاره څه ده څه وکو؟

مولوی- دا چې زه پیری نشم حاضر کولی دده په بدن کې، نو ځکه زه نشم پوهیدلی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشکل اصل کې څه دی؟ ځینی داسې پیران دی چې د انسان بدن کې داخل کیږی او هملته ځانو ته ځای پیدا کوی، مطلب همله اوسیږی د همغه انسان بدن کې د همغه سره حرکت کوی د همغه سره هغه ډوډی کوم چې بسم الله وربادی ویل شوی نه ویې خوری، دا رکم پیښی ډیر کم مخ ته راځی چې یو پیری دی داسی کار وکړی خو امکان یی شته، او بل دا چې ځینی پیریان په سحر او جادو د انسان بدن ته داخل کیږی..!

ذوالفقار- چاره څه ده؟ څه رکم دا پیریان د طاها څخه لری کړو؟
مولوی- مجبور یو بل طریقه خپل کړو.
زبیر- څنګه طریقه؟
مولوی- د ده جسم کې پیری نه حاضر کیږی نو مجبور چې مخامخ بغیر لدی چې د کوم انسان بدن واسطه کړو یو پیری حاضر کړو..
زبیر- یعنی څنګه زه پوه نشوم...
مولوی- صبر یو دقه..

مولوی دا خبره وکړل او خپل لځایه پاسیدی د کوټی څخه ووت، خو ډیر ژر بیرته راغې یو سپین یو متره ټوکر یې لاس کې وو! هغه یې زما مخ ته هوار کړو او ماته یې وویل: هر هغه شې چې تاته مربوط ویې پدی ټوکر کیږده..!
په ګنګس انداز می وویل: څه؟
مولوی- کمیس، ګوتمی، پټو هر شې چې ستا ویې همغه کیږده،( په حیرت می وروکتل یو ګوتمې می درلود البته هغه هم سیلوری! زر لا نه وو، همغه مې کیخودو او په تمه شوم چې څه کوی؟ مولوی زما ګوتمې یو چار کونجه کاغذ کې کیخودل او کاغذ یې همغه سپین ټوکر چې سم کفن معلومیدی کیخود او دم و چوف یې شروع کړو...

زبیر یو تکیه کلام لری کله ناکله وایې فلانکې خپل ځان سره وشکوې خو هغه کار یې ونشو کړی! خلاصه چې پر مولوی صیب هم همغه چل وشو! د یو ساعت وروسته چې هر رکم قصیدی وویل او عملونه یې وکړل خو هیس فایده ونکړل اخیر کې په پریشانې خپل ګیره کې لاس تیر کړو او ویې ویل: عجیبه ده... امکان نلری زه ستا پر بدن د هغوی د راتلو نښه نښانې ګورم! خو نشم کولې هغوی حاضر کړم! اول ځل دی چې دسی چل زما سره کیږی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذوالفقار په غوسه وویل: دا نو څه ریشخند دی؟ که د پیسو لپاره داسې خبرې کوی نو بیغمه اوسیږی دومره درکوم چې کار مو ورباندی جوړ شې تاسو یواځی دا لعنتی پیریان لری کړی...

د ذوالفقار په خبره مولوی هم غوسه شو او په تنده لهجه یې وویل: زه پاچا نه یم چې د پیسو لپاره دسی کارونه وکړم، زه د ورځی زر دانې داسې مثلې حل کوم خو دا اول ځل دی چې دسی چل راسره کیږی! زه نور کوم کار نشم کولې مهربانی ورځی..

د هغه مولوی په خبرو نامید شوم داسې احساس مې درلود لکه یو سرطانی ناروغ ته چې ووایې بل علاج نلری خپل مرګ ته په تمه اوسیږه! سترګو ته مې اوښکې راغلې وه چې مولوی راوکتل او ویې ویل: نامیدی د شیطان کار دی شاید زما علم تر هغه حده نه وی چې ستا سره مرسته وکړم ورشې یو بل سم مولوی ته ترڅو مرسته وکړی...

نور هلته د پاتې کیدلو دلیل نه وو ولاړسو او د مولوی د کور څخه راووت، ذوالفقار کنځل کول غوسه وو، خو ما د خبرو حوصله نه درلود، په زوره مې ځان کنټرول کړی وو ترڅو و نه ژاړم! اخ څنګه نامیده نشم کله چې مخامخ راته وایې ستا مرض دوا نلری او خپل مرګ ته په تمه شه! هیس کله مې فکر نه کو چې زما ژوند به داسې تمام شي زه د مرګ څخه هیس کله نه ډاریدم خو اوس چې مرګ مې خپل څو قدمې کی لیدو د ویره څخه مې ټول بدن ورته لړزیدی، د دی څخه ویریدم چې څنګه وحشتناک او دردونکې مرګ به راکړی! کاش د مرګ څخه مخکې ددی حرامی پیریانو څخه خپل قصد اخیستلې شو ..!

په موټر کې ټول خاموش وه او هیچا خبری نکول ذوالفقار بیحده بد موټر روان کړی وو او سرعت یې بیحد زیات وو، لاره کې هم هر موټروان چې ورته ویل کرار روان شه ذوالفقار هم ورسره جنګ او کنځل کول بیخی عصاب لکه چې خراب شوی وه!

زبیر- په کراره ذوالفقار چیرته روان یې؟
ذوالفقار کوم جواب ورنکړو چې زبیر بیا خپل پوښتنه وکړل او دا ځل ذوالفقار په تروش تندی وویل: پاچا صیب کور ته...

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذوالفقار د موټر له هينداری ښخه ماته راکتل ترڅو زما مخالفت وګوری او جواب راکړی! خو ما هیس ونه ويل خاموش مې نظر د موټر له ښښی ښخه بهر خواته ونيو، ټول پوهیدلو چې پاچا هيس کار نشي کولې! ده که کوم کار کولې شو همغه اول ځل به يې کړی وايې! زه يوائې خپل مرګ ته منتظر وم بس، د نامیدی اخيری حد ته رسيدلې وم د پاچا کورته ورسيدو ذوالفقار دروازه ور وټکول يو ځوان هلک دروازه راخلاصه کړی..

ذوالفقار- پاچا صيب کور کيدی؟
ځوان- ولای نه يم خبر سوک ياده وی ما دا کور پرون واخيستو نه پوهيږم ته سوک ياده وی ورور؟
ذوالفقار- څه مطلب پرون واخيستو؟ ددی کور مالک چيرته دی؟
زبير- تا د چا ښخه کور واخيست؟
ځوان- زه دا څو وخته د کور پسی ګرځيدم پرون رهنما والا زنګ را ووهي او ويل داسی کور دی خرڅ کوی که اخلې؟ زه هم راغلم و مې ليدو او وامی خيستو اوس هم خپل د کور شيان راوړم کوم ستونزه ده؟
زبير- نه.

نور مو څه ونه ويل او بيرته موټر ته پورته شو د ذوالفقار تندی نور هم تروش شو يو خبره يې لا ونکړل، ولی ناساپه داسی کس چې ځانته نوم او نشان لری پدی علاقه او منطقه کی په يو شپه خپل کور او شيان يې خرڅ کړل او ولاړی؟ زه لا په همدی فکرونو کې وم چې زبير په تلوار وويل: موټر ودروه ذوالفقار اله...
ذوالفقار موټر و دره ويې او زبير ژر ښکته شو موړ ورپسی کتل چې زبير د کوڅې مخکې د يو هلک و دره ويې او په خبرو شو ورسره ښه چې دقت مې وکړو همغه ځوان هلک وو چې اول ځل يې موږ ته د پاچا د کور دروازه خلاصه کړی وه! لکه چې د پاچا صيب يو څه کيدی؟ د هغه په ليدو ذوالفقار هم د موټر ښخه ښکته شو ما حوصله نه درلود خو مجبوری ښکته شوم ترڅو وګورم څه چل دی؟

زبير- پاچا صيب چيرته تللی؟
هلک- ه.... هغه( هلک چې زه او ذوالفقار وليدم په بند بند ژبه يې وويل: زه ولاکه خبر يم زه هم اوس راغلم ګورم کډه يې بار کړی..
ذوالفقار- ته ښنګه نه يې خبر ته ولی د هغه سره نه ويې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلکـ- ن... نه ما يواځې د هغه سره کار کو نور ورسره کوم ارتباط نلرم..
زبیر- چیرته تللی د هغه ځای آدرس خو راکولې شې؟
هلکـ- و مې ویل کنه زه هم نا خبره یم نه یم خبر زه هم ستاسو پشان ورغلم کورته یې کورم ګور کور یې خالي وو؟!

بیرته موټر ته پورته شو او ذوالفقار حرکت وکړو، زه دومره نامیده او په فکرونو کې غرق وم چې زبیر وویل: تر واسه خو موضوع معلومه نده چې ځنګه چل دی؟ هسی ورته زړه مه اچوه دا مولا هم د همغه پاچا رکم وو، زه سبا ګرځم یو سم صحیح مولا پیدا کوم داسي چې په دوه دم او چوف ټول پیریان درته دړی وړی کړی هسی خوله کړه مه نیسه..
ذوالفقار هم د موټر هینداری ځخه زما خواته راوکتل او ویې ویل: د زبیر خبره صحیح ده هسی دا ټول د پیسو غله ماته معلومیږی موږ دواړه ګرځو یو سم دیندار مولا داخل درته پیدا کو دا دومره غټه خبره نده چې تا ورته غم نیولی..

- دا خو یم ځل دی دا خبری تاسو ماته کوی او اخر کې دسی کار خراب کیږی؟ ما نه هغه پاچا باندی باور درلود او نه هم دغه مولا مې په زړه وو، او فکر کوم بل هر چاته هم لاړشو ددغه دواړو ځخه به بتر وی.
ذوالفقار- بنده کړه خوله دی ایلاتې مه وایه داسی بنه مولایان زیات دی زموږ قسمت خراب وو چې پر دغه خرابو مو مخه شوه.

نور مې ځه ونه ویل ذوالفقار زبیر تر کوره ورسه ویې او زه یې هم ددی لځایه چې کور ته مې ویسې خپل ځان سره شرکت ته ویوړم، ما د ذوالفقار ځهره کې تشویش لیدو!
بنکاره کوه یې نه او ظاهره کې ماته دلداری راکول خو هغه پریشانه او ورختا وو چې هسې نه پر ما کوم شئ ونشي! درسته ورځ شرکت کې خپل کوټه کې خپل د سترګو مخ ته کینولې وم، ما شپې لاسم خوب نه و کړی نو ځکه کوم کوچ چې د ذوالفقار د مدیریت کوټه کې وه پر هغه پریوتم..

ذوالفقار- خوب دی راځی؟
- هو بیحده زیات..
ذوالفقار- غواړی ویده شي زه لاندی ځمکی باندی درته ځای سم کوم هسی کوچ باندی مغزی دی په درد کیږی..!

(c) ketabton.com: The Digital Library



- کوچ غټ دی راحت خوب کیږی.
ذوالفقار - ډوډی دی ونخوړل!
- اوس مې شئ زړه نغواړی راوبین شوم خورم..
ذوالفقار - صحیح دی..

ذوالفقار د میز شاته په چوکی ناست وو او خپل د شرکت د دواګانو او نور شیانو لیستونه او حساب کتاب سم کوی، چې زما زړه ډوب شو او ویده شوی وم...

احساس مې کوی د ځمکي څخه په پورته کیدو یم؟ په وحشت باندی مې سترګي خلاصي کړی چې ځان مې د پاچا کوټه کی ولیدو؟ همغه کوټه چې هغه ورځ یې راباندی پیری حاضر کړی وو! البته پدی تفاوت او بدلون چې اوس کوټه روښانه وه! کوټه کې هیس سوک نه وه او زه یواځې وم دروازه خلاصه شوه په تلوار مې د غږ خواته وکتل، څو نفران چې تور اوږده چپنی اچولي وه کوټي ته راداخل شوه او زما شاوخوا و دریدل هیچا هیس نه ویل د ټول کسانو تک سپین بیحده لکه مړو پشان څهری او بیحده عجیبه سترګی وی!

په وحشت او ویری مې هغوی ته کتل چې د هغوی د مینځ څخه یو نفر چې بیحده ډارونکې ماته ښکاره کیدو په یو ناشناس لهجه خبری شروع کړل او د هغه څخه عجیبه دا وه چې زه د هغه پر ژبه پوهیدم؟!!! هغه ډارونکې انس و که پیری وو هر څه چې وو په کراره لهجه وویل: موږ ستا سره هیس مشکل نلرو موږ د *** قبیلې څخه یو موږ ستا سره لږ مشکل درلود چې حل شو نور موږ پر تا کار نلرو.

په وحشت او ویری مې وویل: څه مشکل مو زما سره درلود؟ او څنګه حل شو؟ زه خو تاسو بیخې پیژنم لا نه بیا د څه مشکل مو وو زما سره؟؟( د هغوي په مینځ کې یو پیری چې ددوی څخه لږ په عمر کې زیات معلومیدی رامخکې شو او ماته یې په کتلو وویل: زما لور پر تا مینه وه! او موږ مسلمان پیریانو یو او زموږ قانون کې پیریان حق نلری انسانانو ته نږدی شی که بیا هم کوم پیری قانون مات کړو او یو انسان ته نږدی شوو نو موږ ورته سزا ورکو! زما لور یواځې پر تا مینه وه..

هغې نه ته وهلې وی او نه یې هم تاته کوم نقصان در رسه ولې وو، ستا سره د نور پیریانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشکل وو او ته چې پاچا ته راغلی هغه پیریانو خپل ګناه زما په لور واچول او پاچا هم زما لور ته ضرر ورسه ویې هغې ته یې تکلیف ورکړو نو ځکه موږ هم تا ته تکلیف درکړو خو اوس موږ ستا سره نور کار نلرو، یو نفر ستا ضمانت وکړو او موږ هم د هغه کس زیات احترام ساتو د هغه په خاطر موږ نور ستا سره کار نلرو او تا ته نور هیس کله تکلیف نه در رسه وو خو یاد لره، زموږ څخه بغیر هم ډیر پیریان ستا د مړه کولو پسی دی او اوس خو د حد څخه هم زیات شوی..

- ولی غواړی ما مړ کړی؟ ما خو کوم کار ندی کړی ..
پیری- یو ورځ به شاید په اصلی دلیل یې پوی شي خو د اوس لپاره دومره وایم پاچا د هغه پیریانو پخوا دی کوم چې ستا مرګ غواړی هغه تاته د یهودو جادو کړی وو..
- څه مطلب د یهودو جادو کړی وو؟

د دی څخه مخکې چې هغه بوډا پیری جواب راکړی د اوری په خوځیدلو مې له خوبه پاسیدم ذوالفقار زما څنګ ته ناست و په تشویش یی وویل: بد خوب دی لیدی؟

په ځای کې کیناستم نه پوهیدم کوم خوب مې چې لیدلی آیا یواځې یو خوب دی یا که د ربنتیا هم یو خبرداری دی؟ ذوالفقار راته په تشویش کتل ذوالفقار ته شرمنده شوم لدی چې زما د پلار او زما د کورنی لځایه دی زما په فکر کیدی او زما دلاسه داسې پریشانه دی! هیس مې ورته خپل د خوب په اړه و نه ویل چې هغه خپل ویښتیانو کې لاس تیر کړو او ویې ویل: راځه ناوخته دی پلار دی څو زنګه ووهل او پوښتنه یې وکړل چې تاسو چیرته یاست؟

هیس مې ونه ویل او لځایه پاسیدم فکر مې هغه لیدلی خوب کې وو، ماته خوب نه بلکی ربنتیا معلومیدی د هغه پیریانو لخوا یو یو ویل شوی خبره مې یاد کې وه، ولې پاچا ماته د یهودو جادو لیکلی وو؟ اصلا دا جادو د څه لپاره دی؟ ولی ځینی پیران غواړی ما ووژنی؟ ما خو کوم کار ندی کړی پر هغوی که خبره د عشق او عاشقی وه خو لاړه تمام شوه بیا نو ولی زما پسی دی؟ په همدی فکرونو د ذوالفقار کو ته ورسیدو، د مابنام لمونځونه په قضا کیدو وه چې موږ دهلیز ته ننوت او په اول بدبختي کی مې سترکی په فرید ولګیدی.. په نه زړه مې تولو ته سلام واچو او د ذوالفقار اندی ته کیناستم..

(c) ketabton.com: The Digital Library



بابا او ذوالقرنین کاکا د ذوالفقار د ناوخته راتلو پوښتنه کول او هغه هم بی حوصله جواب ورکوی چې ناساپه فرید چې زما د راتلو سره په یو ریشخندی خندا په خوله زما خواته کتل ویی ویل: طاهاخپل ګیره دی چیرته جوړه کړی؟

#شهاب🌒 :

پوی شوم چې د فرید د داسی پوښتنی څخه مطلب څه وو، زموږ کورنی کی ګیره اخیستل جرم او یو لویه ګناه او خطا وه او ما خپل ګیره پوره اخیستی وه، فرید غوښتل پدی پوښتنی باندی خپل په خیال ما د نورو په نظر کی یو بد انسان معرفی کړی.ډیر می زړه غوښتی یو کنځل ورواچوم او یو څه یی سپک کړم خو افسوس په یو لوی مجلس کی داسی کارونه د ادب څخه ډیر لری وه. که مقابل شخص دی یو بیشخصیت لکه فرید هم ویی بیا هم بی ادبي ښه نده، په همدی خاطر یو دروغی مسکا می وکړل او کوم جواب می ورنکړو په هغمه مسکا می پوی کړو چې کرکه درنه لرم فرید.....

زما ځایه ذوالفقار د فرید جواب ورکړو او ویې ویل:سلمانۍانې( وینتیان او ګیره جوړ کولو ځای) دلته زیات دی زه به درته آدرس درکړم البته زه خپل هم اخیستی شم راشه د ګیری سره دی سر هم مفته درته ګنجي(شوټا) کوم سنګه خوښه دی ده؟؟

د ذوالفقار په قهرجن لهجه چې زیاتر مطلب یې دا وو که یو بل بیځایه خبره وکړی سر دی درته خریم! د فرید خوله بنده شوه، زړه مي وربالدی یخ شو خیرن راغلي ما په غوږ وهې! د مابنام ډوډی خوړلو وروسته فرشته لګیا شوه ترڅو لوښی ومینځي خو ذوالفقار ورته ناری کړل او ویې ویل:

ذوالفقار- فرشتی لوښی مه مینځه زه یې بیا خپله مینځم.

کاکا ښځه- وی خدای دی مرګ راکړی دا نو څنګه خبره ده؟ ته ولی ځان په زحمت کوی فرشته جانه یی اوس درته مینځی کور هم درته پاکوی.

ذوالفقار- مشکل نسته وریناداری ما او طاها عادت یو خپل کارونه خپله وکړو..

کاکا ښځه- هره ورځ ستا ورور ته وایم چې دا د ذوالفقار کور ورمعلوم کړه واده یی وکړخ چې ددی عذاب څخه خلاص شی.

( د کاکا ښځی " د عذاب څخه خلاص شی" په جمله داسی ماته راوکتل لکه چې مطلب یی له عذابه زه وم نه مجردی؟)

ذوالفقار- د څه عذاب ورینداری؟ زه خپل ژوند کوم ان شاءلله هر کار په وخت یی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا وار ذوالقرنین کاکا خبره ونیول او ویی ویل: ستا واده زما او " بابا ته یی اشاره وکړل" لالا په غاړه حق دی، ستا د وریندارۍ په خبره موږ باید ستا کور او ژوند درمعلوم کړو.
ذوالفقار په عصبی لهجه وویل: اول خو زما کور او ژوند معلوم دی، دویم دا چې زه خپله دومره عقل او شعور لرم چې که یوه ورځ دواده کولو اروه می وکړل ځانته ښځه انتخاب کړم. ښځه څه غالۍ یا موټر ندی چې تاسو ورشی وګوری او تاسو یی راته انتخاب کی زه خپله یم.

فرید- ستا خبره صحیح ده کاکا خو د ښځې انتخاب کی باید اصل او نسب ته هم وګوری نه یواځې چهری او اندام ته یی؟
ذوالفقار په قهر باندی وویل: ستا څخه چا مشوره وغوښتل؟
فرید- نه خو غوښتل می بعضی خبرو باندی مو پوه کړم.
ذوالفقار- خدای دی ما هغه ورځ ته نه محتاجه کوی چې ته بیزو به ما پوه کوی ..!

د ذوالفقار په خبری فرید د غوسی څخه تک سور شو. که دا دومره خبری ماته یو چا کړی وایی له وخته می کور ورته پریخودی او یو جنګ جهانی می هم ورسره کوی، خو فرید دشخصیت او غرور په نوم کومه کلمه نه پیژندل. یو بیشرمه انسان و چې هرڅومره دی بیابه کوی بیا هم هغه خپل کار کوی. ذوالفقار د واده خبره بدله کړه او ویی ویل: ښه ښنګه شوه هغه ځمکه مو؟

دا خبره یعني د ذوالقرنین کاکا د خولي کشک خلاصیدل ذوالقرنین کاکا چې کله خبری کوی ستونی شکوی او چغې وهي نه پوهیږم ولې؟ خو په آرامه خبری وکړه ولي همسایه ګان خبره وی؟ څو دقې هلته ناست وم خو نور مي حوصله صفر شوه پاسیدم او خپل کوټي خواته مي حرکت وکړو، خپل پرځای پریوتم او بیا مي فکر د نن غرمي خوب ته شو؟ هر څو نه چې فکر مي کوی نه پوهیدم ولې باید یو ډله پیریان زما پسی اوسیری ترڅو ما مړ کړی؟ په څه دلیل؟ هغه بوډا پیری خو خپل دلیل وویل خو دا نور چې پاچا ته یې ویلې وه ماته د یهودو جادو وکړی دا نو ولې زما مرګ غواړی؟

په همدی فکرونو کې وم چې د تک،تک آواز می تر غوږ شو غوږونه می تیز کړل چې پوی شم دا غږ د څه شئ دی؟ تک،تک آواز بیا راغی او دا ځل یوڅه کلک د هغه بل ځل څخه پدی غږ خپل په ځای کی کیناستم تول ځای خاموشی وه او دی کار زه ویره ولم!ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو څو دقی مخکی لا د دهلیز څخه د ذوالقرنین کاکا د خبرو غږ راتلی خو اوس یو دم چوپه چوپتیا وه! بیا هغه غږ تکرار شو او دا ځل زه پوی شوم چی غږ د کومی خوا راځی سر می د کړکی طرف ته وګرځه ویی او نفس می بند شو دوه دوینو ډکی سترکو د کړکی بیرون څخه ماته کتل نه مخ یی درلود او نه هم بدن..!

یواځی دوه په وینو سری سترګی وه احساس می کوی چی بدن می فلج شوی او د حرکت توان او قدرت نلرم هوا تیاره وه په تکه توره شپه کی دا د وینو څخه تکی سری سترکی معلومیدی داسی ماته کتل لکه یو شکارچی چی خپل شکار ته ګوری د بدن رګ په رګ می د ویری احساس کوی هغه سترګو ته می کتل او د ویری څخه مې غږ د خولې څخه نه وت چی د پیشو په میاو میاو باندی د هغه دوه سترګو څخه می نظر واړه ویی دا ځنګه زما کوټی ته راغله؟ دروازه خو بنده وه؟ د پیشو په راتلو نه پوهیږم ولی خو د بدن بی حرکتی می له مینځه لاړه بیرته چی د کړکی طرف ته مې وکتل نو هغه سترګی می ونه لیدل..!

ویره می یوڅه له مینځه تللی وه خو بیا هم بدن می د ویری څخه لړزیدی او یخه خوله راباندی راتلل پیشو ځان رانږدی کی نور ورڅخه نه ویریدم برعکس ورڅخه می د امن احساس ترلاسه کوی غوښتل مې لاس ورباندی تیر کړم خو هغه راڅخه لری شوه همدغه وخت د کوټې دروازه خلاصه شوه او ذوالفقار راننوتې د هغه د داخلیدو سره پیشو په تلوار د کوټی څخه ووت..ذوالفقار په مشکوکه نظر زما خواته وکتل او ویې ویل: ښه یې؟
- هو.

نور مې هیس ونه ویل او خپل مخ مې د ذوالفقار څخه واړوی مثال زه ویدیږم! بد احساس مې درلود فکر مې کوی د ژوند اخیری وختونه مې رانږدی شوی، هر دقه هر ثانیه منتظر وم د یو خوا څخه یو عجیبه مخلوق را ووځې او ما مړ کړی! او دا ویره د هغه یوځل مرګ څخه بتره وه دا چې ثانیه په ثانیه د مرګ انتظار کوی د اصل مرګ څخه لا زیات ډارونکې وی، ذوالفقار هم نور څه ونه ویل او خپل ځای زما څخه په لږ فاصله کې واچوی او ډیر ژر ویده شو لکه چې ستړی وو! ما هم د ویده کیدو کوښښ وکړو او تقریبا د دوه دری ساعت هسې اړخ په اړخ کیدو وروسته ویده شوی وم، په قسم سره شاید د ویده کیدلو څخه مې لا 10 دقیقې نه وه تیر شوی چې یو شل ځل خو یې وډاره ولم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعني یو دقه به مې احساس کوی چې یو سوک مې پینې چونګاری کوی، بیا به یو دقه نه وه تیر شوی چې احساس مې کوی سوک د کړکی بنیینه کرار کرار په ګوتو وهي! او لس دقو کې خلاصه په شل طریقو یې و ډاره ولم! د څو دقو وروسته چې کراری شوه غوښتل مې ویده شم چې احساس مې وکی یو درونډ شئ مې په سینه ایخودل شوی او د بنوریدو توان نلرم! لاس او پینې مې فلج شول د ستوني څخه مې غږ نه وتې داسې وه لکه چې خپه توسکې نیولی وم!

(خپه توسکې همغه پیری ته وایې چې د خوب په وخت ځان په خلکو اچوی او د هغه کس نفس وربنده وی هغه نفر به په زړه کې هوښیار وی خو هیس کار به نشی کولې! موږ ورته خپه توسکې وایو او په فارسي ژبه کې ورته بختک وایې..) شاید یو پنځه دقې هغه حال کې وم د پنځه دقو وروسته سینه مې سپکه شوه او لاس او پښو مې حرکت شروع کړو..

خپل ځای کې کیناستم او خپل پینې مې په غیږ کې ونیول د بې وسې او ناچاری اخیری حد ته رسیدلې وم داسې چې اول ځل بی اختیاره مې اوښکې له سترګو څخه پر بهیدو شول، ما د ژړا عادت نه درلود خو اوس دومره ځان راته بیچاره ښکاره کیدو چې بغیر د ژړا کولو څخه بل کار مې ذهن ته نه راتلو، کرار مې ژړل خو زما پر غږ لکه چې ذوالفقار راویښ شو چې د څه خبره ده پر ویلو لځایه په تلوار پاسیدی د کوټې برق یې روښانه کړو او زما خواته راغې..

ذوالفقار۔ څه شوی ښه یې؟
هیس مې و نه ویل او خپل اوښکې مې پاک کړل شرمیدم لدی چې د ذوالفقار مخکې و ژاړم، ذوالفقار را نږدی شو او کرار یې وویل: ویې ویره ولې؟ بیا راغلي وه؟
- ذوالفقار هغوی ما نه پریږدی ترڅو چې مړ مې نکړی!
ذوالفقار په تروش تندی ویل: بیځایه اپلاتې مه وایه هغوی هیس غول هم نسې خوړلې..
- که خبره د مرګ ده خو یو ځل دی راشی او مړ مې دی کړی خو دا کارونه یې لکه عذاب ورکول دی..

ذوالفقار په پریشانی خپل وینتیانو کې لاس کش کړو او یو څو دلداری لرونکې الفاظ یې ماته وویل چې ما یوه خبره یې لا وا نه وریدل او ورته مې د نن غرمې د خوب په اړه مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته وويل د خبرو د خلاصيدو وروسته مې په نامیده لهجه وويل: زه هیس شانس نلرم د هغوي په مقابل کې..
ذوالفقار- خوله بنده کړه طاها اول خو هغه پاچا به دا کار نه ويې کړی او هغه کسانو به تاته دروغ ويلې وی! که یو فیصد هم د هغه کسانو خبره رښتیا ويي! زه درته قسم یاده وم که پاچا د ځمکې تل ته هم تللې ويي را بهر کوم يي او خپل پر لاسونو يي درته څرمنه اوباسم...

نور مې څه ونه ويل چې ذوالفقار په غوسه لځایه پاسیدی یو څو قدم يي په کوټه کې ووهل او بیايي خپل ځای زما څنګ ته هوار کړو او ماته يي وويل: زما خوب خو وړیدی ته ويده شه زه ويښ دلته کینم..
- ضرورت نشته ذوالفقار ويده شه..
ذوالفقار- و مې ويل کنه ويده شه ماته خوب نه راځی..

نور مې څه ونه ويل پداسې حال کې چې غرمه مې خوب کړی وو خو بيا هم سخت خوب راتلې خو د ويری ويده کيدلې نشوم دا چې ذوالفقار مې څنګ ته ويښ ناست وو ويره مې کمه شوه ذوالفقار خپل موبايل راخيستي وو او په ظاهره لګيا وو خپل موبايل کې خو د هغه تروش تندی څخه معلوميدل چې فکر يي زما خبرو کې ګرځي! نور مې زيات ورته توجه ونکړل او سترګې مې پټې کړل..

سهار زړه مې نه غوښت پوهنتون ته لاړشم خو مجبور ددی لپاره چې د فريد او بابا سره مخامخ نشم روان شوم پوهنتون ته، کله چې ورسیدم زبير مې د پوهنتون دروازی مخکې وليد لکه چې زما راتلو ته منتظر وی! زما پر ليدو ژر زما خواته راغي.
زبير- سلام بنه يی؟
- عليک سلام شکر دی خيله بنه يی؟
زبير- ذوالفقار نن سهار څه ويل؟
- څه ويل؟
زبير- هسې لګيا وو پاچا ته يي کنځل کول ويل وګرځه آدرس يي پيدا کړه چې ژوندی نه پريږدم! څنګه چل دی؟

لدی چې ذوالفقار ته مې هغه خبره کړی وه پښيمانه شوم! هسی ذوالفقار کم حوصله او

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوسه ناکه شئ دی کوم کار ونکړی! صنف ته په تلو تلو کې می زبیر ته هم قیصه وکړل د هغه تندی هم تروش شو، هیس یې و نه ویل استاد راغې درس مو وویل خو زما هیس پام نه وو درس ته! د اختر په راتلو دومره شاګرادن پوهنتون ته نه وه راغلې یو څو د ګوتو په شمار کسان وه، استاد هم رخصتی راکړل او ویل یې د اختر په اتمه راشي، خوشحال شوم لدی چې پوهنتون رخصت شو که نور نه ویې ادا اخر وقت لړ په راحت خیال خپل ژوند ته رسیدلی شم! نغواړم د مرګ حال کې راشم پوهنتون ته!

د پوهنتون څخه پر وتلو وو چې بیا هم میشا او د هغه ملګری زینت مې ولیدل هغوی هم زموږ پر لیدو ول همدا چې دوه قدم زموږ خواته راغلل ما د زبیر لاس کش کړو او الفرار، ما د ځان حوصله لا نه درلود هغوی خو لری! نه پوهیږم څه مرګ زما څخه غواړی؟ دومره هلکانو کې ادا زما پسی شوی نه چې داسی نامې کس هم یم!

زبیر- اووو په کراره ولې تختې؟
زبیر ته مې څه ونه ویل او د پوهنتون څخه ووتلو زړه مې نغوښت کور ته لاړشم! او فرشته یا کوم بل چا سره مخامخ شم نو ځکه مې وویل: که بیکاره یې راځه لړ همداسې وګرځو..
زبیر- بیکاره هم یم او اختر هم راروان دی نو د هسی ګرځیدو لځایه به بازار کې وګرځو شاید کوم شئ دی خوښ شی..!
- لکه څه مې خوښ شې؟

زبیر- څه پوهیږم ګرځو لوی بازار دی یو شئ به دی خوښ شی..
څه می ونه ویل او ورسره روان شوم هسی هم بیکاره وو د زبیر خبره څه په سړک کی وګرځو څه هم بازرا کی دواړه یو معنا درلود، زما سره همغه 500 افغانی ول! هسی ادا 500 ګون ما په برکت نیولی بیخی مصرف کیږی نه! تقریبا یو،یو نیم ساعت بیکاره په بازرا کې مو چرخ وهې البته زبیر ځانته ډیر شیان واخیستل خو ما هیس وانخیستل د یو ګوتمې او زنځیر فروشې څخه تیریدو چې زبیر و دریدی او د هغه زنځیرو په کتو شو ډیر میده شیان خرڅیدل، د ګوتمې څخه نیولی زنځیر، دسبند، بوکس پنجه، او حتا برچه( هغه لاسي چاقوګان چې د زیاتر لندغر هلکان په جیبونو کې ګرځه وی،) زبیر یو دانه هغه برچه راوخیست او ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبیر- دا په څو ده؟
دوکاندار- 200 افغانی ماته راغلې بیحده تیزه برچه ده تاته به درکړم 210 افغانی.
زبیر- نو ته پر ما لس روپی ګټه کوی؟
دوکاندار- زه ته راته راکړه 205.
زبیر- نه دومره نه ارزی..
- ته غواړی دا واخلې؟
زبیر- که په قیمت جوړ راشو هو اخلم..
- ته لیونی شوی یی؟ یا لنډغر شوی یی؟ او زه خبر نه یم چې برچې بیخی اخلی!!؟

زبیر بغیر لدی چې زما جواب راکړی دوکاندار خواته کتل چې هغه وویل: زه وراره نه دی زما خبره وی او نه هم ستا اخر 200 راکړه فایده درنه نغواړم..
زبیر- نه دومره نه اخلم قیمت دی..
دوکاندار- بنه ته ووایه څو یې اخلې؟
زبیر- یو 50ګون ستاسو لپاره کنه 20روپی دلته چغې وهی چې واخلم..

یعنی زبیر دومره چنې ووهل او هغه برچه یی اخر هم په 60 افغانی واخیستل،ما ورته حیران حیران کتل عمر کې مې دا چنې وهل نه وه زده! د هغه خای څخه روان شو البته ما ځانته یو بل ګوتمې واخیسته هغه سیلوری ګوتمې مې بیحده خرابه شوی وه بیخی رنګ یې تللی وه او د سپین لځایه یې سره ړنا کول، یو د لرګی څخه جوړ ډیزاین ګوتمې مې واخیست وربانډی نیم زړه رسامی شوی ووا هسې کوم دلشکسته خو نه وم خو دغه ډیزاین مې خوښ شو..

زبیر- ډیره تیزه ده کاش دوه دانی مې اخیستې وایې.
د زبیر لاس کې برچې ته مې وکتل او ومې ویل: دا برچه هرسوک درسه وګوری یو جانانه وهل درکوی ویلې مې و اوسیږی..
زبیر- مثلاً سوک یې وګوری؟
- پلار دی وررونه دی هر چا که ولید..
زبیر- نو ما خو دا ځانته ندی اخیستی چې هغوی راسه وګوری..!
- نو تا چاته اخیستی؟
زبیر- دا ما تاته اخیستی..

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زبیر په خبره په خندا مي وویل: زه تاته کوم لنډغر ښکارم که سنګه چي ماته برچه اخلې؟

زبیر- نه لیونیه ګوره ما یوځای آوریدلی وه چي پیریان د تیز شیانو لکه چاقو څخه ویرېږي نو تخو د آشپزخاني چاقو جیب کي نشی ګرځه ولې! نو دا برچه هم سټیل لری هم د دفاع لپاره دی ښه ده!

زبیر په سل زوره او ګوابنونو اخیر هم هغه برچه زما جیب کي واچول، زما زړه هیس نه منل چي پیری دی د یو برچي څخه و ډار شی! خو زبیر خپل پر خبره بیحده کلک وو، یو د بل سره مو خدای پاماني وکړل او زه د کور پخوا روان شوم، کله چي کورته ننوتلم نو حویلي کي می په یو تور غټ غوی نظر ولګیدی، چي ذوالفقار یي رسي ورڅخه په یو غټ میخ تړل ترڅو غوی و نه تختی او فرید هم ورته په یو لګن کي اوبه د غوی مخ ته کیخودل، بابا او ذوالقرنین کاکا هم په برنډه کي ولاړ وه او خبری کول، دومره ژر یي د اختر لپاره قرباني راوړل! دا غوی اوس ټول کور په مردار بوی لړی....!

سلام مي وکړو او د ذوالفقار خواته نږدی شوم، زما پر نږدی کیدو غوی لکه لیونی په بنوریدو شو داسي چي ذوالفقار خپل په زور ځان خواته راکش کړو! زه هم لږ وویریدم او ورڅخه لری شوم..
ذوالقرنین- ماشالله داسي پهلوان غوی دی دا به سنګه راچپه کړو د قرباني وخت کی؟
بابا- هو زیات شوخ غوی دي خدای دی وکړی تر اختره ځان یا بل کوم سوک خوږ نکړی.

ذوالفقار غوی کلک وتړی او زما خواته راغي تندی تروش وو په ځیر ځیر یي ماته راوکتل او ویي ویل: کاش نن نه وایي تللي پوهنتون ته ..!
- ولې؟
ذوالفقار د فرید خواته اشاره وکړل او ویي ویل: دا بیعقل مي وری وو یو غوی رسي نشو نیولي لږ پاتی وو په بازار کي ورڅخه ختا شوی وایي( د ذوالفقار په خبره مي خندا راغلل هغه داسي ماته توقع ساتلي وه لکه چي زه کوم پهلوان وم! هسی دا دومره غټه غوا هغه هم دومره وحشي د فرید لځایه که زه وایي د حمله کولو څخه مخکي مي خپل د ځان ژغورلو لپاره خوشي کول!)

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرید په ناراضه لهجه وویل: تا خو ولید کاکا هغه سومره بد غوږ وه بیخی نفر ځانته نږدې نه پریخودو او تا غوښتل زه د هغه د خولي رسی ونیسم؟
ذوالفقار- ورک شه ډارن ستا سینه ټکول ماته معلوم دی، د یو غوږ په لیدو دی رنګ پریدلی وو..
ما ته خندا راغلي وه خو ځان مي کنټرول کړی وو ذوالفقار خپل لاسونه و مینځل او تول دهلیز ته ننوتو، د ذوالقرنین کاکا دویم زوی فهیم هم راغلي وو ما او فهیم همزولي وو فرید د طاهر همزولی وو او فهیم زما، خو هیس ښه می نه د فهیم ښځه راتلل او نه هم د فرید ښځه! اصلاً ما د کاکا د کورني ښځه ښه نه راتلل!

د فهیم بیعقلي ته وګوری فرید به درته هوښیار د عالم ښکاره شی! د ډوډی خوړلو وروسته زه خپل کوټي ته ولاړم او هغوی دهلیز کي کیناستل مجلس کولو ته، ټولو اراده کړی وه چي د اختر مخکي دلته راشي ذوالفقار کورته او د قرباني کولو وروسته هر یو خپل برخه واخلي او خپل کورنو ته لاړشی! لکه چي بیا باید زه د زبیر پر کور میلمه شم، کاش نن مي پوښتنه کړی وایي زبیر کرایي کور ندی پیدا کړی؟ هسی هغه ورځ خو یي ویل د اختر مخه ده خالي کورونه نشته! په همدی فکرونو کي وم چي د کوټي دروازه بغیر د کوم اجازه غوښتلو خلاصه شوه..

او فهیم یو پتونس په لاس کوټی ته را داخل شو او اول ځل وو ما د هغه یو ځه با ادبانه لهجه وآوریدل چي ویي ویل: زموږ سره دی چای ونځکو نو ځکه ما درته دلته راوړو..
په حیرت مي وروکتل او کرار مي ویل: مننه په زحمت شوی.
فهیم- د څه زحمت ما ته هم په شور ماشور کي چای خوند نه راکوی، او ته مي هم دا ځو وخته نه وی لیدلی نو ځان سره مي وویل هم به چای وځکم هم به د کاکا زوی سره مي مجلس وکړم.!

په حیرت مي وروکتل خو څه مي و نه ویل چي هغه بیا وویل: یخ دی نه کیږی؟
په خلاص سترګو مي وروکتل د فهیم د خبرو ښځه داسي معلومیده لکه چي غواړی یو خبره وکړی خو ویل او نه ویلو کي دوه زړه دی! او اوس داسی بیځایه خبرو باندی د زبیر خبره زمینه سازی کوی! کرار مي وویل: زما خو یخ نه کیږی که ستا یخ کیږی کړکی به بنده کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فهیم- نه نه مشکل نشته ښنګه چې ته راحته یې...

دواړه خاموش شو نه هغه خبری کول نه هم ما! نه پوهیږم فهیم ولې نه تلې؟
فهیم- یو پوښتنه کوم رښتیا جواب راکړه سمده..؟
- هوم سمده مهربانی...
فهیم- هغه ته ... ته ...
- که کولې نشي مشکل نشته..
فهیم- نه وایم... هغه ته تراوسه په فرشتې مئین یې؟

که ووایم د حیرت ښخه مې شاخ وکړو دروغ به نه ویې! فکر مې کو شاید ما غلط آوریدلی اوسیږی خو د فهیم تروش تندی او منتظر نظر ډاډمن کړم چې د رښتیا هم هغه دغه پوښتنه کړی، نه پوهیدم څه ووایم؟ یعنی دا همغه فهیم دی د ذوالقرنین کاکا زوی او د فرشتې ورور؟ ښنګه ده زما ښخه دا پوښتنه وکړل؟
فهیم- و دی نه ویل؟
- ولای هغه وخت ماشوم وم د 19/18 کالو وم، بس یو خبره وه ماشومتوب وو، او هو ما هیڅکله بد نظر ورباندی نه درلود هغه وخت مې هم بابا مرکې ته دراستولې وو او قسم درته خورم چې ولاکه مې لیدلی لا وی خبری او نور کارونه خو ولری، او اوس هم فرشته ماته داسې ده لکه خپل خور....

فهیم- یعنی ته اوس وربانډی مئین نه یې؟
- نه و مې ویل هغه اوس ماته زما د خور پشان ده.

د دی ښخه مخکې چې فهیم کوم خبره وکړی یا کوم جواب راکړی، دروازه یو ځل بیا بغیر له کوم اجازه اخیستو خلاص شول او دا ځل ذوالفقار وو چې په قهرجن نظر او تروش تندی باندی کوتې ته را ننوتی د هغه په لیدو فهیم په ورختای خپل ځایه پورته شو او په همغه ورختا شانتې لهجه یې وویل: زه لاړشم اوس د ماذدیګر آذنونه کوی..(ذوالفقار د دراوزی د مخ ښخه لږ لری شو او فهیم هم بغیر له کوم اضافه خبری په تلوار باندی له کوتې ښخه ووت..

ذوالفقار- څه یی درته ویل چې دری ساعت ولاړ وو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه پوهیدم چې ذوالفقار ته دا خبره وکړم کنه؟ په کرار غږ مې ووېل: کوم خاص خبره نه وه ویل یې د کاکا د زوی سره مې غواړم چای وڅکم!
ذوالفقار- عجب ...! د خو دا حو وخته مخکې ستا سایه په ډېره ویشتل او اوس غواړی ستا سره چای وڅکی؟ خدای دی خیر راپیښ کړی..!
- آمین.

نه پوهیدم ولې فهیم داسې پوښتنه زما څخه وکړل؟ مغزو کې مې دوه شک او خبری گرځیدل اول دا چې دوی اراده ده فرشته ورکړی؟ او فهیم شاید مثلاً د انسانیت کار اخیستې وی ترڅو وګوری زما خو زړه ورپسی ندی او هسی نه د جنی ژوند خراب کړی؟ هسی دا خبره د ذوالقرنین کاکا په کورنی کې بیخی ناممکنه ماته ښکاریده دویم هم دا چې شاید انتظار یې درلود زه ووایم چې هو ورباندی مئین یم او دی زما سره جنګ شروع کړی! هسی دویم نظر مې راته صحیح معلومیدی د دوی څخه د انسانیت تمه درلود یعنی خپل پر عقل شک کول...

ماښام ډوډی خوړلو وروسته د لس بجو شاوخوا وه چې زه خپل کوټې ته راغلم او زما د راتلو سره سم ذوالفقار هم زما پسی راغې زه یې چې ولیدم نو په خندا یې ووېل: عه صبر ما نن څه اخیستې؟
- څه؟
ذوالفقار بغیر لدی چې جواب راکړی د کوټې څخه ووت! ماهم کړکی خلاصه کړه د غوږ غږونه او همچنان بوی تر دی ځای راتلې بیرته مې کړکی بنده کړه، عه لا اختر چیرته دی دوی تللط قربانی اخیستی تر هغه وخت چې ذبح کوی یې تول کور به یې په مرداری لړلې وی..! خپل ځای کې کیناستم او دیوال ته مې تکیه ووهل چې څو دقې وروسته ذوالفقار کوټې ته راننوت...

- دا څه دی ذوالفقار چې اخیستې ددې؟ چا خو ونه لیدلې د راوړلو وقت کې؟
ذوالفقار- نه بیغمه اوسیږه چا ونه لیدم، قاچاقې مې راوړی...
په خندا ورنږدی شوم او د قلیون پر کتلو شوم..
- دا خو د روښانه کولو لپاره زغال غواړی زما پر نظر؟ زغال د کوم ځای کوی؟
ذوالفقار- مورږ یې هم اوس نه وهو ما یواځې تاته خودو او ستا کوټې ته مې راوړی هلته وریندار کوټه پاک کوی ګوری بده ده..

(c) ketabton.com: The Digital Library



قليون مې د الماری په سر کيخودو يو دوه ټوکران مې هم وربانډی واچول مخکې مې هم کتابونه کيخودل چې سوک يې ونګوری، هسې دا زمونږ خپلوان داسې بد خلک دی که ويې ليدو سبا ټول کلي کې خبر اچوی چې ذوالفقار او طاهاا معتادان شوی!

- په څو دی واخيستې؟

ذوالفقار د چای اچولو وقت کې وويل: نه مې دی اخيستې يو ملګری راته راوړی..

- اخ ذوالفقار کاش ذوالقرنين کاکا دوې نه وايې نن ماښام مو روښانه کو چې څنګه دی؟

ذوالفقار- دومره آرمان مه کوه،که عمر وو يو بل وخت به يې روښانه کړو..

- اهوم..

مونږ دواړه ناست وو مجلس مو کوې چې د کوټې دروازه خلاصه شوه او فريد و فهيم دواړه راداخل شول.

فريد- اجازه شته کاکا مونږ هم راشو هغه کوټه کې بابا ويده شو او مونږ ته خوب نه راځې..!

ذوالفقار- راځې کوم مشکل نشته..

دواړه راغلل او يو بل ته څنګ په څنګ نالي بانډی کيناست، چې فريد وويل: ښه څه په اړه مو خبری کول؟

ذوالفقار- شخصي بحث وو...

د ذوالفقار و خبری ته مې خندا راغلل داسې وويل شخصي بحث وو چې ما لا فکر وکړو شايد مونږ کوم خاص بحث کوی!

فهيم- پريږده ذوالفقار دا شخصي بحثونه دی يو اجتماعي بحث وکړه چې مونږ هم پکې ګډون وکړو.

ذوالفقار- تا څه وويل؟

فهيم- څه مې وويل؟ بده خبره مې وکړل؟

ذوالفقار- يو ځل بيا يواځې يو ځل بيا.. ته بغير د کاکا ويلو ښخه ماته يواځې ذوالفقار ووايه بيا زه درته ښه يم چې ذوالفقار څه معنا..؟!

ذوالفقار لدی کار څخه يې سخت بد راتلل چې وراره ګان او خوريان يې بغير د ماما او کاکا د ويلو څخه خالي د ذوالفقار په نوم ورته غږ کړی! ځکه ذوالفقار عقيده درلود که کاکا

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته ونه وایي سبا ورځ زړه یې غواړی د دوې سره کینم او ټوکې ټکالې وکړم او زما احترام نه ساتې او زما سره فرې کیږی! او ذوالفقار د هر چا سره د فرې کیدو څخه بد راتلل، البته دا قانون کې زه شامل نه وم! نه پوهیږم ولې خو ما تل ذوالفقار ته په نوم بغیر د کاکا ویلو څخه غږ کو او هغه هم بده نه منل شاید پر دی دلیل چې هغه زما رضای وړور په حساب راځې؟!

یعنی د شیدو څکلو وړور، البته یو ځای مو ندی خوړلی؟ یعنی ما د ذوالفقار د مور یعنی خپل د انا شیدی خوړلی! که ذوالفقار می وړور شي، نو پلار می هم رضای وړور راځی؟؟؟ خندا می راغله نه پوهیږم څنګه چل شو؟ باید حتما د یو مولوی څخه پوښتنه وکړم عجب بد حال دی پخدای.

فهیم د ذوالفقار د غوسې پر لیدو په بنده بنده ژبه وویل: هغ.... هغه زما کوم بد مطلب نه وو ذوالفقار..... کاکا ...
ذوالفقار- بد وو که ښه وو بس دا زما اخیری خبره وه درته بل ځل نغواړم وآورم داسې ماته ناری وه وهي کنه خیر به دی نه وی وه هلک...
فرید- طاهاا ته ولې څه نه وایست؟ هغه هم تل تاسو په نوم ناری کوی بغیر د کاکا ویلو څخه...!

د فرید په خبره ما ورته یواځې وکتل ولې دا فرید دومره شیطان مناقق دی؟
ذوالفقار- بس زړه مې... پر تا مربوط ندی چې سوک ماته څه وایي!
فرید غوښتل کوم بله خبره هم وکړی چې ذوالفقار په تروش تندی وویل: ګوره زه عصاب مصاب نلرم هسی هم د نن غرمي څخه مې تاته عصاب خراب دی که بیځایه خبره دی وکړل د هډکو مات کیدل دی خپل ګناه او پر غاړه..

د ذوالفقار پداسی ګواښ کولو فرید خو لری زه لا وډارشوم، ځکه ذوالفقار چې کومه خبره وکړی نو د ربښتیا یې عملي کوی، فرید او فهیم دواړو خپل خولې بندی و نیول،
نیم ساعت به ناست شاید فرید او فهیم کوټه کې ناست وه او زیاتر خبری ما او ذوالفقار کول هغوې زموږ بحث کې لا ځان نه اچوی د ویری څخه! د نیم ساعت وروسته یوولس بجو شاوخوا مو د ویده کیدلو اراده وکړل، فهیم او فرید هم زما کوټه کې غوښتل ویده شي ما هم څه ونه ویل مجبوری هم بد شي وی هی هی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما خپل ځای همغه د کوټې کونج د کړکي خواته واچوی ذوالفقار هم پر یو څه فاصله زما چپ اړخ ته پریوت فهیم او فرید هم د کوټې مینځ کې و څملیدل، برقونه مو خاموش کړل همغه اول لس دقو کې د ځینې کسانو د ویده کیدو آوازونه پورته شول، ماته خوب نه راتلو کم او زیات یو ساعت اړخ په اړخ شوم ترڅو ویده شوم، د بیحده تږی کیدو په احساس له خوبه پاسیدم داسي مي احساس کوی چې د ډیر تږی څخه مي ستوني موښتي، د پاسیدو توان مي هم نه درلود خو مجبور د ډیر تږی څخه پاسیدم..

کرار کرار د فهیم او فرید لمینځ څخه تیر شوم او د کوټې دروازی خواته روان شوم، د کور برقونه خاموش وه او تکه توره شپه وه د دهلیز برق مي روښانه کړو ترڅو لږ ړنا وکړی، خاموشه خاموشی وه، کله ناکله د غوي غږ به راتلو نور خیرو خیرت وو، آشپزخانې ته ولاړم یو پیاله اوبه مي وڅکل او یو پیاله مي هم راوخیستل ترڅو که بیا تږی شوم نور دومره ځانته زحمت ورنکړم، د دهلیز برق مي خاموش کړو او خپل کوټې ته ننوتلم د فرید او فهیم د مینځ څخه په کراره تیر شوم پیاله په لاس خپل ځای خوا ته نږدی شوم چې خپل ځای کې خپل پر لیدو مې د ویری او وحشت څخه پیاله له لاسه و غورځیده...

او همغه دقه کي په وحشت له خوب پاسیدم! بدن مي د زیات ویری څخه پر خولو لوند خیشت وو، ساه ساه مي وهل د زړه درزا مي دومره زیاته وه چې ما خپل درب درب یې آوریدو، نه پوهیدم چې دا نو څنګه خوب وو؟ ما داسي احساس کوی لکه چې د ربښتیا دی زه پاسیدلې اوسیږم او همغه کارونه مي کړی اوسیږی؟ خو زما شتون خپل بستره کړی زما خبری رد کول، څو دقي په ویری او وحشت ناست وم، کله چې یو څه زړه مي آرام شو نو غوښتل مي چې بیرته ویده شم چې لاس مي خپل څنګ کې پر یو شي ولګید!

ور ومې چې کتل دا ځل ویری څخه مي فشار یو دم صفر شو، فکر مي کو بدن مي د زیات ویری څخه فلج شو هیس حرکت مي نشو کولې او یواځې دوه سترګې مي همغه پیالې ته نیولې وه! دا همغه پیاله وه چې ما په خوب کې ځانته اوبه پکې راوړل او زه سل فیصده ډاډ من وم چې دا پیاله دشپې د ځایونو اچولو وخت کې دلته نه وه! نو اوس څنګه دلته راغلل؟ یعنی زه د ربښتیا پاسیدلی وم او خوب مي نه لیدو؟ که د ربښتیا پاسیدلي اوسیږم نو زما ځای کې ویده سوک وو؟ او زه ولي ناساپه راویښ شوم لخوبه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو حس مې راته ویل چې هغه ستا روح وه چې ستا له بدن څخه جلا شوی وه، او هغه کارونه یې وکړل؟ خو بیا مې ځان سره ویل روح خو کوم شې ته بنور نشی ورکولی! نو څنګه یې پیاله اوبه راوړل؟ د ډیر فکرونو او ویری څخه نږدی وو زاره مې چودلې وایې، په همغه ډار او ویری تر سهار تر آذانه خپل ځای کې ویښ ناست وم.

سهار چې له خوبه پاسیدم کوم خاص کار مې نه درلود نه پوهنتون وو او نه هم کوم بل شئ خو غوښتل مې د زبیر سره خبری وکړم، دا شانتې نور ګوزاره نه کیږی، ذوالفقار ته خو خبره نشم کولې بس لیونې شئ یوه خبره ورته وکړم خبره جنګ او مرګ ته باسې هغه هم ملامت ندی هغه سره هم کومه چاره نشته! کالې مې بدل کړل او بغیر لدی چې چاته کوم څه ووایم له کوره ووتم، زبیر ته مې زنګ ووهې او ورته مې وویل چې د هغوې د کور څنګ کې چې کوم پارک دی هلته دی راشې، زما د رسیدلو سره سم زبیر هم راغې.

زبیر- سلام بنه یې؟
- علیک سلام نه هیس بنه نه یم..
زبیر- ولې څه شوی؟
- یو چاره راته پیدا کړه زبیر کنه لیونې کیږم..
زبیر په ورختایې وویل: سمه خبره وکړه زما خو دی زاره راوچول.

زبیر ته مې د پرون شپې ټوله قیصه وکړل.
- د شپې څخه مې تراوسه یو زر فکره خو کړی نور مې مغزه کار نکوی، نه پوهیږم څه وکړم؟
زبیر- اوس که ووایم راځه مولا ته بیا غوسه کیږی، خو ستا کار د مولوی او قاریارنو څخه بغیر بل سوک نشې حل کولې.
- دوه دانو ته ولاړو که یاد دی وی؟
زبیر- زه راځه یو دانه بل ته هم لاړشو، خدای مهربان دی دا مولا به د هغه نورو څخه سم وی؟
- ته کوم بل مولا پیژنې؟

زبیر- همدغه د مسجد مولا ته به لاړشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- کوم یو؟
زبیر- همدغه د عبدالرحمان بابا د مسجد مولا، خلک يې ډېر تعریف کوی وايي ډېر دینداره مولا دی.
- نه پوهیږم یو دم هک حیران یم چې څه وکړم؟
زبیر- راځه یو ځل همدغه مولا ته به هم لاړشو دوه قدمه لاره ده..

د زبیر سره د هغوی د کور څنګ ته چې کوم جومات وو په نوم د "عبدالرحمان بابا جامع جومات" هلته لاړو، د غرمې وقت وو خلکو اودسونه کول موږ هم اودس وکړو او د مولا شاته په دویم صف کې په جماعت و درېدو د لمانځه خلاصیدو وروسته خلک کرار کرار د مسجد څخه پر روانیدو شول، زبیر مخکې لاړو او د یو پاخه عمر بوډا چې نوراني څهره او سپین ګیره درلود په خبرو شو او زما خواته يې هم د خبرو په حال اشاره کول، د خبرو خلاصیدو وروسته همغه د پاخه عمر سړی چې ماته مولا معلومیدی د ممبر څنګ ته کیناست او زبیر هم زما خواته اشاره وکړل توخو ورمخکې شم..

زه هم په زړه نازړه انداز ورنږدې شوم او سلام مې واچوی.
مولوی- علیک سلام بنه یې بچیه؟ څه مشکل لری؟
زبیر- ومې ویل کنه مولوی صیب دا څو وخته کیږی داسې عجیب غریب کارونه ورباندې کیږی څو مولیانو ته مو وړی خو یو هم سم صحیح جواب ندی راکړی او نه يې هم دده مشکل حل کړی..
مولوی- زه اصل کې د قصیدو ویلو مولا نه یم او نه مې هم عمر کې چاته تعویذ لیکلی، پیری هم نه حاضر کوم ځکه زما کار د تبلیغ او مونځ دی او زما علم تر هغه حده ندی خو ته لږ راته قیصه وکړه څنګه دی ویره ويې؟ کوم وخت دی زیات پعذاب کوی؟

مولوی ته مې توله قیصه وکړل حتا د پاچا او د هغه لخوا د لیکل شوی یهودی جادو په اړه زما د خبرو خلاصیدو وروسته مولوی په افسوس سر وخوځه ويې او ويې ویل: زه خپل تعویذات نشم کولې ځکه اجازه يې نلرم! خو د جادو او تعویذاتو په اړه معلومات زیات لرم، خدای دی داسې بی ایمان خلک لکه دا پاچا او د هغه ملګری خپل پر خدای هلاک او برباد کړی د همدغه خلکو له لاسه د اسلام نوم داسې بد شوی، داسې کسانو ته مولا او پاچا مه وایست بلکه ورته کوټګر او جادوګران ووایست نه عالمان.. ستا مشکل دومره لوی نه وو خو ده درته غټ کړی، یهودی جادو اصل کې د مرګ جادو دی...

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مولا پدی خبره زما رنګ یو دم د ویری څخه وپریدی..
زبیر- د.... د څه جادو دی؟
مولوی- دا جادو د مرګ جادو دی دا هغه کسان چې یو د بل سره دښمني ولری نو دا جادو کوی ترڅو مقابل نفر مړ کړی.
زبیر- چاره لری؟
مولوی په خندا وویل: ولې نلری؟ ها البته زه یې نشم کولې خو داسې تکړه مولوی درته معرفی کوم چې دا ټول پیریان درته په خلطه کې واچوی،او دهغهوی د شر څخه مو راحته کړی..
زبیر - رښتیا وایست؟

مولوی- هو بچیه انسانان اشرف المخلوقات دی، منم چې پیریان زیات قدرتونه لری خو بیا هم انسان پر هغوی سر دی...

مولوی په خبرو دومره امید وار شوی وم چې حد نه درلود، هغه موږ ته د هغه مولوی آدرس راکړو زبیر غوښتل همغه دقه کې لاړشو زما هم زړه همدغه ویل خو هغه زیات لری وو تقریبا یو دوه ساعت لاره وه د هغه تر کوره اوس هم غرمه وخت وو هلته تلل بیرته راتلل ماخوستن کیدو..
زبیر- طاهاا زما خبره ومنه راځه همدا اوس لاړشو او دا خبره همدلته خلاصه کړو.
- زما زړه هم غواړی خو ذوالفقار باید و اوسیږی د هغه بیخبره دومره لری تلل بنه ندی.

زبیر- زه نه پوهیږم ته ولی دومره د ذوالفقار څخه ویریږی؟
- حق لری داسی خبره وکړی، تا تراوسه د ذوالفقار قهر او غوسه نده لیدلې ذوالفقار چې کله په قهر شی سترګی دوه کاسی وینی شی، هیس څوک نه پیژنی، لاس یی هم دومره دروند دی چې یو بوکس ووهی موږ دواړه جوړه خمیره کوی...
زبیر- که داسی خبره ده نو ډیر صبر یی کړی چې زه یی نه یم وهلی؟
- هو دا خو ده.. که رښتیاووایم کله ناکله زما زړه لاغواړی چې تا مړ کړم پداسی حال کی چې بهترینه ملګری می هم یی.
زبیر- نه... دروغ وایی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- پخدای.کله ناکله بیحده د انسان عصاب خراب کوی.
زبیر- یو خبره کوم ربنتیا ووایه، ذوالفقار تراوسه ته وهلی یی؟
- ته څه فکر کوی؟
زبیر- یعنی وهلی یی؟
- نه زه یی نه یم وهلی، خو څو ځله د وهلو تر حده رسیدلی،خو اخیری ثانی که پښیمانه شوی. چی د خدای څخه شکر ګذاره یم پدی موضوع کی. څو کاله مخکی په یو خبره باندی د فهیم د فرید د ورور لاس یی مات کړو! موږ ټول په حیرت کی وو اصلا فکر مو نه کوی چی وغواړی وار وکړی...!

زبیر-دا خبری دی زما په یاد کی واوسیږی چی نور ډیر بیځایه ټوکی ورسره ونکړم.
- ته بیغمه اوسیږه هر څومره چی ورسره صمیمی واوسیږی د وهلو شانسونه دی هم همغه اندازه کمیږی.
زبیر- اوه څومره فلسیوفانه وینا.

- بنه نو زه به لاړشم کورته ذوالفقار ته به خبره ورکړم ګورم څه وایې؟
زبیر- سمده څه ووایم ورځه هر خبره چی وشوه بیا ماته ووایه.

- سمده..
زبیر- ربنتیا طاها.
- ها؟
زبیر- هسی دا څو وخته چی زه ستا سره ګرځم یو شئ ته می فکر شوی؟
- څه ته؟
زبیر - دا چی مونځ نکوی.
- نه چی تا قبله شوړه ولی چی اوس ماته وایی؟!
زبیر - زه نه وایم چی زه داسی عابد، زاهد او نماز ګزاره هلک یم خو بیا هم که نور نه ویی پنځه وختو کی دوه دری راګیر کوم. خو ما ته بیخی په لمانځه نه یی لیدلی؟

یو څو دقی چوپ شوم زبیر ربنتیا ویل څه نا څه د دری کالو وروسته مې نن یو مونځ وکړو، ما لمونځ ته د بابا د جبر په نظر کتل! هغه به تل په کنځل کولو او وهلو باندی پر ما مونځ کوی نو ځکه د هغه د کور څخه د راتلو وروسته مې د بابا له ضده مونځ نکوی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ښنګه دی نن زما مونځ کول او نه کولو ته فکر شو؟
زبیر- هسی فکر مي شو ما ویل داسې نه چې دا پیریان ستا د مونځ نه کولو له وجهې ستا پسی دی؟
- زما مونځ کول او نه کول څه ربط په پیریانو لری؟
زبیر- ما آوریدلی ځینی پیریان ددی لپاره انسان ته تکلیف رسه ویې چې هغه د خدای د رحمت ښخه لری شوی اوسیږی، او دا چې پر تا باندی دومره زوره ور دی دلیل یې شاید ستا بې نمازی و اوسیږی!؟
- هسی اپلاتی مه وایه.

د زبیر سره مي خدای پاماني وکړل او د کور خوا ته روان شوم، خو دګ زبیر خبرو مي زړه کې شک او تردید واچوی! ربښتیا وایې ما هم داسې د بی نمازی په اړه ډیر خبری آوریدلی وه! امکان یې درلود، اوس چې فکر کوم زه زیات بیعقل یم! زما مونځ کول او نه کول د بابا سره څه تړاو لری؟ منم چې هغه زما زړه د لمانځه کولو ښخه تور کړو خو بیا هم مونځ زه د خدای لپاره کوم نه د بابا لپاره! کور ته تر رسیدلو کلکه اراده مې وکړل چې نور به مونځونه مي پر وخت کوم..

د کور دروازی خلاصیدو مخکې مي د جنرال لور د یو میاشت وروسته ولیده زما پر لیدو هغه په تلوار خپل کور ته ننوتل، د هغې پدی کار مي خندا راغله خو څه مې ونه ویل او کورته ننوتلم بابا لګیا وو غوږ ته یې واښه اچول ذوالقرنین کاکا یې هم ښنګ ته ولاړ وو د کور ښخه ډیر غږونه راتلل او زیات بوټونه او چپلکې هم د دهلیز مخکې وه! بیا ښوک راغلی؟ نه پوهیدم دهلیز ته ننوځم یا نه؟ نه مې جرعت د تلو درلود او نه هم د پوښتنی چې د بابا یا هم ذوالقرنین کاکا ښخه پوښتنه وکړم چې سوک راغلې؟

په همدی فکرونو کې وم چې د دهلیز ښخه مروه راوتلل او زما په لیدو یې په لوړ غږ وویل: ادی راشه طاها لالا راغې.
د موره په غږ بابا او ذوالقرنین کاکا زما خواته راوکتل خو ما په خوشحالی مروه د لاس ښخه ونیول او تندی مي ورنه ښکل کړو، دا زما کوچنې خور وه دومره هوښیاره او مینه ناکه وه چې حد نه درلود، ما د موره سره خبری کول چې ادی په ډک سترګو د اوښکو د دهلیز دروازی مخکې و دریده یو کال کیده چې نه و مې لیدلی! یو کال کې زما په نظر

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډۍ شوی وه؟ په تور ویښتیانو کې سپین زیات شوی وه، زه پدې احساسی صحنو کې نه پوهیږم څه وکړم؟ او دومره شرمیږم چې زړه مې غواړی د هغه ځای څخه الفرار وکړم...

د کاکا ښځه او فرښته هم راووتل او ټول ما او ادی ته په کتلو شوه! داسې لګه چې زه کوم د لرې ځای څخه د کلو وروسته راغلې یم خپل د مور لیدلو ته! ددی لپاره چې ژر دا نظرونه خپل لځان څخه لرې کړم مخکې ورغلم او د ادی لاس مې ښکل کړو هغې هم په ژړا زما سر ښکل کړو! ادی هیڅکله زما مخ نه ښکل کوی تل یې زما د سر ویښتیان ښکل کول نه پوهیږم ولې؟ پداسې حال کې چې ما لیدلی وه د طاهر مخ یې ښکل کوی! غوښتل مې ادی ته ووایم چې مه ژاړه چې د مروه چیغه پورته شوه..

په تلوار مې وروکتل چې غوې مې ولیدو چې رسې د بابا د لاس څخه خوشې شوی وه او غوې په پوره قدرت او تلوار د مروه خوا ته را زغاست، اولې فکر مې چې ذهن ته راغلو همغه کار مې وکړو نه پوهیږم دا دومره زړه او جرعت ما د کوم خوا کړو خو د غوې مخکې مې ځان واچوی او د هغه شاخ(ښکر) مې کلک ونیو! وایې د پیشو لیکې مه نیسې او د غوې ښکر ځکه هغه وخت دې چې دغه حیوانات وحشې کیږی! او ما هم د ویری او تلوار څخه د غویې هغه ښکر نیولې وو! بابا او ذوالقرنین کاکا په تلوار ځانونه راورسه ول خو غوې زوورنه وهل...

نه پوهیږم هغه غوې چې بابا،ذوالقرنین کاکا، فرید،فهیم او حتا ذوالفقار په هغه پهلوانې په یواځې ځان نشو نیولې ما نیولې وو! خپل زور ته حیران وم؟! داسې احساس مې کوی چې یو څل میلې واټ انرژی مې بدن کې تزریق شوی وی او هغه غوې راته هیس نه ښکاره کیدو دومره کلک مې د غوې ښکر نیولې وو چې وویریدم ښکر یې مات نشې؟ بابا او ذوالقرنین کاکا غوې د رسې څخه ونیو او په کش کولو یې زما څخه لرې کړو او ویې تړی، ټول ښځو چیغې بوغې وهل داسې چې د بابا غږ پورته شو د بابا په تنده لهجه ټول خاموش شول...

ټول دهلیز کې ناست وو هیس ښه احساس مې نه درلود لدی چې د دومره خلکو مینځ کې اوسیږم خو چاره نه وه، د نیم ساعت او ګیلو وروسته ادی راته د کور احوال ویل، چې طیبه څنګه وطاهر امینه او ټولو احوال یې راته وویل او ما هم د سر په خوځه ولو د ادی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې تایید کول، د ماښام په آذان ذوالفقار کورته راغي او کله چې خبر شو

غوږ خوشې شوی وو او ما یط مخیه نیولې وه! اول لس دقې خو یې زما څخه پوښتنه کول چې ښه یې خوږ خو نشوی؟ لس دقیقې وروسته چې ډاډمن شو زه ښه یم نو په مشکوکه انداز یې وویل:

ذوالفقار- هغه غوږ ما په یواځې ځان نشو نیولې..!
- مطلب؟
ذوالفقار- مطلب دا چې ته زما څخه خو زیات زوره ور نه یې بیا دې څنګه ونیو؟
- فکر مې کو هغه لحظه کې بیحده انرژی مې پیدا کړی وه او هغه غوږ راته هیس نه ښکاره کیدی!
ذوالفقار- عجیبه ده...!
- څه؟
ذوالفقار- دا چې یو ډله پیریان غواړی تا مړ کړی او بل ډله درسره مرسته کوی؟!
- رښتیا ما او زبیر مولوی پیدا کړو..!

ذوالفقار- څنګه مولوی؟
توله قیصه مې ذوالفقار ته وکړل هغه هم خوشحاله شو او ویې ویل: کاش غرمه دې ما ته زنګ وهلې وایې زه راتلم بیا دری سره تلو همغه مولوی ته..
- اوس نه ځو؟
ذوالفقار- اوس نیمه شپه ده..
- لا اوه بجې دی..
ذوالفقار- هغه ځای زیات لری دی دوه ساعت ددی خوا لاره حساب کړه یو ساعت به هم شاید هلته تیر شي دوه ساعت هم د بیرته راتګ حساب کړه، نیمه شپه کیږی هسې دا لاری هم چندان امنیت نلری..

-سمده خو زما زړه غوښت همدا اوس لاړشو، هر څومره وخت تیر کیږی هغومره دا ستونزه زیات کیږی..
ذوالفقار غوښتل یو څه ووایې چې د کوټې دروازه خلاصه شوه او مروه کرار وویل: کاکا بابا وایې یو ځل راشه..

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذوالفقار- صحيح دی درځم..

ذوالفقار د کوټې څخه ووت او زه يواځې پاتې شوم، زړه مې غوښت ژر تر ژره هغه مولوی ته لاړشو! اولې مولوی به وو چې ما يې دومره ليدلو ته تلوسه وه! نالې باندی پريوتم او د څو ساعتو مخکې کار ته مې فکر شو د ذوالفقار خبره يو دم صحيح وه ما هغه غوږ يواځې ځان نشو نيولې بلکې يو چا راسره مرسته وکړل خو ولې؟ ولې يو ډله پيريان غواړی ما مړ کړی او بل ډله غواړی ما و ژغوری؟ په همدی فکرونو کې مې زړه ډوب شوی وو او ويده شوم..

د خوب حال کې مې احساس کړو چې د کوټې هوا يخه شوه! بيحده زيات يخه داسې چې ځان مې راونغاړی ترڅو لږ ځان ګرم کړم، خو د باد سر سر شمال حيران کړم! زما کوټې ته هيس کله داسې باد غږ نه راتلې! سترګې مې چې خلاصې کړی د زيات حيرت او وحشت څخه مې ساه په سينه کې بنده شوه، زه يو دښت بيابان کې وم! فکر مې وکو شايد خوب وينم! نو ځکه مې خپل مخ ته سپيړه ورکړه خو نه زه د رښتيا هم هغه دښت بيابان کې وم! په وحشت او ويری د ځمکې څخه پاسيدم، شاوخوا ته مې وکتل تر لری لری پوری د خدای وچه دښته وه او نور هيس شې نه ښکاره کيدی...!

د زيات وحشت او ويری څخه ژړا ته نږدی شوی وم چې د لری څخه مې يو ډله خلک وليدل چې زما خواته راروان دی! روان نه بلکې ووايم به هوا وه! پښې پر ځمکه نه لګيدل د هغوی په ليدو د زيات وحشت څخه شاته شاته په منډه شوم، لوڅې پښې په هغه دښت کې زغاستم او هغوی هم همغسې راپسې وه، خپل د پښو درد ته مې هيس فکر نه وو چې اغزی پکی تلل او وينه يې کول يواځې زغاستم، د پښی نوک مې په يو ډبره ولګيدی او د درد څخه پر ځمکه را ووليدم..

زما د وليدلو سره هغه کسان چې وحشتناک څهری درلود او د تولو مخونه د ګچ پشان تک سپين وه را نږدی شول، د ډير بې وسې او بيچاره ګې څخه مې ژړا ته شروع ورکړل او غوښتل مې لځايه پاسيږم او وتختم چې هغه کسان د مخ ته راتلو لځايه زما څخه په لری کيدو شول! دومره زما څخه لری شوه چې ما يو تور دود تر سترګو شو چې زما شاوخوا يې يو دايره او حلقه جوړه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر ځومره چې ورته مې کتل نه پوهیدم چې دا تور نو څه دی؟ یواځې تور دود یا سایه راته معلومیده چې زما او دهغه نور کسانو په مینځ کی د یو مرز یا باډر په شان حایل جوړ کړی وو او هغوی زما څخه لرې ساتل! د شاوخوا څخه مې د قدمونو کلک غږونه آوریدل داسی لکه چې یو فوج راروان دی؟ څو ثانې وروسته یو آشنا او په عین حال کی ناشنا غږ می تر غوږ شو چې په لوړ غږ یې وویل: لاره پریږدی، ترڅو طاها دیخوا راشي..

د هغه نفر په غږ باندی هغه توره حلقه چې د دود یا د سایه څخه جوړه شوی وه، له مینځه لاړه او زه د هغه غږ طرف ته روانشوم. د هغه کس پرلیدو نه پوهیږم څو احساسات مې درلود؟ هم خوشحال وم هم حیران وم هم ویریدلی وم او هم ګنګس وم! د حیرت څخه په ډک غږ مې یواځې دوه لفظ وویل: بابا!!!؟
بابا بغیر لدی چې په څهره کی کوم بدلون راشی ماته په ځیر ځیر راوکتل، د بابا شاته بیحده زیات خلک ولاړ وه! د هغه کسانو پر لیدو په وحشت مې د بابا خواته وکتل خو هغه بغیر لدی چې کومه خبره ماته وکړی،د هغه پیریانو خوا ته غوښتل لاړشی چې ما یې لاس ونیو ترڅو هغه پیریانو خوا ته لاړ نشي او هغوي کومه بلا یې پر سر رانوړی!
همدا چې د بابا اوږه مې ونیول یو خبری ته مې فکر شو! د هغه اوږه بیحد او بی اندازی نرم او لطیفه وه! بابا خپل اوږه زما د لاس څخه ختا کړل او د هغه پیریانو چې زما د وژولو په نیت راغلی وه لاړی او خبری شروع کړل!؟

هغه هم په پښتو نه!؟ په عربی نور نو د ډیر حیرت څخه هک پک هملته کیناستم. دا څنګه چل دی؟ بابا څو دقی د هغوی سره په عربی باندی خبری وکړل او اخیره کی هغه کسان پر شاه شول او بابا زما خواته راغی او په لاس باندی اشاره وکړل چې هغه نور کسان چې د بابا سره راغلی وه هغوی هم په یو دقه کی لکه دود غوندی غیب شول! فکر می کوی خوب وینم؟ یا هم ضرور لیونی شوی یم او خوب کې یم او دا ټول شیان داسی سم صحیح احساس کوم؟ بابا په دوه پښو ما ته کیناستی او په قراره لهجه چی ما په ټول عمر ورڅخه نه وه آوریدلی وویل: ستا ځای امن دی، مه ویریږه.

حیران وم چی څنګه امکان لری دا ټول ځیزونه؟ خو ددی ټولو څخه حیرت کونکی خبره راته د بابا شتون هغه هم پدی حال او پدی ځای کی او پداسی نرمو خبرو کی وو؟
- بابا تاسو دلته څه کول؟
بابا- زه ستا پلار نه یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- څه؟
فکر مې کوو د ډیر ویرې څخه مې فشار ښکته شوی وو!؟ چې داسې کړپ کړپ رېږدیدم.
بابا- عه ماشومه ته څومره ډارن یې! زه ستا پلار نه یم زه اصل کې یو مسلمان پیرې یم پدې شکل راغلم چې ته ونه ویرېږې.

د پیرې په ویلو باندې شاید هغه فکر کوو چې زه به یوڅه آرام شم خو زه د ډیر حیرت او ویرې څخه ځای پر ځای په هغه دښت بیابان کې پریوتم. ددې څخه مخکې چې د هوښ څخه لاړشم د هغه خبره مې واوریده چې ویې ویل: لکه چې د پیرې د لفظ سره کوم ستونزه لرې؟

د موبایل په غږ د خوبه پاسیدم خپل په کوټه کې وم! په حیرانتیا مې شاوخوا وکتل او کله چې ډاډمن شوم چې د ربښتیا خپل په کوټه کې یم، د خوشحالۍ څخه مې غوښتل چغې کړم هغه ټول یان یو وحشتناکه او ډارونکې خوب وو؟ او ټول هسې خیال وو لا مې خپل خوشحالۍ نه وه پوره کړې چې خپل د خاورې لړلو کالو او د پښو درد باندې هک حیران شوم! که خوب وو بیا ولې کالې مې په خاورو دي؟ او پښې مې ولې درد کوي؟ په تلوار مې خپل پښو ته وکتل او د ربښتیا مې د پښې یو نوک په وینو و او خوږ شوی وو او نور دواړه د اغزې د ویستلو ټپ ورباندې ښکاره کیدې!

یعنې دا ټول څیزونه چې ما ولیدل ربښتیا وه؟ پدې فکر بدن کې مې لړزه وولویده او ډنګ ډنګ په رېږدیدو شوم.

شاوخوا مې وکتل هیس سوک کوټه کې نه وه او داسې معلومیده لکه چې تراوسه د شپې سر دی او ذوالفقار و ذوالقرنین کاکا دوی مجلس کوي! کوټه کې د یواځې اوسیدو څخه ډاریدم نو ځکه لځایه پاسیدم ترڅو د کوټې څخه ووځم لا یو قدم مې د دروازه خواته نه وو اخیستې چې د کوټې د کړکۍ ناساپه بند کیدل مې ترغوږ شول! د کړکۍ په خرپ بیحده و ډارشوم.اولی خبره مې چې مغزو کې وګرځیده هغه دا وه چې ددې لعنتې کوټې څخه ځان وباسم، لاس مې دروازې ته رسیدلې نه وو چې د کوټې برق خاموش شو. تکه توره شپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوه! ویره می نور هم زیات شول.

احساس می کوی یو نفر زما شاته دی! حتا د هغه د نفس اخیستو آواز می هم غوږ ته راتلی غوښتل می ذوالفقار ته غږ کړم چی د شالخوا یو چا لاس راته په خوله کیخود، او بل لاس یی پر ما راچاپیر کړو، دومره کلک یی نیولی وم چی هیس می ځان ته حرکت نشو ورکولی. هیس کار می نشو کولی اوښکی می سترګو ته راغلی وه زه یی د کوټي کونج او د ټولو څخه تیاری خواته کش کړم. هغه کس می خپل شاته احساس کوی! ړخو هیس کار می نشو کولی، هغه کس خپل خوله زما غوږ ته نږدی کړه او په یو ویره ونکی لهجه چی زما ټول بدن یي ولرزه ویی زما د غوږ اندی ته وویل: ته مړ کیږی...

د هغه پدی خبره نږدی وو د ویری او وحشت څخه مي زاره وچوی، چي د ذوالفقار غږ مي واوریدی چي غوښتل یې دروازه خلاصه کړی؟ لکه چي د برقونو په ناساپه تلو ذوالفقار ماته فکر شوی وو..
ذوالفقار- طاها دروازه دی ولې قلفه کړی خلاصه کړه..
غوښتل مي هغه ته ناری کړم خو هغه نفر زما خوله کلک نیولې وه، د ذوالفقار د غږ په آوریدو لکه چي غوسه ورغله او زما سر یې د دیوال څخه وهل شروع کړل، دومره کلک کلک یي وهي چي څو ثانیو کي مي احساس وکړو د سر مغزه مي په راوتو دی، همغه اول ټک باندی د ګنګس کیدو احساس مي وکړو او دی نور ټکو په درد بیخی پوی لا نشوم شاید یو لس پنځلس ځل یي زما سر کلک په دیوال وهلې وو..

چي دروازه خلاصه شوه، د ذوالفقار غږ مي لږ لږ آوریدی چي په ورختای ماته چغي وهل، خو ما هیس حرکت نشو کولې ذوالفقار زما سر خپل په پښو کیخودلې وو، او ځانته یي بد رد ویل چي زه یي ولې یواځې کوټه کي پریخودلې وم! د ادی فرشته بابا ذوالقرنین کاکا خلاصه چي د ټولو چغو بوغ مي د څو ثانیو لپاره واوریدی او بیا کامل خاموش او تاریکي وه ....

***

په همغه دښت بیابان کي وم! خو پدی توپیر چي اوس شاوخوا بیحده درختي وه هوا تکه توره شپه وه پ ویری او وحشت په منډو شوم، او جالبه دا وه چي د برق پشان تیز وم! یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقه کې د هغه دبنتي ښخه يو باغ خواته لاړم! په حيرت مي شاوخوا کتل ډير خلک هلته گرځيدل راګرځيدل، لا يو ګام مې په هغه باغ کې نه وو اخيستجتي چې دا ځل د غره په څوکه ولاړ وم، او نږدې وو چې وغورځيږم چې يو چا شاخواته کش کړم، مخ چې ورته
#شهاب🌙 :
واړوی يو ناشناس نفر وو! توری سترګي چې يو يو طلای کربنه پکی وه! بيحده عجيبه وه! توره ګيره چې دانه مانه سپين ويښتي پکي ښکاريدی او بيحده تک سپين مخ! زما په ليدو يې وخندل او سلام يې کړو، ډير ژر د غر د څوکې ښخه يو ښنه چمن او ښايسته ځای ته راغلو..

د هغه په غږ مي وپيژندو همغه کس وو چې د بابا په څهرې راغلي و، او همغه کس وو چې هغه شپه يې زما په سترګو لاس کيخودلي وو او پر ما يې دم کړی وو ترڅو د بدن خاربنت مي لمينځه لاړشی! په حيرت مي وويل: ته همغه پيری يې؟
په خندا يې وويل: هو زه همغه پيری يم چې ستا ساتنه مي کول، زما نوم شمويل دی زه يو مسلمان پيری يم..
- ته ولې زما ښخه ساتنه کوی؟ او ولې يو ډله پيريان غواړی ما مړ کړی؟
شمويل- ستا ښخه ساتنه کول يو دليل لری ماته، او هو يو ډله نه پيريان نه بلکې 9 قبيلې د کافر پيران غواړی تا مړ کړی..

- ولې په څه دليل ما خو کوم کار ندی کړی...؟
شمويل- ته خبر نه يې خو تا ډير لوی کار کړی!
- څه کار مې کړی؟
شمويل- تا په غلطی کې د *** قبيلې د مشر زوی مړ کړی.
په حيرت او وحشت مي وويل: نه ما هيس سوک ندی مړی کړی..
شمويل- و مې ويل کنه تا په غلطی کې مړ کړی، داسې چې ته خپل هم نه يې خبر پيريان ته نسې ليدلی نو ځکه فکر دی ندی شوی..

په وحشت او ويری مې وويل: زه نه پوهيږم چې ښنګه مي دسی کار کړی؟ اوس به څه کيږی؟
شمويل- د هغه قبيلې مشر د اته نور کافر قبيلو سره بيعت کړی چې خپل د زوی غچ او بدله به ستا ښخه اخلي او مړ کوی به دی، ما زيات کوښښ وکړو چې د دی کار ښخه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



منع کړم خو هغه بیحده خپل په اراده کې کلک دی..
- کامیاب هم شول لکه چې؟ زه چیرته یم اوس؟
شمویل- ته مړ نه یې ته د اوس لپاره بې هوښ یې..

- ته ولې زما سره مرسته کوی؟
یو څو دقیقې خاموش شو بیا یې کرار وویل: زما زوی یو انسان په غلطۍ کې مړ کړو د هغه مرګ زه دومره و درده ولم چې غوښتل مې تول انسانان مړه کړم، خو ما د همغه انسانانو په بدله کې خپل زوی پیدا کړو..
- انسانانو مینځ کې څنګه؟
شمویل - مطلب خپل د زوی په شکل،شبهات او اخلاقو مې یو انسان پیدا کړو.
په حیرت مې وویل- ما یاده وی؟
شمویل- هو ته. نو ځکه درسره مرسته کوم چې سوک درته نقصان و نه رسه وی..

- که زما ساتنه دی کول نو ولې دی پریخودل هغوی ما ته دومره تکلیف را ورسه وی؟
شمویل- ما خپل ټول کوښښ وکړو خو لیاده مه باسه زه یواځې وم او هغوی نهه قبیلې وی..
- اوس چاره څه ده؟ یعنې هغوی اخیر هم ما مړ کوی؟
شمویل- که درته ووایم نه زه هغوی ته دا اجازه نه ورکوم نو دروغ او هسې خبره به وی، ځکه زه تر یو حده تاته نږدی راتلی شم او ستا څخه ساتنه کولی شم، ما خپل تول کوښښ پدی څو وقته کې وکړو چې ستا څخه ساتنه وکړم حتا کله ناکله چې خپل مې نشو کولی ستا څخه ساتنه وکړم نو نور کسان مې د مرستې لپاره دراستول، او کله ناکله مې هم ستا د خپلوانو په زړه کې دا خبره اچول چې ستا خوا ته درشي ترڅو کافر پیریان تاته نقصان و نه رسه وی، البته باید ووایم هیڅکله ونشو دا خیال ستا د کاکا او زبیر ذهن کې واچوم چې ستا څخه ساتنه وکړی! ځکه هغوی تل ستا په اړه فکر کو او ماته ضرورت نه وو دا فکر یې ذهن کې واچوم..

- د عمر تر اخیره خو نکیږی چې زه دی د یو چا شاته پټ شم ترڅو پیریان مې مړ نکړی!
شمویل- زما سره یو چاره شته!
- څه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمویل- خو منل او نه منل يې ستا په غاړه، که ویې مني نو ورته هیس پیری نقصان نشي رسه ولې او که قبول نکړی همدغه حال به دی وی.
په تلوار مي وويل: زما قبول دی..
زما په خبره هغه وخندل او ویې ویل: یو ځل خو وآوره چې څه وایم؟ بیا قبول کړه.!
- سمده.

شمویل- زه درته یو مولوی معرفي کوم ته هلته لاړشه او د هغه څخه د پیریانو د نیولو او هغوی سره د خبرو او نور شیانو په اړه معلومات زده کړه..
- یعني زه مولوی شم؟
شمویل- هو ... که مولوی شی نو پیریان جرعت نکوی درته نقصان ورسه وی.
- ستا په نظر زه مولوی کیدلی شم؟؟
شمویل- ضرور مولوی کیدلی شی خو یو شرط لری..!
- څه؟
شمویل- مونځ ... خپل مونځ به هیڅکله نه پریږدی دا چې دا کافر پیریان دومره پر تا زوره ور وه یو دلیل يې هم همدغه وو، چې ته د خدای د رحمت څخه نامیده وی! هیڅکله د خدای د رحمت څخه نامیده کیږه مه نامیده شیطان دی..

د هغه پدی اخیری خبره مي زیات خبری ذهن ته راغلل بیحده د پیریانو د نړی په اړه تلوسه شوه خو هغه کرار وويل: رابشي پوی به شې اوس لپاره زما خبری ذهن کې وساته..(هغه دا خبره وکړل او و لاړی د یو سړی اندی ته ودریدی او ویې ویل: دا هغه مولوی دی چې تاته به درس درکوی نوم يې ضیالحق حنفي دی *** دلته ژوند کوی راووین شوی زما خبری لیاده ونباسی طاها..

سر مي دروند شو او احساس مي کوی یو انرژی او قدرت مي لاندی خوا ته کش کوی..

سترګې مي چې خلاصې کړی شفخانه کې وم! تول خبری مي د شمویل یاد کې وه لدی چې خپل د ستونزی حل مي پیدا کړی وو بیحده خوشحال وم، غوښتل مي لځایه پاسیږم او ذوالفقار و زبیر ته تول حال ووایم خو یو آشنا غږ وويل: مه پاسیږه ..

د غږ خوا ته مي وکتل او سترګی مي په طاهر ولګیدی! په حیرت مي وويل: طاهر ..!

(c) ketabton.com: The Digital Library



طاهر- ښه يې؟
- هو ته دلته څه کوې؟ ذوالفقار چیرته دی؟
طاهر- ذوالفقار کاکا ولاړی کورته...
حیرت مي وکړو لدی چې زه دی په شفخانه کې اوسیږم او ذوالفقار دی کورته تللې وی؟
په ورختای مي وویل: خیرت خو وو؟ ادی ښه وه؟
طاهر- شکر خیرو خیرت دی ټول ښه دی.

غوښتل مي د طاهر څخه نور پوښتني هم وکړم چې د کوټي دروازه خلاصه شوه او زبیر دننه راغي د هغه پر لیدو بیحده خوشحاله شوم، د زبیر تندی تروش وو همدا چې ما ته رانږدی شو او ویې ویل: ډیر خر انسان يې..
د زبیر په راتلو طاهر د کوټي څخه ووتې، دا چې دومره عقل او شعور يې درلود د ربنتیا هم راته د احترام وړ وو د یو مشر ورور په صفت، زبیر ته مي نور د خبرو کولو اجازه ورنکړل او خپل ټول لیدلی حال مي ورته وویل...

زبیر- که ټول ستا خیال وهم یا هم هسي خوب وو بیا څه کوی؟
- هسي منفي خبری مه کوه دا دومره خبری زما د ذهن تخیل نشي اوسیدلي. ربنتیا تا ولي ماته وویل خر انسان؟!
زبیر- ما درته وویل راځه هغه مولوی ته لاړشو خو تا خر ویل نه باید د ذوالفقار سره مشوره وکړم، که نن يې مړ کړی وایي مشوره به دی په قبر کې د ذوالفقار سره کړی وایي...
- خو دومره بد هم نشو!
زبیر- څه؟
- همدا وهل خوړل! که نور نه ویې اول ځل يې راته فایده وکړل او پوی شوم چې ستونزه څه ده!

زبیر- یو بل فایده يې هم وکړل..!
- څه؟
زبیر- ستا پدی وهل خوړلو پلار او ذوالفقار دوی دی جنګ وکړو ..!
- ولي؟ د څه لپاره؟
زبیر- پلار دی د ذوالفقار ګریوان نیولي وو چې تا ماته اول ولي ونیول چې طاهرا باندی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیریان دی؟ او ما خپل زوی تاته سپارلي وو او داسې خلاصه بیځایه خبری کول(زما په کوږ نظر زبیر په خندا وویل: یعني مطلب ستا پلار غوښتل یې ټول ګناه د ذوالفقار په غاړه واچوی، ذوالفقار خو هم ته پیژنی یو دم عصبی شو او ستا د پلار سره لاس او ګریوان شو..

- وای وهل ډبول خو یې ونکړل؟
زبیر په هیجان وویل: اخ طاها نه ویې سم دم هندی فلم و غوږ شه درته قیصه وکړم، ذوالفقار خوله خلاصه کړه او ستا پلار ته یې زیات خبری وکړل د ټولو مخکې سپک سپانده کړو...

- وای ... بابا خو مې څه ونه ویل؟
زبیر- امم څه ونه ویل؟؟ فکر وکړه د ټولو مخکې ذوالفقار ته وویل بې ادب نا لایق.
- وای ذوالفقار څه وویل؟
زبیر د چوکې څخه پاسیدی او په هیجان باندی د ذوالفقار او د بابا پیښې شروع کړل او ویې ویل: ذوالفقار دیوال ته تکیه وهلې وه ستا پلار چې دا خبره ورته وړکړل د دیوال څخه یې تکیه واخیسته او ستا د پلار خواته په غوسه یو دوه ګامه نږدی شو چې ما په تلوار راکش کړو خو ذوالفقار ستا پلار ته وویل( زبیر پداسې حال کې چې کوښښ کوی د ذوالفقار د غږ تقلید وکړی وویل:

زبیر- که ته پلار وایې نو خپل زوی به دی داسې د کور څخه شړلې نه وایې، ددی لځایه چې اوس زما ګریوان ونیسې خپل ګریوان کې سر ښکته کړه او خپل غلطی وګوره..
- دا خبره خو یې ورته ښه کړی ... ښه ښه بیا بابا څه وویل؟
زبیر- ستا د پلار جواب ته موقع برابره نشوه ځکه ستا مور د زیات ژړا څخه بې هوښه شوه ذوالفقار هم ماته وویل هر نوی خبر چې وشو ماته خبر راکړه او ولاړی ستا پلار هم نیم ساعت شفخانه کې تاو راتاو شو آخیر ستا وړور ته یې زنګ ووهې او خپل ستا مور سره ولاړی...

- ما ذوالفقار ته تل ویل چې بابا داسې خبری کوی خو هغه ویل پروا نکوی پلار ددی..!
زړه مې غواړی دا ځل چې ووینم ورته ووایم پروا نکوی مشر وړور ددی..
زبیر په خندا وویل: بیا نو طاها جان پروا نکوی که ذوالفقار دی دوه دری غابنونه او لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پښې درمات کړې کاکا ددی...
- دا خبره خو ده که په ذوالفقار کنایه او طعنه ووهې هغه هم په مقابل کیدی په بوکس ووهې..

زبیر- ای رښتیا یو بل جالبه خبره لیاده مې ووتل ..
- څه؟
زبیر- ذوالفقار او ستا پلار خو هسې جنګ ونکړو جنګ پدی خبری راغې چې ډاکټر د عاجل اتاق کوم کې چې ته ویې د هغه څخه را ووت مورږ هم ددی فلمونو پشان ټول یې مخکې لاړو او پوښتنه مو کول چې زمورږ خر سنګه دی...؟
- خپله خر..
زبیر په خندا وویل: ډکټر هم خپل سر ددی بیعقلانو پشان وخوځه ویې او ویې ویل: ناروغ زیات وینه د لاسه ورکړی او په سر یې ضربه خوړلی که تر 24 ساعت په هوښ رانغی کما ته ځی...

په حیرت مې وویل: رښتیا همداسې وویل؟
زبیر- هو کله چې ډاکتر دا خبره وکړل ذوالفقار لدی چې هغه شپه یې ته مولوی ته نه ویی وری خپل ځان ملامت کوی او ویل یې زما د لاسه داسې وشو او ژړل یې، ذوالفقار چې په ژړا شو نو ستا اوښې څه نومیږی؟
- فرید..!
زبیر - هو همغه فرید ولاړی ترڅو ذوالفقار ته دلداری ورکړی او غیږ کې ونیسی ذوالفقار هم په غوسه ورته وویل: ورک کیږه زما د مخ څخه ضرورت نشته ته ماته دلداری راکړی..( زبیر په خندا وویل: یعنې باور کوی هغه وخت هغه لحظه چې دومره ورختا او ویریدلی وو چې پر تا خر کوم شئ ونشې، هغه حال کې مې غوښتل کینم او د زړه د خلاص وخاندم..

- بلا بلا زه مړ کیدم او تا زړه غوښتل وخاندی؟
زبیر- اوس خو نه یې مړ هسې هغه وخت مې یاد ته راغلو خندا مې راغله.
- تا هم وژړل؟
زبیر- بووووو په خوب کې زما ژړا وګوری.. او هو رښتیا ستا هغه د کاکا لور فرښته هغې هم ساندی وهل درپسې غلط نشم داسې سینه چاق عاشقه ددې..

(c) ketabton.com: The Digital Library



- بیځایه اپلاتي مه وایه اوس د ربنتیا تا ونه ژړل؟
زبیر- معلومداره ده چې ومې نه ژړل وی..
- ذوالفقار چې خپل په هغومره هیبت او دب دبه او کب کبه ژړلي نو ستا حال خو ما ته معلوم دی زبیر جوو..

زبیر- بلا ستا پشان خیرن پسی زه افسوس لا نکوم ژړل خو لری...
د طاهر په راتلو زبیر نور خپله مبارکه خوله بنده کړه، څو ورځې وروسته د هغه مولوي سره چې شمویل راته د ضیالحق په نوم معرفي کړی وو ملاقات مې وکړو، او هغه راته وخودل چې سنګه د پیریانو سره ارتباط ونیسم او سنګه د هغوی څخه ځان وژغورم د هغه څخه ما زیات شیان د پیریان د نړی په اړه زده او پوی شوم، او مجبور شوم خپل خینې عادت بدل کړم او یو د هغه څخه زما بې نمازی! ډیر ژر مې د ضیالحق څخه درسونه زده کړل

او ومې کړی شو هر هغه پیری چې پر حمله کوی راونیسم، کله چې پدی کار کې مې لیاقت زیات شو نو د پاچا پسی په ګرځیدو شوم! خو افسوس پیدا مې نکړو لکه ځمکه چې چودلې وی او دی پکې ننوتلې وی! د پوهنتون د خلاصیدو وروسته د زبیر په مرسته مې یو کور غوښتل کرایه کړم خو ذوالفقار اجازه رانکړل او اخیره هم پدی شرط چې د هغه سره باید شرکت کې کار وکړم او د کرایه لځایه کور واخلم او پیسی هم ذوالفقار راکړل ما د ذوالفقار د کور څخه ګډه وکړل.. بابا او ذوالقرنین کاکا دوی هم ښار ته راغلل، او د ټولو څخه جالب دا چې ذوالفقار راته د فهیم په اړه وویل

چې فهیم زما په دویم خور حسنا مئین شوی وو او ځکه یې غوښتل فرشته ماته مځکې مځکې کړی ترڅو بابا ده ته حسنا ورکړی خو زما په مخالفت، نامراده ولاړی خیرن موړ فرید ته د طیبې په ورکولو پښیمانه وو دوی بله هم غوښتل ..!
او خلاصه چې ژوند مې پر جوړیدو شو کور مې پیدا کړو کار مې درلود او د ټولو څخه مهم آرمتیا او سکون مې درلود.. ربنتیا هم خدای چې هر څه وغواړی همغه کیږی.. او بی له شکه نامیده او ناهیله شیطان دی... او مسلمانان تل د خدای رحمت ته باید امید ولری...

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ابلیس ناول د لومړی جلد پای...
لیکوال: خواجه زی...

زموږ د داسې ښایسته ناولونو لپاره زموږ تلګرام چینل جوین کړی..
https://t.me/pashtoonovels0

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**